# وختونه

(ناول)



سیده حسینه گل

Ketabton.com



Downloaded from: ketabton.com

# وختونه

سیده حسینه ګل

۱۳۹۴ ل کال

Downloaded from: ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحيم

## کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: وختونه

لیکواله: سیده حسینه گل

خپروندی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنگي څانگه

ویبپاڼه: www.melitahrik.com

کمپوزګر: سلیم ناښاد (nashad.saleem@gmail.com)

ډیزاینګر: ضیاء ساپی

پښتی ډیزاین: فیاض حمید

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۳۸)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

Downloaded from: ketabton.com

# تړون

د استاد اسمعیل یون او د هغهٔ د تحریك
په نوم چې د لروبر د پښتنو ...او د لوی
پوښتونستان د یو والي زېری دې شي ــ

سیده حسینه ګل

Downloaded from: ketabton.com

# ډالۍ

خپل دا ناول په ډېره مینه خپل پلار
استاد سید مظهرشاه کاکاخېل ته ډالۍ
کوم چې د فکر او د لاس تر سیوري مې
تګ کړی دی او په خپلو رڼاګانو یې
راته وختونه رڼا کړي دي۔

**سیده حسینه ګل**

Downloaded from: ketabton.com

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانی ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

Downloaded from: ketabton.com



# نور به څه ووایم؟

نور خو لیکلو او وئیلو ته څه شته هم نه ـ ولې چې هرڅه مې وختونه کړل ـ تاسو ته مې وړاندې کړل ــ خو دومره به بیا هم وئیل وي چې وختونه ناول لکه زما د وړمبي ناول ملکه یوه ژوندۍ کیسه ده ـ د ژوندو کردارونو سره ـ هیله لرم چې ستاسو به خوښ هم شي او لکه د ملکه به پرې خپلې درنې رائې ښکاره هم کړئ ــ د څه وخت نه مې ناول لیکلو ته پام شوی دی په دې خاطر چې پښتو کې په شته ناولونو کې زیات والی راشي او هغه که د معیار سره وي نو به ډېره ښه وي ـ نورې خبرې به په دې ناول تاسو کوی ځکه چې دا اوس ستاسودی ـ ما خپل کار تر دې ګڼلو خو یوه خبره بیا هم چې هر پښتون لیکوال ترخپله وسه خپلې ژبې ته کار کوي خو دغه کار بیا کتابي بڼه کې راښکاره کېدل یو لوی غم دی ــ ځکه چې تاسو په دې هرڅه پوهـ یئ چې دلته په پښتونخوا کې پښتو ژبې ته لاهاغه پام د واکمنو نه دی راګرځېدلی چې ترمخه یې پښتو کتابونه دولتي چارواکي چاپ او خپاره کړي ــ خو بره پښتونخوا ځنې د پښتو خوا خوږي لګیا دي او دا کار ترسره کوي ــ مونږ په دغه ټولو پښتنو ویاړ کوو چې پښتو نازوي ــ د پښتو ژبې لوی پوهاند استاد اسمعیل یون او د هغه د غورځنګ زلمي ټول د ستائینې وړ دي چې دې ګران کار ته یې بډې وهلې دي او پښتو ښائسته کوي هم او شته کوي یې هم ـــ دغه ناول به د دې پښتنو په ویاړ او مرستو ترتاسو درورسي کورونه یې ودان، خو مننه کوم د ځینو هاغو ملګرو چې قدم په قدم راسره په دې وختونو کې ملګري وو ــ په ملا به یې ټپولم او د لاسو به یې نیولم ــ د ټولو نه وړمبی د خپل ژوند د ملګري وارث خان نایاب یوه نړۍ مننه چې دې ناول ته یې په مینه لیکلو ته کښېنولم ـ د ساحل یوسفزي، مهراندېش، عبدالوحیدګران،

Downloaded from: ketabton.com



عبدالرحمان لاژوال او په تېره تېره د استاد فیض الوهاب فیض هم د زړه نه مننه چې ډاډ یې راسره وه ـــ د ګران لطیف شاه شاهدچې سترګې په لاره یې دی ـ د ګرانې وربمه عامر هم مننه چې وخت په وخت یې رانه ځان خبرساتلی دی د ناول حال یې رانه اخستی دی ـ د ملګري او ګران ورور حسېن عالم مندوخېل ذکر که ونه کړم دا به یو لوی زیاتی وي چې وخت په وخت یې خپلې مرستې رارسولې دي ـــ د مشر امین الله داودزي هم مننه چې همت او حوصله راکوي ـــ

او په آخر کې د ګران ملګري سلیم ناشاد چې د دې کتاب کمپوزنګ یې په ډېر اخلاص ترسره کړو ـــ او ستاسو د ټولو چې دا کتاب مو مخې ته دی۔ خدای دې د لروبر پښتانه د پښتو په حقونو، مینه او غوښتنو پوهـ او ښائسته لري ـــ د سرلوړۍ دعاګانې به مې درسره وي۔

د ملګري قیصراپریدي، ګران عبدالرحمان لژوال او د خپل کشر فریداحمدتسکین یو جهان مننه چې زما د اثارو مخ ته راوړلو کښې یې زماډاډګېرنه کړې ده۔

په درنښت

سیده حسینه ګل

۸م اګست ۲۰۱۵ء

مردان، مقبوضه پښتونخوا

Downloaded from: ketabton.com



زېبـو خپـل زوی مشـال پـه دواړه مخـه بـې واره ښـکلوو لکـه د لېونـو يـې ترېنـه خپلې لېچـې بيـا بيـا لـه دې ويـرې تـاوؤلې چـې هسـې نـه د هغـې د ژونـد د دې لـوی ګټلـي داؤ پـه خوشحالۍ ځوك د هغې يك يو نيـازبين بچی د هغې نه جدا نـه کړي ـ د مشال په سر د واده تړلې سهرې د هغې د ټول ژوند د هيلو غوټۍ هم نن د پرانسـتو ګلونـو پـه ځير د هغـې د ژونـد پـه دښـتو د خوشحالو سپرلي راخـواره کـړي وو ـ ـ ـ ـ مشـال هم د خپلـې مـور د ژوند په دې لويه خوشحالۍ نن په جامو کـې نـه ځايېدو ـ د هغـه پـه سترګو کې هم د جذباتو سمندر لکه د ډکې پيالۍ د هغـه تـر لېمـو راغلی وه ــــ د خپلې مور يوې يوې سختې، صبر، زغم هغه هم د ژوند په هر قدم ډېر لړزولی وه خو څه يې کـولی نـه شـو، هغـه تـه د مور د ژوند د ټولو ستړياګانو سفر کړی په کړی رامخـې تـه شو ـ د نن ورځې په هيله د هغه د مور د عمرونو، سفر ـ ـ ـ خو په سر تړلې د واده سـهرې يـې د وجـود او زړه دننـه د مـاتې ګـوډې کېفيـات پـه مخ د دې سهرې ګل ورينو لړونو پټ او د زمـانې د سـترګو نـه پنـاه اوسـاتل ـ د مـور د سـينې سـره ډېـره لحظـه جخـت او رانسـکورې ولاړې د هغـه د پښـو تلـي ميـږي ميـږي کـړل ـ خـو نـن هغـه د دې ستړياؤ پروا نـه سـاتله ـ د مشـال ډېـر همځولي دوسـتان هـم د هغـه ترخنګ ولاړ ښه ستړي شوي وو نن هره سترګه د خوشحالۍ په دې موقع نوژنه وه، لونـده وه، وختونـو او زمـانو د دې کـورنۍ انقـلاب ليدلی وه ـ د يوې لرې شـتمنې کـورنۍ پـه لويـه ميېنـه پـاتې دا يـك يواځينۍ نخښه د دې انقلاباتو يـوه داسـې حوالـه ده چـې د زمـانې

Downloaded from: ketabton.com



او عمرونو د پېښـو، سـختیو، غمونـو او خوشـحالیو تـاریخ ورسره ګنډلی وه ـ دا بوټي چې د وخت او حالاتو ډېرو تـاودو سړو بـادونو، خاورو دوړو، طوفانونو او سیلو ډېر زورلی مات رامات کړی وه ـ خو د خپل استقامت او د بقا مینې ژوندی ساتلی وه ـ د خپله ځانـه یې ډېر خزانونه د دوام او بقا پـه ډانـګ لـرې شړلي وو او د ژونـد د یو داسې سپرلي لپاره یې د دې بوټي نه لمحه لمحه خپل ځان لـه د سپېلنو لوخړه کړی وه ـ چې نن د هغې د ژوند د هغـې د مینـې او د بقاء د یو تل عمري سپرلي بڼه یې خپله کـړې وه د هغـې ترڅنګ یې د ګلونو او خوشبویو څادر راخور کړی وه .

"بس زېبو! هلك دې ستړی کړو..."

او په دې غږ چې زېبو د مشـال د مـخ نـه خپـل مـخ اخـوا وګرځولو ـ ـ نـو اقبـال یـې ترڅنـګ ولاړ ولیـدو او بیـا یـې ورو غونـدې د خپـل وجود ټول حصار په مزه مزه د مشال نه راټول کړو ــــ مشـال لکـه د ماشوم اوس وړې وړې سلګۍ وهلې ـــــ د ډهول سُرنا غږونـه هـم اوس لږ غلي شوي وو ـ د مشـال پـه ډولـۍ پسـې ډېـر درونـد جنـج راغلی وه ـ د رنګ رنګ لباسونو راخور سپرلي دنیـا حېرانـه کـړې وه ـ پېغلې د کړو سینګارونو په منډه کې د هرچا نه ډېرې وړانـدې وې ـ د مشـال د واده خوشـحالي هـر کـس خپلـه خوشـحالي ګڼلـه ـ اقبال هم د خپل زوي د ژوند د نوي سفر د هر چا اُمبارکۍ اخسـتې ــ خو خدای خبر ولې په هر ځل، هرکس تـه پـه دې وېنا ـ ـ "مننـه ستا دې امبارك شي ـ ـ" لږ کچه او ملامتـه شوــ خو زر بـه یې د ملامتیا احساس د ځانه اخوا کړوـــ د مېلمنو پـه مېلمسـتیا کـې به یې ځان بوخت کړو ـ اوس د ډولـۍ د اوچتولـو مرحلـه ده ـ خلکـو کـه د مشـال د ځوانـۍ صفتونه کول نو د سپوږمـۍ د حسن او ښکلا خبـرې هـم کېـدلې پـه زمکـه د دې سـپوږمـۍ ننـداري تـه نـن ډېـر

Downloaded from: ketabton.com



مخلوق راغونډ شوی وه ـ د سپوږمۍ همځولو هم د سپوږمۍ نه ګېرچاپېر د خپلو رنګینو او رڼاګانو شپول جوړ کړی وه ـــ او په خپلو شوخو اداګانو يې په جنج کې د راغلیو زلمیو زړونه وړل ـ د ډېرو پېغلو او زلمو سترګې به د څه وخت لپاره د یو بل سره خوږې هم شوې چې زړونو ته به يې د یوې نوې ادا ست کړی وه ـ ـ ـ دواړه به د لږ وخت لپاره وارخطا هم شول لکه چې د ځوانۍ او پېغلتوب څه کاواکه جذبې ناڅاپي د زړه په سر یوه کاسیره چونګاره لګولې وي ـــ خو د ټولو خلکو پام ټول په ټوله یا خو زېبو ته وه او یا يې د هغې د تېر ژوند داستان یادولو ـــــ "دې خوارې د دې ورځې ډېر لوی ارمان کړی وه ـــــ" یوې ښځې چې به زېبو په سرو سترګو ژړغونې ولیده نو د بلې ښځې سره به يې غلې شان پس پسی وکړو ـــ د ډهول اواز یو ځل بیا اوچت شو ـــ د غوړونو پردې يې شلولې ـــ اوس سپوږمۍ د کالو پټرو نه ډکه په سره جوړه کې غونډه راغونډه د حیا نه خولې خولې د مشال ژوند ته او د زېبو کور ته روانه وه ـــ په ورو ورو او مېډه مېډه تګ او دقدم د اوچتولو او بېدلو ادا هم لکه چې ډېر زړونه په درزا کول ـ د پانزېبو یو لېوني شرنګ سره چې سپوږمۍ د خپلو دواړو اوښو په مرسته پل واخستو نو دغه وخت او لمحې یو ځل بیا د زېبو د جذباتو دنیا کښې د مستۍ ډمې په ګډا کړې ـــ اوس دا سپرلی د هغې د کور او ژوند انګڼ ته د ډېرو ګلونو، رنګونو او خوشحالو سره روان وه ـ ـ ـ ـ الا ـ ـ الا ـ ـ الا ـ ـ ـ د مستو زلمو او پېغلو په تاودو تاودو الاګانو کې د سپوږمۍ د ارمانونو غوټۍ هم ګل شوی ـ زېبو د مشال د ناوې سره د سمبال کړي ګاډي په ورستۍ برخه کې په پسته بخملي چوکۍ د حیا نه راغونډه ناسته وه ـــ ګېر چاپېره یوخوا بل خوا د سرو ګلابونو او سپینو رامبېلو خوشبویانو ترې

Downloaded from: ketabton.com



مست اتڼونه کول کله به ورته په غوږ کې سُور ګلاب څه خبره وکړه ـــــ او کله به سپین رامبېل مسکۍ کړه ـ د حیا نه به نوره هم راټوله شوه ـ خو په څنګ کې ناستې زېبو داسې کله پرېښودله ـ د چپیانو بارانونه یې پرې راښکې کړي وو ـ د بنارسۍ پلو به یې ترېنه بیا بیا اخوا کولو ـــ ماشاء الله ... او بیا به یې پرې د نظره اوتوکل ـ د ګاډي په وړاندې چوکۍ ناست مشال هم لکه د بل مشال ښکارېدو ـ د زېبو د ژوند تیاره انګڼ که یو خواته مشال په خپله رڼا ځلولی وه ـ نو بل خوا ته د سپوږمۍ د مخ پلوشو د دواړو د ژوند ټولې تیارې روښانه کړې وې ـ زېبو هم اوس د خپل ژوند نه د تیارو څادر لرې ګوزار کړی وه ـ اوس یې د غبرګو رڼاګانو په لور خپل سفر د نوي سره پېل کړی وه ـ خو د ګاډي د پایو په غږ به کله کله د هغې د خیال پایه هم په چورلکونو شوه ـــــ زېبو چې هاغه ژوندنه یادول غوښتل خو د دې باوجود به هغه د تېر ژوند په ګوټ پېرونو سترې سر وهلی بروهلی روانه شوه ـــــ د هغې د فکر پایه نه ودرېده ـــ او هغه ډېره لرې لاړه ـــ ډېره لرې ....!!!!!

***

Downloaded from: ketabton.com



بهادر شاه د چنار کلي یو شته من کس وه چې د پلار نه ورته د دولت ګټلو یو داسې میراث پاتې وه چې د سیمې خلکو ورته په ښه سترګه نه کتل، خو د چنار کلي غربت او د اولس ستونځو یې هر بنده د بهادر شاه موتازه کړی وه ـــــ د هغه دهنده د سود وه او دې وتلي سودګر د خپل عقل او ځیرکتیا په اساس په دې دهنده کې د پلار نه هم بری وړلی وه ـ په کاروباري معاملو کې به یې د خپلوو او رشتو هیڅ لحاظ نه ساتلو ـ خلکو به وئیل چې پلار یې ډېر ښه سړی وه په سلو (۱۰۰) پسې به یې لس نفع اخسته خو بهادرشاه د خپل منافعې شرح سېوا ساتلې وه ـ او دا به یې وئیل چې په لږه ګټه خپله سرمایه ګېرول د عقل کار نه دی ــــ" د چنار کلي خلکو ډېر د غربت ژوند تېرولو ـ په کلي کې د وچو غرونو او شاړو مېرو نه پرته بل څه نه وو د استوګنو د امدن وسیلې یې د نشت برابر وې ، اکثرو کورونو کې به زنانو چرګ چرګوړی یا ګډې بیزې ساتلې وې چې د کور ګوزاره به پرې روانه وه ـ ډېرو خلکو خو به دغه ګډې بیزې هم د بهادرشاه نه د سود په اخستو پېسو اخستلې وې ـ او چې د رقم په ادا کولو کې به څومره وخت اوږېدو د دې خوارانو د شپې خوبونه به ورکېدل ـ ولې چې د میاشت په سر به د بهادرشاه نوکر چې د پلار په نیکه نه د هغه په کوټو کې

Downloaded from: ketabton.com



وسپدل رفیقی به د دې مجبورو خلکو په سر ولاړ وه "بچی یې راکړه، سر دې درسره وي ـــــ" او د رفیقي په دې تللې خبره به په دې خوارانو یخې خولې راغلې ـ کله کله خو به د پېسو په سر د سود ادا کول هم ګران شو ـ او لږ وخت پس به دومره سېوا شو چې سر او سود به یو شو ـ داسې حالاتو کې به د ضمانت په توګه د تورسرو د ګورکفن لپاره اېښی هاغه کالی پتری به د بهادرشاه سره پاتې شو. بهادرشاه ته د خپل پلار نه یوه لویه حوېلۍ پاتې وه ـ چې د لرغوني فن د تعمیر خدوخال یې د دې حوېلۍ د وسپدونکو ډېرې خاطري او داستانونه په خپله سینه کې خوندي ساتلي وو. خو د حوېلۍ دنګو دنګو کوټو، دېوالونو او دالانونو د وخت د لاسه د کړو وړو بلو او چبوترو نن هم د خپل دور د خالق قادرشاه د ژوند او انجام داستان تربهادرشاه رارسولی وه ـ هاغه تېر وخت ډېر غلی تېر شوی وه ـ ډېر رازونه یې لرل ـــــ خو اوس په دې حوېلۍ د بهادرشاه واکمني وه ـــــ دې دور هم د یوې یوې لحظې لرلي یاداښتونه، رازونه او ډېر درانه هم هاغه رنګ په خپله سینه کې ساتل ـ ډېر خلك د دې حوېلۍ په رازونو خبر وو خو د بهادرشاه د دولت د قهر او د جبر لاس د وخت په خله لکه د ظالم حاکم خپله پنجه کلکه لګولې وه ـ او داسې له ویرې ډېر رازونه د خلکو په زړونو او سینو کې خوندي پاتې شوي ـ د وخت واګې اوس د بهادرشاه په لاس راغلې وې ـ د تندي ځوانۍ په چابك اس په مستۍ لکه په هوا روان دا شهزاده د ډېرو پېغلو د خوبونو شهزاده هم وو خو د هغه دنیا بدله وه ـــ د درېو کشرانو خوېندو یك یو نیازبین ورور چې د پلار نه پس په دې حوېلۍ کې د قهر نه ډك د هغه غږ هم اورېدو او د هغه غضبناکه څهره یې هم لیدله ـــ د حوېلۍ ټول دېوالونه به د هغه په قهرېدلي غږ رانسکورېدل ـ په

Downloaded from: ketabton.com



خوېندو کې يې پري د ټولو نه مشره خور وه چې په بهادرشاه پسې دوه کاله پس پېدا شوې وه ـ دوېمه خور يې تاج بي بي وه چې څلور کاله ترې کشره وه او د ټولو کشره سنګينه وه ـ د پري او تاج بي بي پېغلتوبونه خو هم په درينجکو وو د بهادرشاه قهرېدلې جوټې ترېنه وينې څښلې وې او چې سرونه يې راوچت کړي وو نو د دې حوېلۍ دننه د اسيرۍ ژوند يې خپله برخه ګڼلې وه ـــــ بهادرشاه بـه وئيـل د پېغلو کانړې بوټۍ غل وي، چې په کور دننهه ناستې وې نو د پـلار او ورور زوړنه پـه ارام وي ـ پـري او تـاج بي بي خو يـې د اخونې[1] د کوره هم زر په کور کړې وې ـــــ په هاغه ورځ خو په دې دواړو سم قيامت تېر شوی وه چې بهادرشاه د اخونې د کـوره پـه سختۍ منع کړې ـــ يو غړمب يې کړو ـــ بس نور مو سپپارې کـور کـې وايـۍ ـ ـ ـ ـ!!! د پري زړه غوښتل چې د خپل ګـران لالا منـت وکـړي څکـه چـې د قرآن شريف ختم تـه يـې څو سيپارې پاتې وې خوـ ـ ـ ـ د بهادرشـاه فېصله بـه د کـاڼي کربڼـه وه ـ او داسې پـري او تـاج بـي بـي دواړه پـه کور شوې ـ اوس د جينکو په حوېلۍ کـې خپلـه خپلـه دنيـا وه ـ چـې بهادرشاه به کور وه نو په حوېلۍ به د مـرګ چپتيـا خـوره وه هـر چـا به د خپل زړه درزا په زوره زوره اورېده ـ په سينو کـې وريتـه وريتـه ارمـانونو بـه يـو بـل سره خلې ورکـړې وې ـــ د حوېلۍ دنګـو دنګـو کوټو او دېوالونو به دا تور سرې لاويرولې ـ ـ ـ خو په تاج بي بي کـې يو داسې طاقت موجود وه چې د بهادرشاه قهر ته به يې لکه د ډهال کار کولو ـ ـ ـ لړه به وويرېده ـ ـ ـ خو چې بهادرشـاه بـه د کـوره ووتلـو نو ټوله ويره به يې په سيند لاهو کـړه ـ پـري او سـنګينه خـو بـه چرتـه لرې په يو کُنج کې په ويره ناستې وې ـ ـ ـ!! جينکۍ د ورکوټوالي د

---

[1]: اخونه: د سيپارې استاذه

Downloaded from: ketabton.com



دور نه د پېغلتوب تر دوره رسېدلې وې خو د قهرژن ورور د غمه يې د خوبونو دنيا هم د حقيقي دنيا نه بدله نه وه ــ پري ډېره خيالولې وه ـ د خپلې جامې لباس به يې ډېر خيال ساتلو۔ د نوو نوو رنګينو لوپټو، سوچه جامو ډېره شوقينه وه ـ زړو يې د اخونې د کور د سيپارې د سبق يوه همځولې وه چې د زړه خبرې به يې ورسره کولې ـ او چې ځنګه به يې د سيپارې ذوت کړی سبق خپلې مشرې اخونې ته واورولو او د هغې له خوا به ورته رخصتي اعلان شوه نو دواړه به د اخونې د کور په يو کُنج کې پټې کېناستې ـ پري او تاج بي بي چې بهادرشاه د اخونې د کور نه په کور کړې نو په پري لکه چې سپينه ورځ توره تياره شوه ـ د زړو مخ به يې له خياله نه اخوا کېدو ـ په وجود به يې ميږي اخته وو۔ خو د حوېلۍ د درشل نه بهر يې قدم نه شو کېښودی ــ د بهر دنيا نه خو خپل ورور داسې ويرولې وې چې د اخونې کره به تلې نو هم به يې چرته يوخوا بل خوا نه شو کتلی هر ځائی به ورته د بهادرشاه د قهرېدلو سترګو پېرې ولاړې وې ـ تاج بي بي ته به د اخونې د کور د سيپارې د سبق همځولو د بهر د کلي او چم ډېرې خبرې کولې ۔۔۔ اوکله چې به د دې خبرورنګ دکچه کچه زلموداداګانو اواشارو په ذکر رنګين شو نو ډېرو پېغلو به خپلې سيپارې قط کړې په تاخونو کې اېښودې وې ۔۔۔ او د يو بل سره د راز و نياز يوه ښائسته دنيا به يې جوړه کړې وه ـــ کله کله به يوې پېغلې د رفيقي دځوانۍ صفتونه هم کول ــ او د رفيقي په ذکر به خدای خبر ولې د تاج بي بي په اننګو د ګلونو غازه خوره شوه ــ په مخ به يې دواړه لاسونه کېښودل او د ټولو همځولو شوخيانواو تنګولو به د هغې د زړه دنيا رنګينه کړه ـــ د تاج بي بي زړه به غوښتل چې داټولې همځولې دې هغه د رفيق په نوم تنګوي ۔۔۔ خوبيا به يو دم د هغې د مخ سور رنګ تک

Downloaded from: ketabton.com



زیړ وتښتېدو . . . زړه به یې په زوره زوره په درزېدوشو . . . د بهادرشاه ویرې به واخسته داسې به یې ګڼل لکه چې چرته مخامخ په یو ګوټ کې بهادرشاه قهرېدلی ولاړدی ـ درفیق دنوم ټکی یې دتاج بي بي په څهره لوستلی و ي . هغې به د ویرې نه د جینکو د مینځ نه راوداننګل خپله برقع به یې راواخسته ـ خو اوس د تاج بي بي دنیا هم پیکه شوې ده اودپري نه هم خپله درازو نیازهمځولې . . . زروپاتې وه ـ

***

Downloaded from: ketabton.com



سکندرشاه د بهادرشاه تربور وه چې څو واره یې د مشرانو په خله د بهادرشاه نه د تاج بي بي لاس غوښتی وه . خو د بهادرشاه د وخت د سره د خپلو تربورانو سره نه لګېده ـــ وئیل به یې چې د دوي خپلوي کول غرض نه دی ـــ مطلب یې زما مال دولت دی ـــ!! اوس خو یې د تاج بي بي د لاس غوښتلو په خبره سکندرشاه سره ټوله غم ښادي، تګ راتګ او د حجرې جومات ناسته ولاړه هم پرېښې وه . تاج بي بي هم د سکندرشاه خوبونه لیدلي وو خو د بهادرشاه د پرې کړي انکار د هغې نه د همېشه لپاره د دې نوم ارمان شوکولی وه ـــ د دواړو کورنۍ په اصل نسب، په وینه هډوکو یو وې خو بهادرشاه د سود دهنده کوله او سکندرشاه د حقې حلالې ګټې روزۍ ته ناست وه . د دوکان په لړه ګټه کې ورته خدای ډېر لوی برکت اچولی وه ـــ د بهادرشاه کره په خپلوۍ خو یې د مور زړه پوټی هم نه وه خو د هغه دا خیال وه چې جینکۍ د مور پلار نه بې اسرې ورور ته پاتې دي چې په خپل وخت د خپلو کورونو شي . خو د بهادرشاه سپي لرې لرې غاپېدل ـــ "زه خپله خور د لوږو تندو نه شم وژلی ـــ زما خوېندې لاوړې ماشومانې دي ـــ!! دا خو د بهادرشاه جرګې ته هغه سکوټ جواب وه چې د تاج بي بي د غوښتنې لپاره بهادرشاه ته د سکندرشاه د اړخه رالېږلې شوې وه ـــ

د جرګې د تش لاس ستنېدو غم د تاج بي بي په زړه لکه چې د صبر تیګه کېښوده ـــ هغې ته نن خپل مړه مور پلار بې شانه رایادېدل ـــ په کور کې بل داسې څوك هم نه وو چې هغې ورته د زړه حال وئیلی شو. بس دوه خوېندې یې لرلې چې د دې لویې

Downloaded from: ketabton.com



حوېلۍ په کارونو کې به بوختې وې ... د بهادرشاه د واده مخه هم نه خلاصېده ـ ځکه چې بهادرشاه که څه ته کار وئیلی وه نو د پېسو گټل وو د ژوند او د اولس غم ښادي خو یې د سره په کتاب کې نه وو د کور یو بامبیر یې خپلو خوېندو ته داسې په غاړه کړی وه چې عاجزانو نه یې د خپل ژوند او کور فکر اخستې وه ـ سنگینه هرڅو که د ټولو کشره وه خو د کور په کارونو کې ډېره تکړه وه ـ اخلی پخلی، جامې وینځل پاکي ستهرائي به یې په چپه خله کول ــــ خبرې به یې ډېرې نه کولې ـ خدای خبر ولې چې گران لالا به د کور په درشل راښکاره شو نو په هغې به د ورور سهم سم ډېر درونـد ولگېدو ـ ژبه به یې د ډېر هیبت نه ترټړې شوه ـ هواره خبره کول به ورته گران شو ــ او په شنه منډه به یو گوټ کې چرته پټه شوه ـ کله کله به د دې هیبت نه دومره وارخطا شوه چې سم دم قدم به یې یو په بله کېدو ــــ کله به په زمکه پړمخې راگوزار هم شوه ــ د تاج بي بي دا خیال وه چې په سنگینې چا کوډې کړې دي ـــــ!! چې لږه به سمه شوه نو په کور کې به یې په زوره ځان له کار پیدا کولو ـ د لویې حوېلۍ ټولې کوټې به د سنگینې د لاسه لکه د شیشې پړقېدې، د کچه خاورې په گړوبې چې به هغې د ټولو کوټو دننه تلې گړوبي کړل نو د کچه خاورې مینه ناکې خوشبوئۍ به لکه د خپلې مور په غېږه کې واخسته، هغې به اوږدې اوږدې ساگانې راښکلې، د لاس د منگلو نه ترخنگلو د ټینگ خاورین کرښې کرښې رارَوان گړوبی به یې بیابیا بوئیولو ـــــ دې خوشبوئۍ به هغې ته ډېر خوند ورکولو ـ بیا به یې د گران لالا په کوټه کې د هغه د کټ سره خوا کې په پروت د لرگي په لوی ټول د هغه د فرېم کړې عکس ترخنگ د سرو گلابونو ـــــ او سپینو رامبېلونو ډېر گلونه لړۍ لړۍ کېښودل ـ د کوټې ټولې دوړې خاورې به یې اوڅنډلې ــ په کټ به

Downloaded from: ketabton.com



یې ورته ګل کړی ځادر برابر هوار کړو ـــ د سور شنیل بالښت به یې ډېر په هنر کټ کې کېښودو ـ په قلاره به یې د دروازې تمبې راواړولې . او کله کله به د ګران لالا د واده ارمان غلې غلې په زمزمه کړه . اوربل مې ډمه خوروي په ولونه ولونه، وهي راته خالونه، واده زما د ورور دی .

د حویلۍ په لویه سینه د دنګو دنګو کوټو او دالانونو یو بل سره تړلې لړۍ به د خلکو پام ځان ته راګرځولو ـ د دیار د مضبوط لرګي او سرو پخو خښتو نه جوړه حویلۍ لکه چې د پخواني باچا محل وه . د هرې کوټې د دروازې په څنګ کې لګېدلې کړکۍ د سرو شنو او نورو رنګینه شیشو نه په داسې اعلی طرز او شکل تراشلې شوې د کړکیو په تمبو کې ځائی شوې وې لکه چې چا ماهر جوهري په خپل ټول مهارت د کاڼو سینه تراشلي وي ــــ او د ښائسته غمیو جوڅه یې ورکړې وي . د حویلۍ د ټولو کوټو دننه دغه رنګینه شیشو د تیاره په وجود خپلې رڼاګانې داسې شیندلې وې . لکه چې شیش محل وي . په لوی دالان کې یوسر ته به د تاج بی بی د ساتلي طوطي پنجره راځوړنده وه بل سر ته د پري د نازولې مېنا ـــ د تاج بي بي او پري د ساتلو مرغیو طوطي او مېنا به په ښائسته پنجرو کې د سوز سندرې وئیلې . داسې ښکارېده لکه چې د دې حویلۍ د قېدوبند په دې ژوند کې د تاج بي بي او پري یك یواځینې همرازې دا مرغۍ وي ـ تاج بي بي او پري به د خپل زړه ټول حالونه دغه طوطي او مېنا ته وئیل دواړه به ډېر ساعت د پنجرو سره ناستې وې ـــ تاج بي بي ته خو دا هم نه وه معلومه چې د سکندرشاه د خپلوۍ نه د انکار نه پس تاج بي بي خپل زړه د دې حویلۍ نوکر (رفیق) ته پټ په پټه سپارلی وه . د ا هسې د هغې یو خیال وه ـ یو ارمان . ګنې د دې نه ګېرچاپېره خو

Downloaded from: ketabton.com



څه د روایاتو دنګ دېوالونه ولاړ وو. او څه د بهادرشاه د قهر او غضب څهره. بس دا خو په ځان د هاغه ورځې نه پوې شوې وه کله چې دا د اخونې د کور نه په کور کېده ـــ مانښام په توره خړه چې په لویه برقع کې ولول نغښتې په مړو مړو ماتو قدمونو کور ته راروانه وه ـــ په تهوله لاره یې یوخوا بل خوا کتل په دې اسره چې یو ښائسته ځوان اووینې ـــ او پټ یې د خپلو خیالونو په دنیا کې د ځان سره کړې ـــ هغه به نن په انه بهانه په لاره ښه نیولې شوه ـــ خو نن تهولې لارې کوڅې داسې پاکې وې لکه په نوم انسان چې پرې نه وي تېر شوی. او بیا چې کله هغې د خپلې حویلۍ په درشل خپل قدم کېښوو نو ـــ یو نوم .... یو احساس دلته راګېره کړه ـــ هغې په وړمبي ځل د رفیقي نوم په خله لکه د خوږې ګولۍ واړولو راواړلو ـــ او بیا چې په دغه مانښام هغه د کوټې بلۍ ته وروختته نو لرې ډېر لرې یې رفیقی په نظر شو. هغې رفیقی په وړمبي ځل د کوټې د بام نه مخامخ په لاره راروان ګړندی ګړندی لیدو. د هغه په دې چال د تاج بي بي زړه په وړمبي ځل په زوره زوره ودرزېدو. په سپین پرتوګ او بوسکي رنګه قمیص کې ورته رفیقی د خپل خیال د جانان په څیر ښکاره شو. خو د تاج بي بي نه دا هېر وو چې د رفیقي حېثیت خو په دې حوېلۍ کې د یو نوکر دی ـــ نوکر هم داسې چې د بهادرشاه ورکړو حدونو او کرښو رفیقی چرته د هغه دروازې ته نه وه راپرېښی. هر سوال جواب او خبره اتره به یې د دروازې نه بهر د بهادرشاه سره وه ـــ د دومره لویې فاصلې باوجود رفیقی نن تاج بي بي ته ډېر نزدې ښکارېدو. ـــ هسې خو د رفیقي پلار نیکه د دوي په کوټو کې پاتې کېدل خو د رفیقي په رنګ اوقواره کې یو داسې زړه راښکون وه چې د کلي ډېرو پېغلو به یې په ګودرونو او تنورونو خبرې کولې ـــ د تاج بي بي د اخونې

Downloaded from: ketabton.com



د کور د سپیارو د سبق همځولو به هم د رفیقي ذکر کولو ـــ او داسې تاج بي بي دې نوم او قوارې پټ په پټه ځان له راښکلې وه ـــ او نن یې چې ځانګې ځانګې راروان رفیقی د نظره تېر کړو نو په خپل انتخاب د ځان سره بې خرته مسکۍ شوه ـ رفیقی هم د تاج بي بي د خوږ نظر په پېغام رسېدلی وه ـ خو د پېړو پېړو نه چې وخت کومه طبقاتي کرښه د دواړ تر مینځه راښکلې وه نو داسې ارمان ته په زړه کې ځائی ورکول هم د دې کرښې نه پښه اړول وو ـ رفیقی په دې حقیقت پوهېدو ـ هغه د ډېرې ویرې د لاسه د تاج بي بي نوم د خپل زړه د تختۍ نه د همېشه لپاره وران کړو ـ خو تاج بي بي دا نوم د خپل زړه په تختۍ داسې پوخ اولیکلو چې په هیڅ دستور نه ورانېدو ـ اوس به هغه د خپل ساتلي طوطي د پنجرې سره بیا بیا کېناسته ـــ او د خپل ساتلي طوطي په ژبه به یې دغه نوم ـ ـ ـ پخولو ـ تاج بي بي او پري دواړه د ډېرو ویښو زړونو مېرمنې وې ـ د خپلو جذباتو ړندو اسپو به هر وخت په ترپکو کړې وې ـ د تورې شپې توره سینه به یې د خپلو احساساتو په توده شپېلۍ ورو ورو زمزمه کوله ـ د حوېلۍ قبلې غاړې ته د شنو ښائسته شګو په لویه دونکاچه د هرچا نه بېله ناسته نن تاج بي بي چې د سپین ململ رومال یې ډېر په مینه ګل کولو ـ نو پټ په زړه کې دننه یې د سندروبار شؤو اوښانو د جذبو جرسونه ټنګول ـــــ هغې یو نوم بیا بیا د ځان سره تکرارولو ـ تهاووایه رفیق جان ـ ـ ـ ته اووایه رفیق جان ـــ

***

Downloaded from: ketabton.com



سکندرشاه خپل کور اباد کړی وه . جماله یې د ژوند ملګرې شوې وه جمالې د ټول کور سره سره د سکندر شاه ژوند په خپله مینه داسې راټول کړی وه چې د سکندرشاه نه اوس د تاج بي بي د لاس د نه ورکولو احساس ترډېره حده لرې شوی وه . خو کله کله به د دې جینکو د پېغلتوب او یواځې توب فکر ګډوډ کړو. سکندرشاه جمالې ته د خپل زړه ټول حال ټکی په ټکی وئیلی وه . او د جمالې زړه به هم په دې جینکو ډېر سوزېدو. خو د وخت او حالاتو د کبله هر سړی لګیا وي خپل غم شړي ... د شپې چې به ناوخته د حجرې نه سکندرشاه کور ته راننوتو نو په جمالې به اختر شو ولې چې هغې به هم ټوله ورځ د سکندرشاه په طمع تېره کړې وه . په رڼا ماښام به سکندرشاه د دوکان نه راغلی وه خو څه ساعت د حجرې ناسته د هغه نشه وه د چم ګاونډ د ښې بدې نه به د حجرې ناستېخبرولو. د کلي د غم ښادۍ نه خو به د لویبازار د دوکان ناستې خبر کړی وه ـــــ د مشرانو خوږې خوږې د پخوپخو تجربوخبرې به یې په ډېر غور سره اورېدې ... د مشرانو د تګ نه پس به د زلمو د ټوقو ټقالو دور شروع شو. د شنو چائو څښلو به دا خوندره ناسته لاښکلې کړه ــ ډېرو مشرانو به د چیلم شغلکولو. چې د هغوي د ناستې په وخت به چیلمد کټونوترمینځه په حرکت

Downloaded from: ketabton.com



وه ــ د کتهونو اوږد قطار کې به دا نازولی چیلم په ډېر ناز تر تهولو رسولی شو. خو د تماکو رنګینه د کناویز جوړه کځوره د بهادرشاه او سکندرشاه د پلرونو دوختونوراسې د حجرې د لویې کوتهې په سرکې د اچولي کټ د پښې په برخه رسېدلې وه . د دې کځوړې نه یوخوا بل خوا د رېښمو زونډو به د هرچا پام ځان ته راګرځولو او د ماحول رنګ به یې هم شوخولو. هسې خو په حجره کې د ځوانانو د وخت تېرولو لپاره منګی او رباب هم پراته وو خو اکثر به د مشرانو د خلې خبرې دومره خوږې او په زړه پورې وې چې دا دور به اختتام ته رسېدو نو د رباب او منګي وخت به نه وه ــــ سکندرشاه چې به د خپل کور د دروازې زنځیر وروستو او د تمبو پورې کېدو غږ به د جمالې تر غوږو شو هغه به د حیا نه راتهوله شوه ــــ په شنه منډه به کوتهې ته لاړه . یو سلایې رانجه به یې نوې په سترګو کې واچول په شونډو به یې غازه ومخله، په دواړو لاسو د سرو شنو بنګړو شونډې به هم پرانسنتلی شوی د بنګړو د شړنګ سندرو به د هغې زړه په چورلکونو کړو ــــ او بیا چې به سکندرشاه ځنګه د کور انګڼ ته راننوتو نو د جمالې سره حنائي لاسونه به د نرۍ مسکا سره تندي ته رسېدلي وو. د شپې تیارې به دواړه د ژوند او محبت په لاسو دمه کړل . یوه شپه چې سکندرشاه او جماله دواړه په مینه ناست وو. جمالې په خبروخبرو کې سکندرشاه ته د یوې نوې خوشحالۍ زېری واورولو ــــ هغه بې اختیاره د جمالې ځهرې ته وکتل . د جمالې په مخ د دې نوې خوشحالۍ وړې وړې ډیوې روښانه ښکارېدې . په غونډ مخ یې د تورو تېرسرو غونډ ککوړې سکندرشاه ته م ډېر ښائسته ښکاره شو او چې سکندرشاه غلی غوندې مسکی شو د جمالې لاس یې په خپل لاس کې ترخپلې درزېدونکې سینې یوړو ... نو جمالې

Downloaded from: ketabton.com



داسې محسوس کړه لکه د کائنات همه خوشحالۍ د هغې غېږې ته رارسېدلې وي . هغې په وړمبي ځل په ډېر زړه ورتوب خپل سر د سکندرشاه سینې ته جخت کړو ـــ ستا لور خوښه د او که زوی . ـ ـ.؟ سکندرشا د جمالې په دې نوي اعتماد ډېر حېران شو . . . هغه په برقه برقه وخندل د جمالې رنګ د سکندرشا په خنداتك سُورشو. د هغې دننه یو نوي وجود چاچۍ پاپۍ وهې . .!!

***

Downloaded from: ketabton.com



بهادرشاه ته اوس هرڅه دا وئیل چې خپل کور دې اباد کړه نـو د پېغلـو خوېنـدو فکـر بـه دې ډېـر کـم شـي ـــــ او اوس خـو بهادرشاه ته هم دا فېصله کول وو ـــ خو د غـه طبعـې هر ښـځه نـه اخستله ـ وئیل به یې داسې ښځه به کوم چې ډېرې نخرې یې نه وي زده بس چې ساده باده تکړه ښځه وي چې کور راټول کړي او داسې کورنۍ وي چې څه غوښتنه نه لري بس په دوه درېو جوړو جامو کې یې قبول کړم ـــــ نه دې رانه څه غواړي او نه به ترېنه غواړم ـــــ او خدای خبر چې په کوم زیارت یې لاس اېښي وو چې سوال یې قبـول شو ـزبرګه په رښتیا چې زبرګه و ـــ خپلې کورنۍ ورته په یـوه جرګـه ورکړه ـــ ولې چې د بهادرشا کورنۍ په اصل نسب هم ښـه وه ـ او په پېسه ټکه هم ـ اوس د جینکو په ژوند کې هم د زبرګې پـه راتـګ یوه لویـه خوشحالي راغلې ده ـ زبرګې تـه دا جینکـۍ لکـه د خپلـو خوېندو ښکارېدې ـــ خو په دې حوېلۍ کې د نوې مشرتابه له رویه یې ځان د دې جینکو مور هم ګڼله ـ سنګینه خو بـه پـه ولاړه ولاړه د خپلې ورندارې نه ځارېدله ـ د کور کارونه به یې هسې هـم پـه مینـه کول اوس خو یې دا قسم کړی وه چې "په ناوې ورندار به تر یو کالـه ټك نه کوم چې ناویتوب وکړي ـــ" د بهادرشاه ژوند هم لږ په سمې

Downloaded from: ketabton.com



شوی وه ـ خو زبرګه هرڅو که نوې ناوې وه خو ټوله ورځ بـه د خدای په ذکر او عبادت کې اخته وه ـــ تـاج بـي بـي د زبرګـې پـه راتـګ لـږ زیات زړه موندلی وه ـ مخکې به یې د ورور نه څه غوښتنه نـه کولـه اوس بـه د ګـران لالا مخـې تـه ډیـر پـه زړه ورتـوب ورتلـه ـ د ښـو ښـو جامو پیزار غوښتنه به یې ترینه خوښندو تـه هـم کولـه او ځـان لـه هـم ـــــ په حویلۍ کې دننه ژوند چې نور هرڅنګه وه ـــ خو د زبرګـې پـه راتګ پکې لږ ښه بدلون خامخا راغلی وه ـ هسې خو بهادرشا د خوښندو د کور بهر وتل ښه نه ګڼل د ښځو ډیر تګ راتـګ یـې پـه غته غم ښادۍ هم خوښوله ـــ دغه وجه ده چې خپلې دروازې یـې هـم د ډیرو نزدې خپلو د راتلو لپـاره پـورې سـاتلې وې ـ ـ ځکـه خـو دې پیغلو که چرته د پردي نارینه نوم اوریدلی وه نـو هغـه د رفیقـي وه ـ بهادرشاه به د ده نـوم هـم پـه کـور کـې نـه اخسـتو د هغـه دا خیـال وه چې د یو پردي نارینه نامه اخستل د پیغلو خوښندو د مخې ښـه خبـر نه ده خو د رفیقي نوم خو تـاج بـي بـي او پـري د اخونـې کـره د ډیـرو پیغلو د خلې نه اوریدلی وه ـ تـاج بـي بـي خـو پـټ پـه پټـه د دې نـوم سره ډیره لرې لرې په خپلو خیالونو اوخپلوخوبونـو کـې ــــ تلـې وه ـ

د رفیقي خوش بختي وه چې که یو خوا بهادرشاه د سـرو او سپینو نه خبر وه د هغه پـه ژونـد کـې یـې یـو خـاص مقـام وه، نـو بـل خـوا د حـویلۍ د یـوې پیغلـې پـه زړه یـې هـم باچـائي کولـه ـــ خـو رفیقي ته دا نه وه معلومه ــــ هغه د بهادرشاه په خوی او مزاج ډیر پوهـ وه ـ چې پـه کـور کـې پـه خوښندو ډیـره سـختي کـوي ـ چرتـه تلـل راتلل یې نه وي خوښ ـ رفیقي د بهادرشا سره د کاروباري خبـرو نـه سېوائي خبـرې نـه شـوې کـولې ـ د بهادرشـاه پـه مـزاج کـې د شك او ګمان نه هم خبر وه ـ بیا د کور او پیغلو خوښندو په اړه څه خبرې خـو

Downloaded from: ketabton.com



شکمن کولی هم شو او د هغه په ژوند کې د او د هغه په ژوند کښې د دې لوی اهمیت نه یې لاس وینځلی شو ـــ خو د زلمیتوب هوا خو د رفیقي په احساساتو هم لړزان راوستلی وه کله کله به د هغه هم زړه غوښتل چې د تاج بي بي یا پري ذکر دې څوك د هغه سره هم وکړي ـــ خو بیا به یو تریخ حقیقت وازه خله د ده مخې ته ولاړ وه ـ زه خو یو نوکر سړی یم د بهادرشاه کنډري هم یم ماله داسې نه دي کول پکار ... هغه ته د تاج بي بي او پري وړوکوالی یاد وه ـ دواړه ډېرې ښکلې وې کله کله به یې د رفیقي سره لوبې هم کولې خو چې پلار به یې ولیدو نو زر به یې کور ته منډې کړې ـــ د وړوکوالي ډېرو خبرو او یادونو د رفیقي خیالونه هم ګډوډ کړي وو ـ د هغه د ژوند لویه سرمایه هم دغه یادونه وو ګني حاضر وخت خو هغه په غاړه کې د بهادرشاه د غلامۍ طوق اچولی وه ـ خپل غربت او بې وسۍ ترینه د ژوند او زړه د یو داسې نازولي ارمان حق هم تروړلی وه ـ هغه ته څه پته وه چې د تاج بي بي په زړه کې اوس هم د دې نوم یو ماشوموالي د دور همځولی ماشوم د لاسو نیولی چرته په لوبو کې منډې وهي کله د تاج بي بي ترڅنګ ولاړ وي او کله د پري شاته ـــ خو کله کله د بهادرشاه د پلار د مشدي لونګۍ او تېله داري کولې د لاندې غضبناکه څهره او غضبناك غږ د دوي لوبې او منډې په سیند لاهو کړي ـ

کور ته ځئ بلاګانو ـــ!! او رفیقی د ډېرې ویرې نه په ځائی ولاړ پاتې شي ـــ پري او تاج بي بي خپل کور ته منډې کړي ـــ خو تاج بي بي او پري ته هم دا نه وه معلومه چې رفیقي هم د دې یادونو ترڅنګ سفر غوځ کړی دی خو د ویرې نه په ژبه چرته د تاج بي بي یا پري ذکر نه شي کولې ـــ وختونو ډېر سفر سرته رسولی وه، د یوبل څهرې هم اوس د خیال او یادښت په شیشه

Downloaded from: ketabton.com



ډېرې تتې لیدې شوې ـــ خو دا خو یو لېونتوب وه چې کله کله به یې دا تتې تتې څېرې په نوي رنګ د ځوانۍ، د پېغلتوب او زلمیتوب په رنګ راوځلولې ـــ ژوند به ودرېدو ـــ رفیقې که د یادونو په دې لویه لار په تاج بي بي او پري دواړو پسې کتل نو، تاج بي بي هم په ورستو ورستو په رفیقې پسې کتل ـــ د تاج بي بي په زړه پري نه وه خبر او د پري د خیالونو نه تاج بي بي ـــ پخوا به د رفیقې نیا شمشو ترور کله کله راپېښه کوله ـــ خو د بهادرشاه بدګمانۍ هغه هم د کوره منعې کړه ـ بهادرشاه وئیل اوس مې خوېندې پېغلې دي شمشو چې زما ترکوره راځي نو په لاره د چم ګاونډ د شلو سړو سره په خبرو راروانه وي ـ او که زما خوېندو سره یې د دې سړو قیصې بیان کړي نو د سترمنو خوېندو سترونه به راته مات کړي ـــ او د کله نه چې رفیقې د زلمیتوب په شپېلو وهلو سر شوې وه ـــ نو د هغه رنګ، اوچت قامت او ښائسته قوارې خو د کلي پېغلې لېونۍ کړې وې ـ د شمشو ترور خلې به د رفیقې په صفت کولو وار نه کولو ـ په خپله خوږه پسته ژبه چې به یې د نمسي د ځوانۍ او ښائست صفتونه کول ـــ نو پېغلې به اوترې اوترې ګرځېدې خپل لاسونه به یې په زړه اېښودي وو ـــ خدای خبر په څومره کورونو کې به رفیقې په داسې رنګ موجود وه، څومره پېغلو به د هغه د نوم او ځوانۍ ارمان کولو؟ خو د کله نه چې تاج بي بي د خپل کور د بلۍ نه لرې رفیقې چابك چابك راروان لیدلی وه نو د شمشو ترور په خبرو یې هم باور راغلی وه او د اخونې د کور د سیپارې د سبق وئیلو همځولو په خله هم ـــ اوس هغې د زبرګې ورندار په مرسته دا هسه کوله چې په ګل لالا شمشو ترور یو ځل بیا خپل کور ته راوغواړي ـــ ولې چې اوس د زبرګې ورندار کره د یو بچي د زېږون مرحله په سر راروانه وه ـــ

Downloaded from: ketabton.com



او د دې کار پوهېدونکې هم شمشو ترور وه ـــ هغې اورېدلي وو چې یو کال مخکې د سکندرشاه لور ګل پاڼه هم د شمشو ترور په لاس کې پېدا شوې وه ــ تاج بي بي په دې نوي سنجك د ځان سره مسکۍ شوه ـــ او د لویې حوېلې په لوی دالان کې په یو کټ کې خوره ور راپرېوته ـــ په ځنګل یې سر کېښودلو ــ او د رفیقې د خیال په ټال یې یوه لویه جوټه ووهله ــ!!

***

Downloaded from: ketabton.com



سکندرشاه هرڅو که اوس د خپل کور، ښځې خاوند او د یوې لور پلار هم وه، خو کله کله به یې د بهادرشاه نه ډېره کرکه کېده، د قهر او تاؤ په وجه به یې د کور سم دم ماحول خراب کړو، د جمالې د لاس سمو کارونو کې به یې چینجي راوښکل اوس خو د جمالې دا غالب ګمان وه چې سکندرشاه په تاج بي بي مئین وه او چې تاج بي بي یې کورته رانغله نو اوس داسې چینجن شوی دی ـــ په نه څه خبره د ډوډۍ لوښي لرګي زمکې ته ګوزاروي ـــ کله به په اینګولي کې د مالګې مرچکي د زیات والي بهانه کوي او کله به ورته سمه دمه ډوډۍ سوی لیده شي ـ خو جمالې ته څه پته ده چې د سکندرشاه دا تاؤ تریخ والی بهادرشاه ته کم خو رفیقي ته ډېر دی، هغ به روزانه د بهادرشاه ترڅنګ په نخرو پېښو روان رفیقی چې لیدو نو کلمې به یې ورته خوټکېدې ولې چې اوس یوه ګنګوسه د سکندرشاه غوږونو ته رارسېدلې وه ـ رفیقی خو یو غریب کسبګر سړی وه خو بهادرشاه چې کله په خپلو سرو سپینو کې راننویستی وه نو خپل مقام ترینه هېر شوی وه ـ خپل ورځ یې له یاده وتلې وه اوس خو د غه د نیا د شمشو ترور مازغه هم بل شان شوي وو ـ چې جماله په ګل پاڼه ناروغه شوه نو سکندرشاه زر په شمشو پسې لاړو ـــ شمشو لکه د سړو وینښه بېدار او خبرداره وه ـــ ماسخوتن یې چې سکندرشاه د خپلې دروازې سره ولاړ ولیدو نو په پوزه پرتې چشمې یې لرې

Downloaded from: ketabton.com



نوري راښکته کړي ــ سکندرشاه ته یې نېغ نېغ وکتل ـــ په چاربندونو یې لاس اېښي وو، ولې!! په دا مال دلته کومې بلا راوړی یې ...؟ په سکندرشاه د شمشو دا خبره ډېره بده ولګېده ـــ خو د جمالې ناروغۍ ډېر مجبور کړی وه ـــ په لنډو ټکو یې ورته د جمالې د ناروغۍ ذکر وکړو ـــ لاړه به شم خو ما اوس دا کار پرېښی دی ... نه شم په پردو وینو ځوو کې لاسونه وهلی ـــ!! د سکندرشاه دا طمع نه وه چې د هغوي د کورنۍ دا تالي ځټ به نن د هغه مخکې داسې خبرې کوي ـــ خو حق دق ډېره لحظه لك د بُت ولاړ وه اوس شمشو لږه پسته شوه ـــ ته ځه درځم ګورمه یې ...دا یې ووئیل او کور ته کږه شوه. سکندرشاه چې غوږ کېښودو نو شمشو د ځان سره په ګورېدو و او بیا په درنو پښو هغه د شمشو د کور راروان شو لږ مخکې تلی نه وه چې یو ځل یې بیا د شمشو ګورېدل واورېدل هغه پوې شو چې شمشو ورپسې راروانه ده ــ د جمالې ناروغي په ښه کېدو وه ـــ شمشو ورته په خېټه د تودو تېلو مالش شروع کړو او د جمالې دردونه سېوا شول ـــ او بیا چې د ماشوم د ژړا غږ د شپې د چپیا سینه څیرې کوله ... نو شمشو د سکندرشاه مخې ته هم هغه رنګ ولاړه وه ـــ لُور دې وشوه ـــ ښځه دې ښه شوه ـــ په سکندرشاه کې لږه ساه راغله ـــ خو هغه نن د شمشو وران بوتاړ او سپورو ستغو ډېر زورلی وه. بیا ورته د رفیقي نوې خپله کړې کواره ترسترګو شوه ـــ "هوا خو یې په نمسي کې هم راغلې ده" ـــ د ځان سره وګونېدو. د هغه ګل پاڼې په زوره زور ژړل. اووان .. اووان خو د هغ د سترګو په وړاندې چې کوم منظرونه اورېدل راوړېدل نو هغې سکندرشاه ډېر ګډوډ کړی وه ـــ هغه داسې محسوس کړه ـــ لکه رفیقي چې اوس د سکندرشاه مخ او لحاظ د سره پرېښی وي. د هغه په وړاندې په

Downloaded from: ketabton.com



نخرو نخرو په ګډا ګډا روان وي ... کله کله د ښي لاس په دوو ګوتو د خلې نه يو اوچت شپېلی وباسي ـ او سکندرشاه د رفيقي په دې حرکتونو لکه چې اور واخلي ــــ او بيا چې ګوري نو رفيقی د بهادرشاه د دروازې سر ولاړ وي ـــ کله په ښکر پرته ټوپۍ يو اړخ ته کږه کړي او کله بل اړخ ته ـــ د رفيقي دې حرکتونو د قهر نه د سکندرشاه د ټول بدن وينه د هغه په مخ راوسته ـــ اوس هغه په دې نتيجه رسېدلی وه چې د رفيقي د دې بربنډو حرکتونو په شا چرته د تاج بي بي يا د پري لاس خو نه دی ــــ؟ د هغه وارپار خطا شو .د بهادرشاه سره که د هغه هرڅو نالګي ده خو تاج بي بي، پري او سنګينه هغه خپل عزت ګڼلې ـ

***

Downloaded from: ketabton.com



د زبرګې ناویتوب اوس سر ته رسېدلی وه، د هغې د داج په رنګ رنګ جامو تاج بي بي او پري اوس مزې کولې که داسې يې نه کول نو په دې کور کې به ورته ژوند ډېر ګران شوی وه ـ زبرګه په دې خبره ډېر خفه و چې د هغې نصیب هغه د يو داسې کور مېرمن کړې ده چې په حرامو ولاړ دی ـ په ټول کور کې به يې زړه ډېر بوږنېدو ـ د بهادرشاه د ټولو سرو سپینو مالکه دا وه خو هغه په دې نه وه خوشحاله خپل خدای ته به هر وخت په سجده نسکوره پرته وه ـــ خدایه زما او زما د بچو د حلال رزق سؤبونه وکړې، بهادرشاه ته د نېکو هدایت وکړی ـــ!! کله کله خو به يې په مصله ډېر ژړلي وو ټول جانماز به يې په اوښکو لوند وه ـ زړه يې د بهادرشا په کور کې ډېر تنګ وه ـــ خو د نصیب نه يې تېښته نه شوه کولې ـ بل خوا د تاج بي بي او پري د لاسه هم په اور کې ولاړه وه، يوه سنګینه وه چې د هغې د هر مرض دارو و ـ په منډه منډه به يې ورسر د کور کارونه کول تاج بي بي خو اوس د مور کوټه په خپل قبضه کې اخستې وه وئیل به يې دې ته به بل څوك نه راځئ ـ دغسې پري به هم په يوه کوټه کې ناسته و ـــ د مور نه پاتې صندوقونه دواړو وېشلي وو ـ خو په هاغه غټه لويه د لرګي تونۍ يې وس نه رسېدو چې تاج بي بي خپلې کوټې ته وړلې وې يا پري، خو سنګینه د دې ټول هرڅه نه بې پروا وه ـ د خپلې ورندار سره ډېره خوشحاله وه، دواړو خوښندو ته به يې تیاره ډوډۍ مخې ته کېښوده

Downloaded from: ketabton.com



او خپله به د زبرګې سره کېناسته ـ د زبرګې د اولاد زېږون هم نـزدې وه ـ سـنګينه خپـل وراره وريـرې تـه ډيـره خوشـحالېده خـو د خوشحالۍ په طريقه نه پوهېده ـ د سادګۍ د لاسه به ترېنه يوه نيمه خبره داسې وشوهچې مشرانو خوېندو به ورپورې ملنډې وهلې ـ په ترتـړۍ ترتـړۍ ژبـه بـه يـې د يـوې سـمې خبـرې ځـواب هـم نيمګـړی ورکړو نو د خوارې به خبـر نـه وه، پـري خـو بـه ورپـورې لکـه د سرې مچۍ ونښته ـــــ چاړۍ !!

د سنګين په سترګو کې به غټې غټې اوښکې راغلې ـــ او بيـا بـه ورنداري دلاسه کړه ـــ خو د تاج بي بي د زبرګې سره لـږه روغـه وه د زبرګې په خله يې ځوځو واره بهادرشاه تـه دا خبـره رسولې وه چـې د شمشو ترور سره روغه وکړي ـــــ چې د زبرګـې د روغ رنځـور لپـاره به مو پکار راځي ـ او چې نن سحر ځنګ ډېر موده پس شمشو ترور کور ته راپېښه وکړه نو تاج بي بي ترېنـه لکـه د مچـۍ تاوېده ـ دوه بالښتونه يې ورته کېښودل ـ په قلار پرېوځه ترور!! دا دې خپل کـور دی ـ تاج بي بي چې د ټينګـو چـايـو غټـه پيالـه شمشـو تـه مخـې تـه کېښوده نو شمشو ځان په اووم اسمان ګڼلو ـــ او بيا چې شمشـو پـه يو مخ د رفيقي د ځوانۍ صفتونه راواخسـتل نـو پـري هـم د شمشـو ترور سره د کټ په لنګه کېناستـه ـ د تاج بي بي خله خو نـن هسـې د خنـدا نـه نـه راټولېـده ـــــ شمشـو تـرور د زبرګـې جـاج واخسـتو او د هغې د لنګون اندازه يې ولګوله ـــــ نن ځم د خبره دې کـې لا ورځـې شته ـ بيا به راځم ـــ!! شمشو ترور چې د تګ لپاره راپاڅېده نو تاج بي بي بيابيا کېنوله ـ ترور مه ځه شپې له پاتې شه، خو شمشو ترور کورته روانه شوه ـ تاج بي بي او پري ورسره تر دروازې پـه جلب کـې لاړې ـ د رفيقي ذکر نن شمشو تـرور ډېـر پـه خونـد خونـد کـړی وه ـ د تاج بي بي خو احساسات داسې راپارېدلي وو چې د خپـل وجـود نـه

Downloaded from: ketabton.com



یې اور اخستو ــــ نن یې سم د سحره خپل ځان لکه د نوې ناوې ښه سینګار کړی وه ، په رنجو تورو کړو سترګو یې نن د زړه د یوې غلا چغلي خوړله ـ د مړې مور نه پاتې لویه د لرګي تونۍ چې د مودو او زمانو راسې بهادرشاه د زلمیتوب په کوټه کې په لنډه چنه ایښودې شوې پرته وه ـ نن ترینه تاج بي بي توده توده تاویده په دې کې یې د مور د لاس د خپلو دریواړو لونو ته ایښې د ارمانونو داخ خو هرځل په دوي پورې د طنز خنداګانې کړې وې، کله چې هم تاج بي بي د خپلې برښې ځیزونو پسې د تونۍ تمبې خلاصولې ـ ـ ـ نو خپل ارمانونه به ورته مخامخ ودریدل ــــ خدای خبر چې په دې ځیزونو به د وخت څومره دوړې خاورې او جالې پرتې وې خو د ډیر غم او مایوسۍ نه به ورته نه تاج بي بي لاس وړلی شو نه پرې ــــ وختونو او زمانو خو په هاغه رختونو خپل بدرنګ رنګونه خپژولي وو ــــ خو، پړ ــــ خو بیا هم د دې خړو رنګونو او خاورو دوړو په شا یې د مړې مور ټولې نخښې امانت پرتې وې ـ پرې لږه په زړه تکړه وه کال به یې په هر پشکال کې دا ټول رختونه په ډیره مینه راسپړدل او لمر ته به یې کېښودل ـ نن چې د شمشو ترور خبرو د تاج بي بي زړه لکه د مرغۍ په هوا کړی وه هغه په ډیره مینه څه خوبولې خوبولې هاغه تونۍ سره جختنه ودریده، د تونۍ په تمبه پورې غټ تور د اوسنې ونځیر یې په قلاره غوندې پرانستللو، د تونۍ دننه توره تیاره وه خو د هغې د ارمانونو داج لکه د ډیؤو رڼا کول، هغې نن په ډیره بې تابۍ یوه یو ترلې غوټه، یویو پنډوکی د تونۍ نه رابهر کولو، په لاس به یې ډېرې خاورې دوړې ولګیدې ــــ خو په منډه منډه یې بیا د دې ټولو سینه هم لکه د خپل زړه راوسپړدله ـ کټونه یې د سرو شنو بخملو او نورو رختونو نه ډك پراته وو ـ د مور د لاس قت کړي سرو شنو لوپټو خو دومره خوند

Downloaded from: ketabton.com



ورکړو چې په تلوار راغله او د دالان سر ته په یو ټیټه موړه اېښودې شوې لویې شیشې ته مخامخ ودرېده . تکې سرې لوپټې یې پرې د رنګونو باران راښکې کړی وه . د ډېرې حیا نه یې سترګې نه شوې پورته کولې، هغې په شیشه کې هم خپل مخ ته نه شو کتلې، ولې چې هرځل به ورته د شیشې سترګې لکه د رفیقې د دوو ناقلاره سترګو ښکارېدې لکه چې هغې ته بق بق په یو مخ ګوري . خو بیا به یې غلې غوندې سترګې په شیشه ورغلې ـــ د هغې په سر سره لوپټه لکه د سرې بنارسۍ د هغې په مخ نیم کښو پرته وه، لکه چې د ډېرو کالو پترو نه ډکه په سور پالنګ ناسته وي ... سترګې یې په مزه پټې کړې وې ... او په سرو منګولو کې سوچه برګ رومال یې پوزې ته نزدې کړی وه، د هغې زړه په زوره زوره ودرزېدو، هغې د خپلو ارمانونو او خواهشونو ټول پنډوکی هم د رفیقې په نوم تر دې دمه امانت ساتلی وه . . . اوس هغه د رفیقې ناوې وه . هغې دې وخت ته څومره انتظار کړی وه ... څومره کلونه یې د خپل پېغلتوب زهر څښلي وو، هغې په خپلو لاسو پښو سرو نکریزو ته کتل چې نرۍ نرۍ خوشبوئي ترېنه راوچتېده، هغه ډېره وارخطا شوه او اوږدې اوږدې ساګانې یې راښکلې او بیا د یو درونو او معتبرقدم باوقاره ښکالو په هغې یخه خوله راوسته . د هغې زړه خو سم د سینې نه راټوپ کول ـــ د زړه درزا یې لکه د زلزلې ټول وجود په لړزان کړی وه . خو دې لمحو او وختونو په خپل لمس د هغې ژوند، بدن او جذبو ته یو نوی خوند ورکړو، اوس هغې ورو غوندې خپله پنجه په ګرېوان کې دننه کړه . د ژوند او جذبو نه ډك پېغلتوب یې نن د ګوتو په سرونو داسې ولګېدو لکه چې ټول عمر پرې هغې سترګې پټې کړې وي . داسې یې محسوس کړه لکه د بجلۍ دوه بربنډه مزي ته یې لاس وروړی وي . دې لمحو د هغې ژوند او

Downloaded from: ketabton.com



احساساتو ته یو نوی سکون ورکړو ــــ کشې سر وخوړې ـــ!! او یوې چرګې ته د پري د خلې دې غږ د هغې د خیال دنیا تالا والا کړه ــــ یو ځل یې سترګې په زوره زور وځنبولې .... د شیشې مخې ته یوه ښائسته پېغله ولاړه وه ـــ خو په وېښتو کې لړې لړې یو نیم سپین وېښته به د هغې په ارمانونو اوبه واړولې. په قلار قلار یې ټول رختونه یو ځل بیا راغونډ کړل. او پنډوکي یې یو ځل بیا د تورې تونۍ تورې تیاره سینې ته لك د خپلو ارمانونو ورښکته کړل ـــ په سترګوکې راغلې دبې وسۍ اوښکې یې پاکې کړې ـ اوپه خپل خیال په ناخوالۍ ځان سره مسکۍ شوه.

شمشو ترور راتګ اوس یو وارې بیا پېل شوی وه. سنګینې ورندار د کارونو نه اوچته کټ ته خېژولې وه ـــ په شمشو ترور به یې ډېر سودونه کول چې د ورندارې او نوی ماشوم خیال یې ساتي ـــ تاج بي بي او پري خو هم د شمشو ترور نه چاپېره بنګړې اچولې .... تاج بي بي به په نه څه خبره د شمشو ترور د خلې نه د رفیقي ذکر اورېدل غوښتل او چې ذکر به شروع شو نو تاج بي بي به ورپسې ټول فرض مونځونه هم قضا کړي وو. د رفیقي د ځوانۍ او ښائست صفتونو به تاج بي بي د خیالونو په ټالونو ځانګوله خو کله کله به یې چې خپله خور پري هم چرته یواځې د شمشو ترور په خوا کې په ګنګوسه ولیده نو وار پار به یې خطاشو ـ په دغه ورځ خوتاج بي بي ولاړه وه په تنور یې ډوډۍ پورې کولې او په دالان کې ناستې شمشو ترور غلې غلې د پري سره څه خبرې کولې ـــ پري به کله ورو غوندې د تنور خوا کې ولاړې تاج بي بي ته وکتل کله به یې سر شمشو ترور ته نزدې کړو ـ تاج بي بي د تنور تور اورلړونی په لاس کې نیولی وه ـــ یو شك یې په مازغو کې کېناستو چرته .... شمشو خو پري سره د رفیقي خبرې نه کوي؟ او بیا یې چې لاوکتل چې

Downloaded from: ketabton.com



پري په هېبت د لوپټې د پیڅکي نه پېسې پرانزي او د شمشو په لاس کې يې ږدي نو زړه يې وغوښتل چې په دواړو پسې دا اوږ لړونی یوسي او دواړه پرې ښې اوځنبي . . . تاج بي بي ډوډۍ او قلپۍ په ځائی پرېښوده ــ په قهر کې په ترپکو راغله او پري يې دکمځۍ نه ونيسله ـــ داڅه مو سره خلې ورکړې دي . . .؟ په چا کورونه ورانوی ــ د چا د زړه اباده دنيا په سيند لاهوکوی ــ!! شمشوچې په دومره قهرتاج بي بي په پري راغوټه شوې وليده نو خپل خبر يې په دې کې ګڼلوچې پاکه خبره ورته وکړي . خوپه تاج بي بي د مينې او رقابت داسې پېريان ناست وو چې په هيڅ شان د خبرې اورېدو په کور کې نه ښکارېده ـــ زماخبره واوره!!! شمشوتروزهغه دپري نه راپاڅوله ــ چې په وهلو وهلو يې د هغې عاجزې د پاسه خپل ځان غورځولی وه . هغې وران وران شمشو ته وکتل ـــ د شمشو وار خطا شو . . . . او د پري د ژړا او چغو په اوازونو سنګينه او زبرګه د کوټې نه بهر راووتې ـــ د تاج بي بي په ګوتو کې د پري د وېښتو غټه شوړه ښکارېده . مخ يې ټول نوکارې نوکارې وه . ټول حق دق ولاړ وو . . . په څه نتيجه څوك هم نه رسېدل چې څه چل شوی دی ؟ د پري نه کومه خطا شوې ده . اخر چې زبرګې پري هم د زمکې نه دم دلاسه راپاڅوله او تاج بي بي يې هم يو خوا ته کړه ــ نولړه چپتياخوره شوه ــ اوچې بياشمشوتروړپه قلاره د تاج بي بي زنه په مينه ونيوله او ورته يې ووئيل چې پري په ماخپلې همځولې زرو ته سوال جواب لېږي . . . نو ټولو په حېرانتياپوبل ته وکتل . دپري نوکارې مخ اوس د تاج بي بي مخې مخې ته کېدو. د ګران لالا ويرې اوس د هغې په اعصابو هم نوکارې راښکلې . سنګينه خو په داسې صورتحال کې ډېره خرابه وي ـــ ژبه يې نوره هم ونښلې خپله خبره په اشارو بل ته رسوي او چې په اشاره

Downloaded from: ketabton.com



يې لاتاج بي بي ته په خپل مخ لاس راښکلو ... نو د تاج بي بي د لاسو نه طوطيان والوتل اف ګران لالا به مې خبر وي ـــ!! شمشو ترور د تاج بي بي يقين پخولو لپاره قسم وکړو ... چې زرو ته يې ليږلم ـ ـــ اوس د تاج بي بي يقين پوخ شوی وه ـــ هغې ته د اخونې د کور د سيپارې د سبق دور راياد شو چې ټولې جينکۍ به د سبق نه پس خپلو کې په ټوقو ټقالو ناستې وې ـــ خو زرو او پري به دواړه نه وې ... او بيا ځوځو ځل په يو کُنج کې دواړه ليدلې شوې وې ـــ!! د هغې خيال د يوې نوې غلا په لټون ـــ د ژوند تر يو داسې کُنج رسېدلی وه چې د انساني فطرت د غېر فطري رويو او عادتونو جولاګانو پکې جالې جوړې کړې وې ـــ او نوی جنسيت او جبلت پکې اپوټه راځوړند ليدی شو ـ د زرو او پري د دواړو ډېر ساعت ناستې اوس د ټولو پېغلو ځوابونه موندلي وو ـــ

***

Downloaded from: ketabton.com



سکندرشاه به اوس شمشو هم هسکه غړی دبهادرشاه کره په تلوراتلو لیدله ـ د هغه غوږونو ته ډېرو خلکو د شمشو په حقله ډېرې ګډې وډې خبرې رارسولې وې ـ چا به وئیل شمشو د هلکانو او جینکو دلالي کوي ـ چا به وئیل د هلکانو هلکانو سره خبرې هم جوړوي ـ دسکندرشاه داغالب ګمان وه چې د بهادر شاه په کورنۍ یې کوډې کړې دي ـ نیااو نمسي دواړو ـــ نمسی یې د بهادرشاه ترڅنګ اوړي راوړي اونیایې دخوېندو مخې مخې ته کېږي ـ دهغه په زړه کې به د نفرت اور په غرغندو شو ـــ جمالې به د دې تاؤ هم محسوسولو ـــ یوه ورځ یې په قلار قلار پوهولو ـ ستا څه کار دی ــ غټ پټ بهادرشاه شته دخپل کورد ښې بدې ذمه وار خپله دی ستا سره خو یې د لارې کوڅې غم ښادي هم نشته ـ خوسکندرشاه کله داخبرې منلې؟ هغه پوهېدو چې بهادرشاه خو د دولت خورجېبونه ډکوي ـ دکوردهیڅ حاله نه خبرېږي ـ اوس خوبه تاج بي بي هواره په کوټه اوبلی راښکاره ولاړه وه ـ ـ ـ څوڅوځله یې دشمشو سره چرته په تلوهم لیدلې وه ـ او دایې لاڅه کی ـ ـ ـ ـ شمشوبه کله یوه جینۍ راروانه کړې وه او کله بله ـ ـ دبهادرشاه کورخو اوس د رنګ رنګ نخرویومېله وه ـ خو د دروازې تمبې به اوس هم پورې وې ـــ د رفیقي ورځې هم بدلې شوې وې د بهادرشاه ښی لاس جوړ شوی وه ـ ـ ـ د کور نقشه یې بدله شوې وه ـــ اوس خو به بهادرشاه بازار نه هم کور ته په څه سوال ځواب پسې رالېږلو ـ ـ ـ او چې د پوري وره

Downloaded from: ketabton.com



په شا به ولاړې تاج بي بي د رفيقي سره سوال جواب کولو نو د رفيقي به په خپل ځان د باچا ګمان کېدو ـــ د تمبو په نرو نرو درزونو کې به يې داسې نبغ نبغ کتل لکه چې تاج بي بي ورته خپل ځان ټول ښکاره کړی وي ـــ اوس خو يې په دې کوڅه د تلونکو راتلونکو پروا هم نه کوله ـ او کور په کور به د هرچا په خله دا يوه خبره بيا بيا کېده ـ د غريب سړي دومره زړه نه وي خو د هغه په شا د چا لاس دی ـــ!! سکندرشاه ته د دې ټولو خبرو پته وه ـــ د خلکو د پس پسو نه خبر وه ... د شمشو د دې نوې لګولې تماشې په چل نه پوهېدو خو بس وينې او غېرت به يې جوش وکړو ـــ د خپلې جرګې نه پس يې پرې نورې جرګې هم تش لاس د دې کوره په ستنېدو ليدلې وې ـــ او هرځل چې به کومه جرګه راتله نو سکندرشاه به د خدای نه دا سوالونه کول . . . چې خدايه! د بهادرشاه په زړه د رحم اوبه توې کړې چې د جينکو بند اسان شي ـ خو بهادرشاه د سود په ګټه کې د خپلو خوېندو د برخې قائل نه وه ـ هغه دا پخه اراده کړې وه چې خپلې درې واړه خوېندې به په کور زړوي ـــ د تاج بي بي او پرې عمرونه خو مخ په سېواکېدو وو ـ خو د سنګينې نور حالت د دې جوګه نه وه چې د يوکور په ژوند کې د چا مېرمن شي تاج بي بي خو ځکه اوس د خپلواحساساتو لاس پښې په رفيقي پسې وهل ـ او پرې په نورو جينکو مئينه وه ... او دا ټولې خبرې ټکي په ټکي سکندرشاه ته رارسېدلې .. خو د هغه غېرت او پښتو دا نه شو زغملی چې پلار په نيکه د دې کورنۍ تالي ځټ دې اوس خپل پلونه د دې کورنۍ ترعزتونو راورسوي ـــ هغه د رفيقي او بهادرشاه سره سره د خپلې تربګنۍ او دشمنۍ پت ښه برابر پاللو ـ خو ځينو مجبورو يې لاسونه بند په بند تړلي وو ـــ سره د دې چې شمشو ترور په خپل ژوند د رفيقي سره ډولۍ هم

Downloaded from: ketabton.com



لیدلې وه ــ خو د واده پېکړو هم د رفیقي پښې ونه تړلې ــ او خپل کچه پیکه حرکتونه یې کول ـــ خو اوس د رفیقي د واده حقیقت د هاغه پېغلو احساسات لکه د صابون د ځګ کېنولي وو کومو چې به په تناره او ګودر د رفیقي خبرې کولې ..د رفیقي دنیا د هغه زوي شفیقي ترڅه حده بدله کړې وه ـ کټ مټ د پلار کواره وه ـ د وړوکوالي نه یې ډېرې نخرې زده کړې وې ...خلکو به وئیل چې رفیقي پل اوچت کړی او دې شفیقي پرې اېښی دی ـ د رفیقي دځُلې او ګوتو شپېلی خو دومر مشهور شوی و چې په کور دننه به هرې پېغلې د ځان لپاره ګڼلوــ اوس به هم رفیقي د خپل عادت ترمخه د بهادرشاه د کور په څنګ کې کله کله شپېلی وهلو په دې عادت ډېرو خلکو بې عزته کړی هم وه خو وئیل به یې د عادت نه مجبوره یم ــ او هم دغه عادت وه چې د سکندرشاه په زړه کې لکه د ازغي چوکه کېدوــ پټې پټې یې ورته کُلمې خوټکېدې ـــ

***

Downloaded from: ketabton.com



وختونو د زبرګې جولۍ ته د درېو اولادونو ورکړه کړې وه ـ طاهرشاه اوظاهرشاه دخپلوترورياڼود سترګو تور وو او وړه زېبو چې په حوېلۍ کې د خپلې نصيبې سره راغلې وه د هغې ورځ اونصيب هم د خپلوترورياڼونه بدل نه وه ـ دپلارد قهراو غضب نه به په سُوړونوته ـ پلارخوېې څه کوې هغې ته خوخپل ورونه هم دپلارنه کم نه وو ـ هرنارينه په هردورکې خپل فطرت ښکاره کړی دی ـــ د دې کورنۍ تاريخ د داسې پېښو نه ډك پروت وه ـــ لُور خور خو په دې کورنۍ کې بس يو پاتې مخلوق ګڼلی شو ـ دهغوي حقونه ټول عمرپه دې کورنۍ کې نارينو تر پښولاندې کړي وو ـ په ټوله سيمه کې داکورنۍ په دې يادېدله ـ چبه يې د لور خور په عزت تپوس نه شوکولی ـ او خدای خبر څومره تورسرودډولۍ ارمان ګورته په سينه کې وړلی وه ـ طاهر شاه او ظاهرشاه دواړه يو برابر وو ـ خلکو په دواړو کې د کشر او مشر توپير نه شو کولی ـ د ډېرو خلکو دا خيال وه چې دواړه غبرګوني پيدا شوي دي ـ ـ خو نه په دواړوکې به ديوكال د مشرتابه مزې غزېدلی وه ـ طاهرشاه به د يوې ترور په څنګ کې ملاست وه او ظاهرشاه به د بلې ـ خو زېبو به خپلې کشرې ترور سنګينې سره ډېره خوشحاله وه ـ په دې

Downloaded from: ketabton.com



حوېلۍ کې يوه باغيچه ده پرېخوا راسې موجوده وه چې په هر دور کې يې د کور د ښځو پام ځان ته راګرځولی وه . په غاړه پکې د نارنجانو اونې په قطار قطار ولاړې وې او ځائی په ځائی پکې تاج بي بي او پري د سروګلابواوسپينوراميلوښائسته بوټي هم کرلي وو۔ او چې د دې ګلابونوپه مخونوپسې دپرپرکولښکرې او سپلونه راوالوتل نو د دې ماشومانو خوشحالۍ به د کتو وې . سنګينې به ټوله ورځ د وړو وړو وربېرونو سره په لويه تنه منډې وهلې . د دې شوراوغوغابه دحوېلې په دنګودنګوکوټوکې هم اورېدې شوه . اوس خو په سنګينې خپل د ماشومتوب دور بيا راغلی وه ـــ په زمکه به دماشومې زېبو سره ناسته وه د هغې ګوډيانو ته به يې رنګ په رنګ جامې جوړولې . ماشومې زېبو به په خپله وړه ژبه دخپلې تروريه شان تتې تتې خبرې کولې . . او زبرګه به کله کله فکرواخسته چې هسې نه ددې ژبه هم اينښلي . سنګنې ځان له هم يوه ښائسته ګوډۍ جوړه کړې وه ـــ د دې ګوډۍ په غاړه کې به يې لوی د مشکنو امېل راځوړند کړی وه . د ډك کمخواب جوړه به يې ورته په غاړه کړې وه . او په لوبو لوبو کې به يې د خپلې ګوډۍ واده په ډېره مينه راجوړ کړی وه . په کُنج کې به يې ګوډۍ کېنولې وه . او دې به قلار قلار تمبل غږولو . کله کله به يې تمبل د وړې زېبو په لاسو کې ورکړو او دا به راپاځېده اويه ګډا به شوه . د کور ټول خلك به د ترور او وربېرې دې نازولې دنيا ته په کتو وو۔ بهادرشاه اوس ډېر بدل شوی وه په خوېندو او ښځې کلك ساتلی پړی يې لږ سست کړی وه . د هغه دا خيال وه چې تاج بي بي او پري د خپلو پېغلتوبونو زهر ځښلي دي . او اوس خو نه د دوي هاغه ځوانۍ شته او نه هاغه مستۍ . خوبهادرشاه ته دا نه وه معلومه چې ډېرکلونه وړاندې په دې حوېلۍ کې يوه

Downloaded from: ketabton.com



شاړه توره تاخانه خوډېره پخوا پري اباده کړې ده ـ اوس خواوړی ژمی په هاغه تیاره تاخانه کې هغې هره غرمه دشړشمودتېلو ډیوه بلوله او چې زبرګه او تاج بي بي به اودې شوې نو د پري سترګې به هم مرغۍ مرغۍ شوې هغه به ورو غوندې تاخانې ته ښکته شوه د هغې د اخونې د کور د سیپارې دسبق همځولې زروبه د هغې سره په دې تاخانه کې یو ځائی ملاسته وه . د تورې تیار تاخانې ابادولو راز د دې دواړو ترمینځه پروت وه . د کور نور خلك خو د دې شاړې تاخانې نه داسې ویرېدل لکه چې دا تاخانه یا خو د تورو اژدهاګانو جاله وي یا د پېریانوـ پري خو به د کور نور خلك د دې تاخانې د زبونتیااودروندوالي نه ویرول خوداتپوس ترېنه چا هم نه کولو چې ته په دې تیاره تاخانه کې کومه اوده پخوې ؟خو چې ماسپخین به ټول راپاڅېدل نو پري او زرو به په لوی دالان کې په خنداناستې وې ـ خوشحاله خوشحاله ـ لکه چې د خپلو وجودونوډېر درانه بارونه یې سپك کړي وي . اوس خو به ځکه زرو یوه ورځ د راتلو ناغه هم نه کوله . د پري مینې به د جنت نه هم د هغې څنګ ته رارسوله ... پټ پناه یې په زرو ډېر سره سپین پېرزو کړي ووـ هغې ته ځائی په ځائی د بهادرشاه د ښخو خزانو پېسو هر پټ ځائی معلوم وه ـــ! د زرو هم ټولې ګوتې په غوړو کې وې ـ د پري سره یې ډېرې مزې کولې ـ د مور نه پاتې د خپلې برخې د داج رختونه خو یې ټول په زرو زاړه کړي ووـ خو د زرو مینې چې په تېر وخت د پري په وجود کوم د ښائستونو سپرلي راخوار کړي وو دا یې په تنکۍ ځوانۍ نه وو لیدلي ـ اوس خو به دواړه ښې ښکار هم په یو کټ کې ملاستې وې ـ د زرو په څنګل به د پري سر پروت وه او د ژوند په یو نوي سرور به غرقه اوده وه ــ زبرګې په بهادرشاه وس کړی وه چې د

Downloaded from: ketabton.com



سود کاروبار پرېږدي ډېرې کرکې يې ورته بيان کړې وې خو بهادرشاه ته اوس بل کار خوند نه ورکولو نور کارونه خوکه ګټه لري تاوان هم لري او بهادرشاه ټول عمر د ګټې سودا کړې وه د تاوان نه ـ زبرګې خو په دم کړو اوبو، چينو او تعويزونو هم په بهادرشاه څه کمی نه و کړی خو د بهادرشاه زړه ډېر غټ وه خرمن يې هم غټه وه ـ کرکه خو يې هډو په طبيعت کې نه وه ـ زبرګه به يې په دې دلاسه کړه چې دا هرڅه تا او ستا بچو له کوم ـ ـ ـ! د جمعې شپه وه نن زبرګې استخاره وکړه او د خدايه يې دا يو سوال وکړو چې نن شپه ماته د خپلو بچو د خوشحالو زېری راکړه ـــ ټول عمر مې په دې کور کې پوټی سکون نه دی ليدلی ـــ چې د اولاد نه مې د خوشحالۍ برخه شته او که نه ؟ او بيا هغې يو خوب وليدو ـــ يو داسې خوب چې د هغې د ژوند او زړه پاتې سکون يې هم تالاوالا کړو ـ هغې دغه ليدلی خوب د خپلو مزغو او وهمونو يوه نتيجه وګڼله خو چې هرکله پرله پسې درې جمعې ماسخوتن د استخارې نه پس هغې هاغه يو خوب بيا بيا وليدو نو اوس د زبرګې زړه لکه د پاڼې رپېدو ـ د هغې د ګلابونو په څير ښکلي زامن او لور ډېر ښائسته وو د هغوي وده او غټ والی ډېر په مخه روان وه اونې خدای دنګې ورکړې وې په څو کلونو کې د پلار سره د اوږې لګولو شو ـ اوس به د زبرګې وار لاخطا شو ـ د طاهرشاه او ظاهرشاه په ټوپيانو به روزانه خپلو توريانو د تازه ګلاب ګل داسې په هنر ټومبلو چې د مخ او ګلاب ښلتون به نه شو کېدی ـ کله کله به پلار دواړه ځان سره بازار ته هم بوتلل ـ او چې د بهادرشاه سره به خپل دواړه زامن په لاره روان وو نو د لار هر نظر به ورته بيا بيا را اوړېدو ـ چې کور ته به راغلل نو پري به د سپېلنو په دانو پسې کري کور ګرځېده ـ "او خلکو به راته د نظره

Downloaded from: ketabton.com



کړې وي . . .!! که د پري یا د تاج بي بي په زړه وی نو په دې هلکانو به یې د کوره بهر قدم نه کېښودو. خو بهادرشاه دا غوښتل چې د خپل کاروبار ټولې طریقې، ښه او بد ، ګټه تاوان خپلو بچو ته وروښائي ځکه چې سبا به دا کار هم دوي سمبالوي . ظاهر شاه لږ ډېر هوښیار وه د پلار په اشاره هم پوهېدو ځکه خو یې په پلار روزانه ځلورانیز قلنګ ترلی وه .او د کور په هر ګوټ کې ورته د پلار د ښخو خزانو هم پته وه ...

***

Downloaded from: ketabton.com



ګل پاڼې هم په ځان پسې زمری او ګورګوره راوستي وو . خو ګل پاڼه په ټول کور کې زورور وه . سکندرشاه ته خپل ټول اولادونه ګران وو خو ګل پاڼه يې ډېره نازولې وه . د ګل پاڼې ټول عادتونه لکه د هلکانو وو. په اوچت اواز خبرې، کلکه ځيره او په ټول کور خپل رعب ساتل . زمری به کله کله ډېر په قهر شو، ځکه چې هغه که هلك وه خو د خپلې مشرې خور په چل نه پوهېدو. ګل پاڼه چې به يې د خپل ګران داجي سره نزدې ليدله نو خپل ځان به ورته بې معنې ښکارېدو. لاماشوم و د دې فرق په احساس او معنی زيات نه پوهېدو خو بهر ملګرو به ورته دا احساس خامخا ورکولو. او چې طاهرشاه او ظاهرشاه به يې د خپل پلارسره خوشحاله خوشحاله ډك ډوك وليدل نو خپلو محروميو به پرې نوکارې راښکلې . زه خو د پلار يك يو نيازبين زوی يم خو خدای شته که په سمه خله يې راسره خبره قدرې کړې وي ـــ د ځان سره مېلې ته بوتلل خو لاغټه خبره ده ـــ د دې محرومۍ ذکر به چې يې کله خپلې کشرې خور ګُرګُرې ته وکړو نو هغې به هيڅ اونه وئيل بس غلې غلې به يې د زمري خفه څهرې ته کتل . خو چې کله به يې د خپل زړه غوټه مور ته پرانسته نو مور به د ځان سره راجخت کړو ـــ په تندي به يې ښکل کړو . . . . موري! چې ګران داجي رانه اوس ګيدړ جوړ کړی دی نو دا زمری نوم يې راته څه له کېښودو ـــ!!؟ زمري اوس د خپل احتجاج څرګندونه کولې شوه ـــ

Downloaded from: ketabton.com



او په دې پوښتنه يې مور په زور زور په خندا شوه ـــ خو د ټولو نه زياته د طنز ډکه خندا ورپورې ګـل پـاڼې وکـړه . د زمـري رنـګ او صحت د دې احساس له کبله د زوال ښکار وو. د هغـه هاغـه ود نـه وه کومه چې د ده دخوښندو وه . هغه به اوس ځان له خوشحاله وه د چا سره يې هم نه لګېده . په مندرسه کې بـه يـې خپـل ټول قهـر پـه هاغه همځولو ويستو چې لږ به ورسره وران شو، دلته به زمری سم لکه د زمري غړمبېدو . په نري نروچکي وجود کې بـه يـې بې پناه طاقت راغلو. ډېر وهل ټکول بـه يـې وکـړل . د مندرسـې اسـتاذ تـه چې ماشومانو د زمري شکايتونه وکړل نو د زمري نوم يې د خپلې مندرسـې نـه خـارج کـړو. اوس زمـرى ازاد ګرځېدو. پـه ورانـو، ويجاړو، په غرونو، ځنګلونو، په مېرو، په اونو بوټو، کله بـه د مرغـو پـه ځـالو پسـې ټول غرمـه ګرځېـدو او کلـه بـه يـې مرغـۍ پـه لينده ويشتلې، کله به يې يو ځائی خوړ وه کله بـل . ګورګوره بـه پرې ډېره خفه کېده . لاس، پښـه يـا مـخ تنـدی بـه يـې پـه وينـو سـور راوړو نو پـه وړو وړو لاسـونو بـه يـې ورتـه زر پـه تـودو تېلـو کـې کورکمان سُور کړو او تودې تودې پهې بـه يـې ورتـه پرې کېښـودې ـــد ګُرګُرې د زمـري سـره ډېـر مينـه او همـدردي وه . د کـور د مشرانو خو يې په ګل پاڼه کې ساه وه زمري به د بـازار د دوکـانونو نه په غلا کله کله د ګُرګُرې لپاره د لېچو بنګړي او د سر کليپ هم راپټولو. ګورګوره به دې ته ډېره خوشحالېده خپل دا شيونه بـه يـې په هاغه وړوکي پټارګي کې ځان ته سمبال ايښې وو کوم چې ورتـه تـاج بـي بـي د دې وېنـا سـره ورکـړې وه چـې داسـې دلتـه کلـه کلـه راځه، د زېبو سره به لوبې کوې ګوډيانې بـه تالـه هم جوړوم ـــ زه ستـا هم تـرور يم . خـو ګورګـور بـه د بهادرشـاه کاکـاجي نـه ډېـره ويرېده . د هغـه سرو سرو سترګو او کونډه کـړي برېتونـو تـه چـې بـه

Downloaded from: ketabton.com



يې کتل نو ويرې به واخسته ...او هسې هم د خپلې مشرې خور ګل پاڼې نه به ويره کې وه . دا قدغن خو پرې هغې لګولی وه چې ـ! چې د دې کورنۍ سره مې د ګران داجي پخوانۍ دشمني ده که لوبو ته ورکره لاړې نو مړه به دې کړي ــــ!! او د ماشومې ګُرګُرې لپاره دا ډېره وه . په کوڅه کې به د زېبو سره ناسته خو د هغې د کور نه مشرانو ويرولې وه . ګني د ماشومې زړه به ډېر غوښتل چې د زېبو سره کور کې لوبې وکړي . د هغې ترور تاج بي بي ورته يوه ګوډۍ جوړ کړې ... سنګينه ورسره هم په لويه تنه پټ پټونی وکړي ــــ خو د مشرانو خبره يې په زړه پټې کړې وه . ګورګوره د خپل پلار سره د مېلې سپل ته د تلو هم ارماني وه خو دا ځل زمري په خپله خزانه کې دولس انې يو ځائی کړې وې او ګورګوره په دې خوشحاله وه چې زمری به يې دا ځل د کلي د مېلې سپل ته بوځي

***

Downloaded from: ketabton.com



ځنګه چې د بهادرشاه او رفیقي خپلو کې ډېره خوږه وه داسې به شفیقی او طاهر شاه هم د یو بله نه خوزېدل . دواړه د مندرسې ملګري م وو. د کله نه چې د زمري نوم د مندرسې نه استاذ خارج کړی وه دواړو لږه ساه اخستې وه . ولې چې زمری خو د کوره بهر سم زمری وه شفیق او طاهرشاه ته خو به یې بهانه کتله ــــ اوچې کله به ورسره لږخوږ شو نو د ظاهرشاه د کتابونو د کڅوړې نه به یې د سپینې مېدې غوړه ټوله پراته هم په غلا ویستې و او دوانیز به یې ترېنه هم پټ کړی وه . اوس به ظاهرشاه او شفیق جوړه ناست وو. سپینه د مېدې پاڼې پاڼې پراته به د دواړو مخې ته پرته وه . رفیقي په خپل بچې په مندرسه کې سبق کله وئیلو، وئیل به یې سبقونه دغټانوخلکو کار دی . خو طاهرشاه به ژړل سم قسم یې کړی وه چې هله به مندرسې ته ځي چې شفیق هم ورسره روان شي . د شفیق په سترګو به تاج بي بي د رفیقي د سترګو سود کېدو. چې کله به طاهرشاه شفیق دځان سره کورته راوستونو تاج بي بي به هسې مسکۍ مسکۍ کېده، دخپل پېغلتوب دوربه پرې لکه دباران راښکی شو. دتصورپه دنیاکې به یې د رفیقي څهره بیا مسکۍ شوه . وختونو ډېر لرې الوت کړی وه اوس خو د تاج بي بي د تصور منډه هم دومره ضعیفه شوې وه چې ورستو به یې کتل نو دتېروخت په حساب اوشمېره کې به ګډه وډه شوه ــ خوخدای خبر ولې به د طاهرشاه په ځنګ کې ناست شفیق به یې لکه د بهادرشاه په خواکې

Downloaded from: ketabton.com



ولاړرفیقی ګڼلو۔ هغې به دشفیق دمخ نه هم یوه غرقه چپه واخسته ۔ د "چپ" په اواز به ورپورې پرې په بړقه بړقه په خنداشوه خوتاج بي بي دچاد خبرواوخنداپرواتهول عمرنه وه ساتلې ۔بیابه یې دلوپټې په پیڅکي پورې تړلی دوانیزدشفیق په جیب کې هم واچولو۔ په دې ځان له دواړه ځیزونه واخلئ ــــــ!!

د طاهرشاه طبعه په مندرسه کې ډېره نه لګېده هغه ته خو د مندرسي پابندي لکه د قېد ښکارېده ۔ مشر استاذ خو یې ډېر بدي شو۔ څو ځله یې په نرۍ لښته دومره وهلی وه چې د مندرسې نه یې زړه تور شوی وه خو د پلار د ویرې به په نه زړه تلوراتلوــــ په هغه ورځ خو یې پخه اراده کړې وه چې سبا نه به مندرسې ته نه ځي کله چې مشر استاذ ورته په لاس دغمې ودرولي وې ــ او چې څنګه یې لاس تاج بي بي ته ښکاره کړل نو په هغې خو څه چل وشوــ وې ته په طمانچه سُوری شه دومره خو به څوك پردی خر هم ونه وهي او بیا یې د طاهرشاه لاس بې واره بې واره ښکلولو د شفیقي زړه وغوښتل چې که داسې تروریه کورکې زماهم وی نو زمانه به هم ځارېده ــ تاج بي بي لکه چې دهغه په زړه کې په راولاړارمان رسېدلې وه ۔ زه یم کنه ۔۔ ماته رانزدې شه ۔۔زه، زه ستا۔۔ موریم ۔ــ !!اوماشوم شفیق نېغ نېغ دتاج بي بي مخ ته کتل ۔

***

Downloaded from: ketabton.com



د بهادرشاه کاروبار ډېر په زور کې روان وه - ډېر سره سپین ورسره د خوارو خلکو د اخستو پیسو په سُود کې پاتې شوي وو- زبرګه خو زبرګه وه - بهادرشاه ورته اوس ښه په ډاډه وئیلي وو چې دا ټول کالي پټري اوس ته پکارولی شې چې چرته ځې راځې نو اچوه یې - د زبرګې طبیعت خو دا کله هم نه منل ولې چې هغې خو په دې کور کې سپك ډوډۍ ته به هم اوښکې ځڅولې د خدای نه به یې معافي غوښته، خو پلارګنۍ او نورو ډېرو ښځو ورته په دې ناشکرۍ بد رد وئیلي وو چې سړی به خپل قبر کې ځملي ـــ بهادرشاه هرځه تاله او ستا د بچو لپاره کوي ـــ!! هغې ته به دا خبرې هم ډېرې عبث ښکاره شوې د خدای پاك ویره یې مخ په زیاتي وه خو د تاج بي بي او پرې نه به هم ویرېدله ـــ هغوي به وئیل چې ته نه غواړې چې چرته غم ښادۍ او تربورولۍ ته په ښه رنګه ورشې ... دا غټ غټ درانه درانه کالي پټري په غاړه کوه چې په دشمنانو مو مۍ دلیرې ـــ!! د تاج بي بي خو د تربګنۍ تربور اوس سکندرشاه وه، ولې چې وخت او حالاتو ورته دا یو ټکی لکه د سبق زوت کړی وه چې که سکندرشا غوښتلی نو زه یې په هره طریقه خپلولې شوم - خو د ځوانۍ وار په ما د سکندرشا او بهادرشاه دواړو د لاسه د پلار په کور تېر شوـ هغې خو په خپل زړه کې ډېر پخوا یوه صلاح د ځان سره کړې وه چې که ګران دادا مې داسې

Downloaded from: ketabton.com



سکندرشا ته نه ورکوي نو بیا هغې یوه بله لاره هم کتلې وه ـــ خو دلته په کې یوه ستونځه بله وه چې سکندرشاه د هغې خواله نه راتلو گني هغې ورته دا وئیل غوښتل چې د مور نه پاتې ټول سره سپین هغې په دې اسره پنډوکی کړي وو چې هم داسې به د سکندرشاه کور ته ورځي ـــ خو بیا به یو خیال داسې گډه وډه کړه چې په گران لالا یې د متیزې خور د ورور کنځل پېرزو نه شوه او داسې هاغه تړلې پنډوکی ډېر وخت په هاغه تونۍ کې امانت وه د کومې سینه چې د داسې ډېرو پنډوکو نه ډکه وه ـــ او بیا چې ډېرې راغلې جرگې بهادرشاه تش لاس بیرته ولېږلې نو هرځل به په دغه ټولو پنډوکو تاج بي بي ډېر ژړل ـــ د هغې د تخیل په هره څانگه رنگ رنگ گلونه سپړدلي مخونه په خندا وو ـــ یو گل به د سکندرشاه د څهرې وه، بل به د رفیقي ـ ـ ـ ـ نو نور به خدای خبر د کومو کومو زلمو وو ـ ـ ـ د هاغه زلمو چې هغې به په لارو کوڅو کې لیدل ـ د چاچې ورته نومونه هم نه ورتلل ـــ بس هغې د خپل خیال دنیا ډېره موده په دې څهرو اباده وساتله خو اوس هغې ته د خپلې تېرې ځوانۍ غم یو نفرت ورکړی وه او دغه نفرت یې د خپل گران لالا لپاره په زړه کې لرلو ـــ خدای به دې زما په حککله تپوسي ـ ـ ـ ـ هغې به اکثر د خپل ځان سره خبرې کولې ـ ـ ـ خو په دې خبرو کې لرلی نفرت به د بهادرشاه لپاره وه ـــ تا په ما خپل کور او ژوند نه وه پېرزو ـــ! ته زما مجرم یې، کله کله به ډېره په قهر شوه او د خپل قهر اظهار به یې کور کې په جنگ جگړو کولو ـــ د هغې خپل ځان په نظر کې وه حالانکې په دې درشل خو د هغې بله خور پري هم د هغې ترخنگ د ځوانۍ او پېغلتوب ماښام ته رسېدلې وه ـــ خو د پري احساس بل شان وه د هغې دنیا اباده

Downloaded from: ketabton.com



وه ـــ زرو د هغې د داسې وختونو يوه ښائسته مشغولا وه ـــ د هغــې پــه ژونــد كــې كــونترې، زركــې، تــورانۍ، بلبلــې او خاروګانې راغلې وې او هرې يوې هغه د هاغه احساس نه لرې ساتلې وه كوم چې په تاج بي بي چكونه لګول ـــ!! هغې ته خو د سنګينې معصوميت هم په وړاندې نه ودرېدوــ چې د ډېرو بدني عيبونو د لاسه يې تراوسه چا تپوس هم نه و كړى ـــ خو د خپلې ځوانۍ وير يې وظيفه كړى وه ـــ بهادرشاه د دې هرڅه نه كه هرڅو خبر وه خو ځان يې ناخبره كړى وه ـ خوخداى خبرڅه وجه وه چې دڅوورځو راسې يې طبعه خړه وه ـ ډوډۍ ته يې هم زړه نه كېدو. سحر ورته زبرګې دم كړې اوبه هم وركړې وې خو د خپل وجود دننه يې نن يې يوې عجيبه كمزورۍ سر راوچت كړى وه ـ په لاسو پښو كې يې بيخي لكه چې دم نه وه ـــ د كاروبارې حساب كتاب هره لاڅجه يې رفيقې ته معلومه وه ـــ اوس خو د پلار د كهاتې په كتابچو كې د ليكلو حسابونو او نومونو په حساب طاهرشاه او ظاهرشاه هم پوهېدل ـــ خو بهادرشاه د دې هرڅه لپاره لكه د فرعون ټول عمرې ژوند غوښتوـ كله كله به د مرګ ويرې ګډوډ كړوـ په كور كې د ځوانۍ ماښام ته د رسېدونكو خوښدو وجودونه به يې په ستركو كښې لكه د ګردژنې سيلۍ چوكه شول ـ ستركې به يې وځمبلې، بيا به يې د ماشومې زېبولوبو او منډو ته كتل چې اوس يې اونه ورو ورو راوچتېدونكې وه ـ په زړه به يې تياره راغله ـ بيا به بې د يوې نامعلومه ويرې د لاسه د زبرګې زيړې جوڅې ته چې كتل نو د هغې د ويرې په علاج نه پوهېدوـ خوڅو ځله يې د زبرګې په خوب كې د ويرې چغې اورېدلې وې لكه چې يو خراب خوب يې ليدلى وي ـ هغې به لكه دلېونود خپلو

Downloaded from: ketabton.com



بچو ځنګ ته منډې کړې ـــ په غرق خوب اوده طاهرشاه او ظاهرشاه به مور ته په قهر کتل ،زبرګې به د دواړو بچو نه لاسونه تاؤ کړل ـــ زما بچي ... دا دې ژوندي دي . او بهادرشاه به پوهه شو چې د ویرې خوب یې لیدلی دی . اوس زبرګه خپل دې وهم دې حد ته رسولې وه چې د غم ښادۍ نه پاتې وه . کټ یې نیولی وه ـ خو چې د بهادرشاه ناسازي یې ولیده نو خپل هر تکلیف یې هېر شو نېغه د کټ نه راپاڅېده ـ په ولاړې یې د بهادرشاه نظر مات کړو ـــ د خپل تور سرپیچك نه یې ترلې پېسې د صدقې په توګه د بهادرشاه نه تاو کړې ـ او طاهرشاه ته یې ورکړې چې په کوڅه کې یې چا غریب ته ورکړه ـ!! تاج بي بي چې د بهادرشاه مړاوې جوڅې ته وکتل نو پوزه به یې وچونله ـ د ځان سره به وګورېده او بد بد به یې د زبرګې په ځنګ کښې ولاړ بهادرشاه ته وکتل ـــ د تاج بي بي په ذهن او زړه کې به د خپلې خاورې شوې ځوانۍ د غم یو بځري غرغنډه وکړه ـــ

***

Downloaded from: ketabton.com



دسکندرشاه دکورملکه خو جماله نه وه ـــ ګل پاڼه وه، هغې هم د بهادرشاه کاکاجي د ډېر دولت راجمع کولو قیصې اورېدلې وې خودګل پاڼې کره خوهاغه څه نه ووڅه چې دبهادر شاه کره وو۔ د دواړو استوګنې هم فرق لرلو، کورونه یې هم دیو بل نه بدل وو، ګل پاڼې خو چې سترګې غړولې نو پلار یې یو معمولي دوکاندار لیدلی وه ۔ساده غونډې کور چې دوه لویې کوټې یې لرلې ۔بل خوا د طاهرشاه او ظاهرشاه استوګنه په یوه ښائسته حویلۍ کې وه ـ د دواړو ورونو سره به شفیقی لکه د نوکر ګرځېدو ـ د زمري خو که هرڅو په ماشومې زېبو د اوس نه سترګې ښخې وې خو ګل پاڼې خو د دې کورنۍ سره تربورولي او تربګني ساتلې وه ۔دا به یې وئیل چې که زه ژوندۍ یم نو خپل پلار به د بهادرشاه سره په تول برابروم ۔خو دا د هغې یو ګمان وه ۔ هغې څه کولي شول، هسې د بدنیتۍ او تعصب نه به یې یوغر بل غر ویشتو۔خو بیا هم چې د زبرګې چاچي په غاړه به یې لویه غټه اته لړه د سرو کتماله راځوړنده لیدله نو د خپلې مور تشو لېچو به ډېر زهیره کړه ـ د هغې که وس رسېدی نو د بهادرشاه ښخ کړی دولت او سره سپین به یې ځان له کړی وی خو داسې کېدی نه شوه ۔بس د دواړو کورونو ترمینځه په دې نامناسبه فرق په حسد کښې وساتله او د خپل دې حسد زور به یې کور کې د نورو

Downloaded from: ketabton.com



بندیانو او په تېره تېره د ازمري او ګُرګُرې نه ویستواو خپل ځان يې په داسې طریقه خپل پلار ته نزدې کړی وه چې د هغې د خلې وتلې خبرې ته به سکندرشاه پښې تړلی چرګ وه ـ هر ماښام به يې چې د ځان سره د خوراك څښاك څه ځیزونه راوړل نو د هغې وېش به د ګل پاڼې کار وه او دا د هغې خوښه وه چې بل چاته هرڅومره ورکوي یا که نه ورکوي هم د هغې په ورانديې چا د خبرې مجال نه لرلوـ زمری خو به کور ته لکه د ګیدړ وتو ننوتو. د وخت سره سره دا یوه خبره د زمري په زړه کښې کښېناسته چې دا خو ګل پاڼه مونږ د هرڅه نه بهر وباسي ـ اوس زمري دا نه شو زغملی چې د هغه یا د ګُرګُرې په حق دې ګل پاڼه ډاکه واچوي ـ هغه په زوړمبي ځل د ګل پاڼې په رویه احتجاج وکړو. ټولو په حېرانتیا زمري ته کتل ـ او ګل پاڼه خو د خندا نه شنه وه ـ خو لږ ساعت پس لکه د ټپي شوې اژدها په پرشېدوشوه ـ دهغې غږ نن تر لرې لرې اورېدی شوـ خو ورسر د زمري غړمبار هم نن د ډېرو خلکو سترګې ځان پله راړولې ـ زمری قهر نیولی وه ـ هغه هم نن ځان څوګند کړی وه چې په کور کې به نور د ګل پاڼې زیاتی نه زغمي ـ او د هاغه راز نه به د پلار مخکښې پرده لرې کوي چې د هغه سره وه ــ

***

Downloaded from: ketabton.com



رفيقی د بهادرشاه ښې لاس وه او بهادرشاه هم خدای په رفيقي ډېر مهربانه ساتلی وه. هغه وئيل چې د هرچا سره د زړه خبره سړی نه شي کولې. هر کس څوك په خپله کوڅه او دروازه نه شي راننباسلی. رفيقي ټول عمر زما د ګټې او تاوان خيال ساتلی دی. رفيقی هم د دې کورنۍ نمك خور وه. ځان يې ټول عمر د دې کورنۍ سره کلك تړلی وه. خو چې کله د طاهرشاه او د خپل زوي شفيق په يارانه خبر شو... نو دا خبره به يې ورته بيابيا يادوله چې دا زمونږ نائکان دي د دې خبرې به ډېر خيال ساتې ـــ خو شفيق هم د نوې ځوانۍ په نشه ځانګېدو ـــ د پلار داسې خبرې به يې ډېرې په غور نه اورېدې ـــ هغه خو هم طاهر شاه ته د يارۍ کلك لاس ورکړی وه. په دې پوهېدو چې د پلار د ډېر دولت وارثان طاهرشاه او ظاهرشاه دي ـــ او زما د پلار څه دي؟ ټول عمر يې د دوي بيګارونه کړي دي ـــ حالانکې د بهادرشاه د لاسه اوس د دې کورنۍ ورځ ډېره ښه شوې وه ـــ ټولې پېسې ټکې يې د رفيقي په لاس وې خو هغه به خپل حساب بهادرشاه ته ښه په ايمانداری برابر ساتلو ـــ ځکه خو بهادرشاه د رفيقي نه بغېر ټك نه شو کولی. خو خدای خبر ولې... د څو ورځو راسې د رفيقي طبيعت ډېر ګډوډ وه ـــ د هغه په حساب کې د ډېرو پېسو تېروتنه راتله ـــ هغه په خپلو مزغو ډېر زور واچوه خو په ياد يې نه راتلل ـــ او ډېر خفه په دې وه چې ټول عمر د بهادرشاه باوري پاتې شوی دی او که په دې حساب کې هغه بهادرشاه ته پاتې راشي نو د ټول عمر باور به له لاسو ورکړي ـــ خو په هيڅ نتيجه نه رسېدو. د خپل زوي شفيقي او د طاهرشاه لرې لرې ګرځېدل يې هم په نظر کې وو ـــ په تش لاس خو دومره لرې په مېلو ګرځېدل نه کېږي ـــ د هغه

Downloaded from: ketabton.com



اوس دا غالب ګمان وه چې دغه پیسې شفیقي چپه کړې دي ـــ او چې ښه یقین یې وشو نو شفیق یې ډېر په مینه کښېنولو۔ خو شفیقي یو قران راخستو بل یې کېښودو خو په پیسو داده نه شو۔ رفیقي ډېر پرېشان وه د هغه لپاره دا هم لوی نقصان وه چې نیګړی حساب پوره کړي د دې لپاره به یې د چا نه پور اخستو۔ خو د پټ غل په ګوزار یې ځان ډېر ژوبل ګڼلو۔ شفیقي نن طاهرشاه لاس نیولی د جوارۍ اډې ته روان کړی وه ۔ دواړو دا پته صلاح د هاغه ورځې نه کړې وه چې طاهرشاه ته خپل پلار د ډېرو پیسو ورکولو نه انکار کړی وه او شفیق ته خپل پلار۔ د جوارۍ په داؤ د ګټې خوبونه دواړو لیدل ۔ طاهرشاه خو لکه د پلار د تاوان د کوره ناخبره وه ۔ هغه سره په داؤ د ایښودو رقم نه وه ۔ خو نن د هغه زړه ډېر ډاډه وه ـــ یو څه یې لرل ځکه خو په دانګو دانګو د جوارۍ اډې ته ور روان وه ـــ طاهرشاه خو ورکې ورانې د شفیقي په مرسته ډېرې د پخوا نه پېل کړې وې خو نن هغه د ژوند یو نوی داؤ په منډه کړی وه ـــ ترڅو به مې د پلار څو پیسو ته لاس نیولی وي ـــ؟ په زړه کې یې د ځان سره خبرې کولې ـــ او بیا هغه زر هاغه منظر سترګو ته کړو ـــ چې د مشرې ترور تاج بي بي ببوجي نه یې د صندوق کنجي د بالښت د لاندې پاتې شوې لیدلې وه ـــ ببوجي خدای خبر ولې دومره په تادۍ چرته تلې وه چې دې ته یې پام نه وه کړی ۔ دا خو چې کله سنګینې د کوټې په کټونو ځادرونه او سوزنۍ سمولې نو د تاج بي بي د بالښت د لاندې یې د تاج بي بي نه پاتې د لوی خړ صندوق غټه د اوسپنې د جندرې لویه کنجي مخامخ د کوټې په تاخ کې کېښوده چې د طاهرشاه ورته د لرې نه نظر شو ـــ په طاهرشاه سم اخترشو ولې چې بېګا ورته پلار د پنځو روپو ورکولو نه پوخ انکار کړی وه او طاهرشاه دا خبره په ډېر شدت سره زړه ته اچولې وه ـــ هسې خو به چې پلار روپۍ دوه هم ورنه کړې نو د تاج بي بي زړه پرې ډېر خفه شو ـــ تندر د بهادرشاه په خزانو پرېوځه، جارو پرې راشه ـــ!! چې هلك یې

Downloaded from: ketabton.com



ورتلوـ!!! او چې طاهرشاه به خفه زهير خپلې ترور وليدو نو زر به يې ورته غلى غوندې اشارت وکړو ــ طاهرشاه به خپلې ترور پسې کوټې ته ورغلو. تاج بي بي به سرپيچك پورې ترلې کنجې راپرانسته او د خپل لوى صندوق قلپ به يې خلاص کړو ــ بيا به يې زر ورته په چپه خله دوه غټې غټې روپۍ په لاس کېښودې ـــ ورځه !! او چې طاهرشاه به د ترور نه روپۍ ترلاسه کړې په هغه به اختر شوـ!! ځان به يې منډې ته سمولوـ چې شيت ... په غلې اشاره يې طاهرشاه په ځاى ودرېدوـ هڅ دا بله روپۍ شفيق ته ورکړه ــ د تاج بي بي په سترګو او مخ به د تېر وخت د يو ياد اوراورکي په رڼاګانو شول ـــ!! اوس به طاهرشاه منډې کړې ــ زبرګه د ترور او وراره په دې راز ونياز ښه پوهـ وه ـ د ځان سره به مسکۍ شوه ـ اوس که هرڅوتاج بي بي او پرې ډېرې سرتېزه وې د بهادرشاه زور به يې د زبرګې نه ويستو خو چې اېندروريانې به يې په خپلو بچو داسې مهربانه ليدې نو هرڅه به يې هېر کړل ــ طاهرشاه او شفيقى په دو دو روان وو دواړو دا طمع لرله چې د ژوند په دې ورمبې داؤ باندې اېښى رقم به د دواړو دنيا بدله کړي ـــ

***

Downloaded from: ketabton.com



په کورنۍ یوه زلزله راغله، یو طوفان راغلو، د تاج بي بي دصندوق نه غلاشروع شوې وه، دنغدوپېسوسره غل د سرو والۍ هم غلاکړې وې ـ تاج بي بي په چغوچغوژړل ـــ سینه یې ټپوله ـــ وئي خدایه زما په حال یې کړې .... زما پېسې ورپورې اور کړې ... خدایه خپل غل په ګوتو راکړې ـــ!! د تاج بي بي په چغو نعرو ټول لوی واړه راپاڅېدل .صندوق تاج بي بي د کوټې ور ته راښکلی وه . هرڅه یې لټ په لټ کړي وو. زبرګه او پري هم د تاج بي بي سره ولاړې وې . سنګینه خو داسې رېږده چې لاس پښې یې کاږه شول د خلې نه یې خبره نه راوته ـــ پري په چاربندونو لاسونه اېښودي وو ـــ زما په چا شك نشته کانې راباندې خپلې خور غورځولی دی ـــ خپلې یارې زروګۍ ته یې زما ګور کفن غلا کړی دی ـــ زه ښه پوهـ یم ... !! تاج بي بي کور په بله اخستی وه . دا خو ښه ده د حوېلۍ دېوالونه دومره اوچت وو چې د هغې غږ یې راګېر کړی وه ګني کوټې بلې به ټولې د ګاونډیانو نه ډکې شوې وې ـــ زبرګې ته په ولاړه ولاړه رایاد شول چې نن خو بهادرشاه د بازار نه وختي راغلی دی . وجود یې تبجن وه، رفیقې ورته ووې کورته ورشه ارام وکړه زه یم ـــ هغه زر د بهادرشاه کوټې ته روانه شوه ــ د طاهرشاه طبع تسلۍ ببوچي غلې کړه ـــ خو دسترګونه به یې د اوښکو رودونه چا اوچ کړي وو؟ بل خوا پري هم د تاج بي بي په خبرو پړسېدلې ناسته وه ـــ طاهرشاه

Downloaded from: ketabton.com



د بیمار ببوجي ته وئیل ماته به خدای ډېر هرڅه راکړي هغه به ټول ستا وي او خدای خبر ولې د تاج بي بي اوښکې اوچې شوې خپل لت پت داج یې بیرته په صندوق کې کېښودو او د صندوق ور یې پورې کړو ــ طاهرشاه ډېر مطمئن وه چې معامله رفع دفع شوه، د ببوجي اوس دومره د زړه زور نشته چې خبره به شاربي خو طاهرشاه ته د خپل ژوند د وړمبي داؤ منظر او خپل تش لاس راستنېدل رایاد شو ــ په دغه ورځ د ده نه هرڅه تلي وو ــ په وړمبي داؤ خو یې د ډېرو پخو جوارګرو نه ټولې پېسې وګټلې خو په دوېم ځل ورته مخامخ شفیقی وه ــ طاهرشاه ډېر په سُر کې وه ــ جېب یې د پېسو ډك وه ــ خو چې په دوېم داؤ یې ډك جېب تش شو... نو په درنو درنو پښوکور ته راروان شو... په ژوند کې په وړمبي ځل په خپل یار قهر ورغلی وه ــ زړه یې غوښتل چې هم دلته ترې دا ټولې پېسې بیرته واخلي ــ خو شفیقی ډېر مکار وه.... په چل ول یې د طاهرشاه نه ټولې پېسې وهلې وې... طاهرشاه په درنو درنو پښو کور ته روان شو... او شفیقي د ډېرې خوشحالۍ نه، د ډېرې مستۍ نه یوه تېره چغه ووهله... او طاهرشاه داسې ګڼل لکه د شفیقي دې چغې په هغه پورې ملنډې کولې . قدمونه یې ونښتل خو په لاره روان وه ــ

***

Downloaded from: ketabton.com



بهادرشاه دځو ورځوراسې په کور وه د ډېرې کمزورتیا دلاسه یې سر نه شو نیولی ـ چې د کټه به راپاڅېدو نو سر به پرې چورلېدو ـ زبرګه د بهادرشاه سرته په کټ ناسته وه د مونه یې پرې چوپ کول اوبېوزی یې ورته وهلو، په ټول کورد بهادرشاه د ناروغۍ د لاسه دچپتیاخپسه ناسته وه ـ دطاهرشاه اوشفیقي په ورانوویجاړوګرځېدودهغه رنځ نورهم سیواشوی وه ـــ دهغه دقهردنیااوس ډېره غلې وه ـــ داسې ورته ښکارېده لکه چې وجودیې یولوی رنځ راایسار کړی وي ـــ رفیقی د خپل اشنا په ناروغۍ ډېرخفه وه ـ خوداتسلي یې ورکړې وه چې دکاروبار غم به نه کوې ځنګه چې ستا په وړاندې وه هاغه شان به اوس هم وي خوهغه داسې ګڼل لکه چې دهغه په لاس راغلي ډېرڅه د هغه دلاس نه روان دي ـــ د کور واکمني خو اوس ټول په ټوله تاج بي بي په خپل لاس کې اخستې وه ـــ او چې بهادرشاه به په کټ پروت وه نو په ځېکونو به د هغه کټ ته رانژدې شوه په کور دې زړې کړوـــ خدای ته به څه جواب ورکوې؟ د تاج بي بي په دې پېغورونو به د بهادرشاه زړه نور هم راډك شو د ډېر درد نه به یې سترګې پټې کړې ـــ ځوان تکړه بهادرشاه په لړو ورځو کې کټ ونیولوـــ د طاهرشاه ورکو ورانو هم زور کړی وه ـــ د شفیقي سره په ډېرو غلاګانو کې هم ککړشوـ کله به یې داؤ ګټلواوکله به یې بائیللوـــ کورته ناوخته راتله خویې اوس عادت ګرځېدلی وه ـــ زبرګه خواره که یو خوا ته د ژوند ملګري ته په ولاړه تویېده نو بل

Downloaded from: ketabton.com



خوا د طاهرشاه په عبثياتو هم پوهـ وه خو په ظاهرشاه يې نه شو راګرځولی ـــ د شپې خوبونه يې اوس بيخي حرام شوي وو ـ وخت ډېر تېر شوی وه خو د هاغه ليدلي خوب ويرې به اوس هم ناقلاره ساتله ــ د دوارو بچو د ژوند خبربه يې ډېرغوښتو ـ دکلي ديوښه حکيم نه دبهادرشاه علاج روان وه ـــ خو په بهادرشاه کې هيڅ فرق نه راتلو ـ ورځ په ورځ لکه د مالګې اوبه کېدو ـ نري نري ټوخي سره به يې اوس په بلغم کې لړه لړه وينه هم راتلله ـــ او چې د شپې به پرې د نرۍ تبې سره د ټوخي دوره راغله نو زبرګه به يې د خوا نه نه خوزېده ـــ زر به يې توکدان د بهادرشاه مخې ته کړو ـ بهادرشاه د زبرګې په کړاؤ ډېر خفه کېدو ـــ خو زبرګه يوه سياله پښتنه مېرمن وه ـ د خپل ژوند د ملګري خدمت ته يې ملا تړلې وه ـــ دې سره سره به يې د خدای د قهر او غضب نه هم خبرولو ـ خو بهادرشاه دا ګڼل چې د هغه ناروغي دومره لويه نه ده پخپله به ښه شي ـــ خو کله کله به د زبرګې مينې او پرېشانۍ لړ په فکر کې واچولو، ما ټول عمر د بچو لپاره د ډېرې ګټې په سر د سور اور سودا کړې ده ـ په حرامو پېسو مې د ځان لپاره دومره جائدادونه او زمکې اخستې دي چې ټول عمر به د اور بچې راوړي ـ زما د هاغه دنيا فکر خو يوائې زبرګې کړی دی ـ د زبرګې زړه غوښتل چې په داسې حالت کې چې اوس د بهادرشاه زړه ډېر نرم شوی وه ـــ د هغه نه يو کلك سوګند واخلي ــ که خدای جوړ کړی چې بيا اور ته لاس نه کړی، زما سره لوظ وکړه ـــ ماته به حلال رزق ګټې ـ زما په بچو نور د بې وسو خلکو وينې ځوې مه خوروه ــ ځان له د اخرت لاره پاکه کړه ـــ د خدای نه د بخښنې سوال وکړه ـــ!! خو دا ټولې خبرې به د زبرګې په خله لکه د سلګو غلې شوې ــ ځکه چې د بهادرشاه پوره باور وه چې هغه

Downloaded from: ketabton.com



به بیا خپلې دنیا ته روغ شي . زبرګې دعاګانو، وظیفو ته زور ورکړی وه ــ خدایه بچي مې د حلال رزق خاوندان کړې ـــ خو د زبرګې خوارې هره دعا به د عرش نه لړزېدلې هغې ته راستنه شوه ـــ د ظاهرشاه ژوند اوس بیخي په ورانو وه . د مور او پلار ډېر نامنونکی شوی وه ــ بس که د چا خبره به یې منله نو د تاج بي بي ببوجي چې هر وخت به ورته په سرو سترګو ژړېده ـــ او کله یې هم ظاهرشاه نه وه خفه کړی ـــ ظاهرشاه د رفیقې سره د پلار کاروبارسمبال کړی وه ـــ او ډېر ځیرك زلمی ترې وتلی وه . په خپل کار ډېر پوهېدونکی او ډېر سنجیده ــ ځکه خو د بهادرشاه زړه په دې ډاډه وه چې که زه کال هم په کټ کې پروت یم کار به مخ په وړاندې روان وي ـــ!! او په دولت کې به مې کمی نه راځي .

***

Downloaded from: ketabton.com



سکندرشاه د بهادرشاه په وینه او غوښه شریك خپل وه خو د عمرونو او زمانو هاغه بدنیتۍ او د زړه بداوي د بوالونه اوس هم د دواړو تر مینځ ولاړ وو۔ خو د بهادرشاه کټ ته د پرېوتو غم اوس په سکندرشاه هم چکونه لګول ـــ د ډېرو ورځو نه یې په لاره کوټه او حجره کې نه وه لیدلی خو په کور کې د بهادرشاه د ناروغۍ نه هم لاڅوك نه وو خبر ـــ او بیا هغه چې د غرمې د ډوډۍ په وخت ډېر غلی غلی جمالې ولیدو نو هغه پرې د ټکه پوې شوه ۔ سرېه خبر خو دی کنه !! جماله د هغه په خوا کې کښېناسته او په اوږه یې ورته لاس کېښودوـــ "نا۔۔۔ بس هسې ۔۔۔" سکندرشاه خبره زرپه بله واړوله ــ!! خو جماله پوهېده چې د سکندرشاه په زړه کې څه د خفګان خبره اوړي راوړي ـــ او بیا د جمالې پرله پسې تپوسونو هغه دومره ډېر تنګ کړو چې خبره یې نوره په زړه کې ایساره نه شوه ـــ د څو ورځو راسې مې بهادرشاه نه وه لیدلی پرون خبر شوم چې ډېر ناروغه دی نو ځکه ــ!! جمالې چې په غور د سکندرشاه څهرې ته وکتل نو دا خبره یې محسوس کړه چې د سکندرشاه دا دومره خفګان او تشویش چې دی نو بهادرشاه به ډېر ناروغه وي ـــ!! او که دواړه هرڅومره د یو بل د سیورو نه لرې دي خو د وینې درد خامخا وي ـــ او بیا چې ډېر عمرونو پس سکندرشاه د بهادرشاه په حویلۍ قدم کېښودوـــ نو د خپل تېر ژوند د ماضي په ټال یې یوه سرورناکه جوټه اووهله ۔

Downloaded from: ketabton.com



د هغه مور پلار چې د هغه لپاره د تاج بي بي تپوس کړی وه، تاج بي بي د هغه د زړه په پټ ګوټ کې چرته لرې پټه نن هم مسکۍ وه ـــ د خپلې ځوانۍ د غورځنګونو سره ـــ خو چې د هغه وړمبی نظر څنګه د کور دننه دروازې سره په ولاړې تاج بي بي پرېوتو ـــ نو په خپل مخ د ګډې وډې تورې سپينې رېږې احساس د هغه مخې ته د تاج بي بي څهره د وخت د تورو ګردونو نه راښکاره شوې د يوې داسې شيشې په څېر وليده چې وخت او زمانو پرې خپل ګردونه ښه پاښه مښلي وو ـــ خو کله کله به د دې مښلو ګردونو په شا د پړقېدونکې شيشې پلوشو د هغه سترګې وبرښولې. هغه په ډېر غور تولې حوېلۍ ته وکتل ـــ دلته نن يوه عجيبه چپتيا وه ـــ خو ناڅاپي لرې د يو ځای نه د پرې د مستې خندا يوه خوره وره سندره د ده د غوږونو د پړدو سره بې شانه ولګېده ـــ او بيا دواړه د ده مخې ته حېرانه حېرانه ولاړې وې. پرې خو نن هم په هاغه ځای ولاړه وه چې ده ډېره زمانه وړاندې ليده ـــ د تاج بي بي او پرې په عمرونو کې دومره فاصله نه وه خو د پرې رنګ؟؟؟؟؟؟ نن هم په زړونو لوبې کولې شوې ـــ سترګې ورته بې اختياره اوړېدې شوې ـــ خو د تاج بي بي د تېر عمر لوی څادر په مزه مزه راښکلو ـــ د زبرګې وجود هم د حالاتو ډېرو تودو سړو وهلی وه ـــ سنګينې د خپلو مشرانو خوېندو په شان د خپلې زړې ځوانۍ ژړا په ښکاره نه کوله. د ځوانۍ سپرلو خو به يو وخت د هغې په زړه او احساساتو هم نوکارې راښکلې وې خو ـ ـ . د هغې د شخصيت ځينو عېبونو هغه د داسې خواهشاتو نه لرې ساتلې وه ـــ او هغې ته هاغه ورځ ياده وه چې د رفيقې نيا چې د جينکو دلالې به يې کوله ـــ يوه ورځ يې ډېر په سپين سترګۍ د سنګينې مخ کې دا خبره کړې وه ـــ چې خواره به څه د چا د کور

Downloaded from: ketabton.com



شي نه يې اونه غنه د مزې ده ـــ او نه خبرې ... چاړې چپې خو بس ټول عمر د ورور او پلار د غاړې د هډوکو امېل وې ـــ او په دې ورځ سنګينې پټ پټ ډېر ژړلي وو ـــ په دې نه چې ګني هغه د بل د کور کېدى نه شي، په دې چې هغه چاړې تتې ولې ده؟ ژبه يې ولې نښلي ...؟ خو هغې ته څه پته وه چې دا خو د ګران لالا ويره او قهرونو داسې کړې ده . د هغه هېبوتونو ګونګې کړې ده ـــ ګني چې کله د زېبو سره لوبې کوي څه ويره ترهه يې په وړاندې نه وي نو بيا خو لکه د رېډيو غږېږي ـــ!! اوس خو سنګينې خپل ټول فکر د خپلې ورېرې زېبو سره تړلى وه چې نوې نوې د ځوانۍ په درشل پښه کېښوونکې وه ـــ هغې د خپلې ورېرې د خپل ژوند او کور ډېر ښائسته خوبونه ليدل ـــ هغې به اوس هم په لوبو کې زېبو ناوې کوله ... په مينه مينه به يې ورته کتل ـــ شايد د هغې فکر د ځانه اوړېدلى وه ـــ که خداى مه کړه د دې کورنۍ تاريخ په زېبو تکرار شو نو د يوې بلې پېغلې ځواني به په دې حوېلۍ کې لوخړه شي ـــ سکندرشاه ډېره لحظه د بهادرشاه سره په لوى دالان کې ناست وه ـــ بهادرشاه د خپل کبر او زور د اس نه لکه چې راغورځېدلى وه، سترګې يې کوغالو ته پرېوتې وې ـــ په مخ يې د خپلو زياتو او ظلمونو احساس ډېر څرګند ښکارېدو ـــ "تاته ډېر ملامته يم ـــ" او چې بهادرشاه په ډك ستوني څنګه دا خبره وکړه نو د سکندرشاه پرې زړه ډېر خفه شو ... نه نه وروره! داسې مه وايه زما سره دې هيڅ بد نه دي کړي ... هغه زر د بهادرشاه نه د ملامتې احساس لرې کول غوښتل . "ما که د تاج بي بي لاس تاله درکړى وى نو نن به ته زما متهې وزرې وې . . . " بهادرشاه اوس په زوره زوره ژړل خو د هغه کم طاقتۍ د هغه د ژړا قوت ذرې ذرې کولو ـــ د هغه زړه سم راډك شوى وه ـــ خپل کمزوري

Downloaded from: ketabton.com



حالات د هغه نه د خلاصي ژړا وس هم اخستی وه ـ "وروره!! زه نن هم ستا متې وزرې یم ـ ـ" سکندرشاه د زړه نه د هغه تسلي کوله ـ او بهادرشاه هم د هغه په تسلۍ لږ په استقامت شو ـ په دې دوران کې تاج بي بي د شنې مېوې یو غټ پتنوس د دواړو مخې ته کېښودو ـ تاج بي بي چې په پتنوس رانسکوره وه تکه سره منه یې ځنګه چې په چاړه پرې کوله نو لاسونه یې لکه د ګوزن رپېدل ــــ سکندرشاه د تاج بي بي د لاسونه منه او چاړه واخسته ــــ د دواړو سترګې د یو بل سره د څه لحظې لپاره څلور شوې ــــ تاج بي بي یوه لویه لوپټه په سر کړې وه ــــ د هغې په مخ او لاسونو راغلو ګونجو یو ځل بیا د تېر وخت د دواړو کورونو ناسازي د سکندرشاه مخې ته کړه . . . د هغه همدردۍ خو د بهادرشاه د درېواړو خوېندو سره وې چې د بهادرشاه د لاسه یې ځوانۍ بائیللي وې ـ اوس یې د خپلو ځوانو په څلو بې اوښکو ژړاګانې کولې . . . د حوېلۍ د لوی دالان یو سر او بل سر ته اوس هم د طوطي او مېنا پنجرې رازوړندې وې ــــ دې دواړو مارغانو په دې پنجرو کې قېد که د خپلو چغو نعروډېر وختونه اړولي وو ــــ خو د خپلو مالکانو ډېر دردونه یې په خپلو چغارو سندرې کړي وو ــــ طوطي نن بیا په زوره زوره نعرې وهلې ــــ او مېنا هم ښه په زوره زوره د خپلې مالکې ویرونه، ارمانونه ترخپل چغاري د لاندې راوستل خو ډېره کمزورې شوې وه ــــ مښوکه یې ماته راماته وه ــــ بس دا پنجره پرې اباده ده ــــ او دواړو به دا ګڼل چې زمونږ په سینو کې د چا رازونه دي ـ او مونږ په هغې ژوندي یُوسکندرشاه دواړو پنجرو ته هم وکتل او بهادرشاه ته هم، داسې ورته ښکارېده لکه چې دا لویه حوېلي یوه غټه پنجره وي او دا ټول انسانان په کې وخت او زمانې لکه د دې طوطي او مېنا قېد کړي وي ــــ خو

Downloaded from: ketabton.com



په دې پنجره کې یواځینۍ د پرې د شونډو نرۍ مسکا د وخت د تېرېدو پرته هم په برقه خندا بدله شوې وه ــ او د دې ژوند او مستۍ په شاېې د ډېرو پېغلو لاس وه ــ چې د پرې ژوند، شپې او ورځې یې رنګینې ساتلې وې ــ د هغې دا غم نه وه چې زه ولې د خپل کور نه شوم؟ ډېر وخت یې د کور په تیاره تاخانه کې د مینې یوه دنیا د زړو سره اباده کړې وه او بیا به په ډېرو جینکو پسې ګرځېده ــ ډېر وخت یې ډېرې جینکۍ د هوس ښکار پاتې شوې ــ او اوس هم د هغې دنیا اباده وه ــ سکندرشاه ګېرچاپېره کتل ــ د حویلۍ د لوی دالان بلې او چجې رانسکورې لیده شوې ــ د دېوالونو نه په دلو دلو ښورې ښکته پرتې وې ـ خو د حویلۍ باغیچه نن هم تازه او شنه وه ـ د سرو ګلابونو ګڼ بوټي د ګلابونو د زوره کاږه په زمکه پراته وو ــ کور کې د ډېرو کټونو لنګې شلېدلې پرتې وې، ځنې په کې جولنګي وو ـ د ورانې ورانۍ زړه دردونکې احساس د سکندرشاه زړه نور هم راډك کړو ــ هغه د زبرګې د لاسه ببوزی واخستو او په مزه مزه یې د بهادرشاه مخې ته وهلو ـ د هغه د پټو سترګو نه راروانې اوښکې اوس د ببوزي په باد وچېدې ـ تاج بي بي خو نن ډېره خوشحاله ګرځېده ـ د ګوړې یخ ټینګ شربت یې په سور خاورین کنډول کې سکندرشاه ته وړاندې کېښودو ــ سکندرشاه چې ځنګ د شربت نه ګوټ وکړو نو مخامخ د دالان مخې ته د دېوال سره ولاړې شنې هاغه پخوانۍ خاورینې چاټۍ ته یې وکتل، د چاټۍ په ځنګ کې کوږ وور ګړونج وجود هم لکه د بهادرشاه نسکور لیدی شو ـ چاټۍ څه په استقامت ولاړه وه هم هاغه شان او د خپلو مالکانو سره یې د خپلې مینې پټ پاللو ـ اوبه یې نن هم ډېرې خوږې او یخې وې ـ سکندرشاه په دې منظر یوه دیکه وخوړه ډېر لرې لاړو

Downloaded from: ketabton.com



ــ د تره او چاچي پخوانی دور يې رامخې ته شوــ او بيا د عمرونو او زمانو هاغه لويه جدائي چې د دې کورنو ترمينځه تېره وه ــ اوس بهادرشاه سترګې پرانستې وې ـــ زبرګه د خپل لېور په راتګ ډېره خوشحاله وه ـــ زېبو او سنګينه خو يې له ځنګه نه خوزېدې چې ډېره لحظه پس په انګړ طاهرشاه او ظاهرشاه هم غبرګ راننوتل نو د ډېرې خوشحالۍ نه يې ورته چغه کړه ... هله زر راشئ کاکاجي مو نن کور ته راغلی دی ... سکندرشاه دواړه ښکل کړل ... د دواړو په ټوپيانو به روزانه سنګينې او تاج بي بي ګلابونه ټك وهل .د زبرګې خو په دې کور کې د ټولو نه لوی "سُود" خپل بچي وو خو خدای خبر ولې . . . نن د طاهرشاه او ظاهرشاه اونې ډېرې وتلې ښکارېدې ... او ناڅاپي زبرګې چغه کړه او د نا ... سره په هغې څه چل وشو ... ټولو په هيبت رامنډې کړې ... زبرګه يخه تخته په زمکه نسکوره پرېوته .ـــــــ

***

Downloaded from: ketabton.com



خدای خبر څه وجه وه خو د طاهرشاه خو د هاغه ورځې نه د ډېرو پېسو سودا مله شوې وه چې یو ماښام یې پلار د پېسو غټه کڅوړه په کټ کې راتشه کړې وه ـــ او ده چې دا ولیدې نو د پېسو دا بیا بیا شمېرل یې ډېر د خوند وګڼل هاغه وخت طاهرشاه لا دومره لوی نه وه خو بس د پېسو عشق یې ملګری شو... نن هغه د ډېرو پېسو مخونه لیدلي وو زړه یې وغوښتل چې د دې ډېري نه دا جولۍ راډکه کړي او لرې چرته د مېلې سېل ته لاړ شي، چې د ښار په بازارونو وګرځي .... چې غوړې امرسې او ځلوبۍ ځان له واخلي ... خو افسوس چې پلار په ډېره ترخه ورټلو، تښتته مرداره !! او د بهادرشاه په دې قهرېدلي غبږ طاهرشاه دا څوګند کړی وه چې هم دومره ډېرې پېسې به ګټي د هغې مالك به یواځې طاهرشاه وي . او کله چې طاهرشاه شفیقي ته د خپل ارمان خبره وکړه نو شفیقي د ځان سره نېغ د جوارۍ اډې ته بوتلوــــ شفیقي ډېر چالاك وه، په چل چل به یې په طاهرشاه د کور او یو ځای بل ځای نه غلا هم وکړه ـــ او د غلا پېسې به یې ترینه هم وګټلې د طاهرشاه په لاس به هیڅ رانغلل ـــ خو شفیقي هم اوس طاهرشاه داسې ګېر کړی وه چې د لاسه یې نه ورکولوــــ اوس خو زمری هم د دوي ملګری وه ـ شفیقی که ډېر مکار وه نو زمری هم ښه تللی وه بس که ساده بوده یې موندلی وه نو طاهرشاه وه ــــ دا ځل خو ورته دواړو یوه صلاح کړې وه . داسې که د ده نه هر وخت هر داؤ

Downloaded from: ketabton.com



زه او ته ګټو نو زړه به يې تور شي او که د جوارۍ نه يې لاس واخستل نو مونږ سره دومره پېسې چرته وي ـــ؟ دا ځل به داؤ په طاهرشاه ګټو ....!!

د زمري د دې خبرې سره شفيقي مرسته وکړه ـــ او کله چې د زمري او شفيقي نه ننني داؤ طاهرشاه پرله پسې وګټلو نو په مخ يې د ډېرې خوشحالۍ نه رنګونه راوربدل ـــ په لاره يې خپل لاس په جېب کې کللك ابښودى وه ـــ زمري او شفيقي ورپسې ډېرې چغې وهلې .. يارو!! شاته وګوره!!! خو طاهرشاه به نن د ډك جېب سره د ښار لويې مېلې ته روان وه . دې ارمان خو په پېسو پسې لولپه کړى وه .

***

Downloaded from: ketabton.com



تاج بي بي چې د کله نه سکندرشاه لیدلی وه ـ زړه یې خوږ خوږ درد کولو ـ په کټ کې به خوره وره پرېوته ... ځنګل به یې په سترګو کېښوده ... او یو خوبولي خیال به نشه کړه .... تاج بي بي او سکندرشاه دواړه د کوټې سر ته ختلي دي ... په مینه مینه یو بل سره د راتلونکي ژوند سوګندونه کوي ـ سکندرشاه هم د تاج بي بي سره نژدې ناست وي ـ سره غرمه وي ـ چپه چپتیا وي ... دواړه یو بل سره د راز و نیاز خبرې کوي ... چې ناڅاپه تاج بي بي خپل سر د سکندرشاه جولۍ کښې کېږدي ... سکندرشاه پرې د ډېرې مینې نه رانسکور وي ـ خپلې تودې تودې شونډې د تاج بي بي په مخ او شونډو کېږدي ... د تاج بي بي وجود مېږي مېږي شي - - - دواړه سینې یې د ډېر جوش نه نېغې ودرېږي ... او بیا دواړه د خپلې ځوانۍ خولې د کوټې د پاسه د تودې غرمې او سور نمر نه یو خوا ته د دېوال چنې ته د راغزېدونکي سیوري ته په پروت کټ وباسي ـ دواړه د مینې یو داسې حد ته رسېدلي وي چې د مینې د شدت نه راولاړې ویرې اخستې وي .... اف!! دا مو څه وکړل؟ تاج بي بي د سکندرشاه منتونه کوي ما د ځان سره وباسه ... زه به د رسوائۍ د دې داغ سره څنګه ژوند کوم ... ګران لالا به مو ووژني ـ!! او سکندرشاه د تاج بي بي لاسونه په خپلو لاسو کې کلك نیولي وي . ته اوس زما امانت هم یې او عزت هم ... زه به په بهادرشاه جرګه وکړم ــــ!!

Downloaded from: ketabton.com



او د سکندرشاه په دې خبره تاج بي بي د سکندرشاه په څنګ کې مدام د داسې مینې او شدت غوښتونکې شي ــ بیا تاج بي بي د بنارسۍ په جوړه کې د سکندرشاه د لویې کوټې په سورپالنګ کې ناسته وي د هغه په طمع وي ــ د هاغه مینې او سرور نشه پرې ټوله خوره وي ... سکندرشاه هم د یو باوقار زلمي په څیر د تاج بي بي د ژوند په انګڼ پښه ږدي ـ او ژوند د مینې یوه سندره شي ـ او ناڅاپه د بهادرشاه د پرله پسې ټوخو اواز د تاج بي بي د خیال دنیا په بله واړوي ــ وار دې تېر شه !! د زمکې زړې شې .. تاج بي بي په بدو ردو ښېرو ازارونو د کټ نه راپاڅي ... او چې وګوري نو سنګینه او زبرګه په شنه منډه د بهادرشاه کوټې ته ور روانې وي ــ ببوجي ببوجي ماته یوه انه راکړه زه پرې لوکاټ اخلم ــ زېبو د تاج بي بي مخې ته ولاړه وه ــ وئي !! دې اونې ته دې وګوره!! دې سور سپین رنګ ته دې وګوره !! اوس بهادرشاه د زوره پرېوتو نو ته به اوس په دوکانونو ګرځې ـ او کنه، تاج بي بي په یو مخ زېبو ته یو سل خبرې وکړې ــ او زېبو غلې د ترور مخې ته ولاړه وه ــ دپلار ټوخې یې اوس لږ غلې شوې وه ــ!! او بیا سنګینه ورو غوندې د کوټې نه راووته د زېبو په خفګان خو داسې پوهه شوه لکه چې مور د خپل بچي په خفګان پوهېږي ـ هڼ! واخله! دا مې تاته ساتلې وې ـ سنګینې د لوپټې د پیڅکې نه انېز پرانستو او زېبو خوشحاله منډه کړي ــ د تاج بي بي طبیعت خو په دې خراب شوی وه چې د خیالونو د دنیا نه د بهادرشاه ټوخې رابهر کړې وه ــ هغې ته اوس په دې خیالونو کې یو خوند محسوسېدو ــ یو سرور او یو نشه ... وخت که هرڅو تاج بي بي د ډېرو هلکانو ارماني ساتلې وه خو سکندرشاه یې د کاکا زوی وه ــ د هغه خیال به ورته ډېر خوند ورکولو ــ هسې خو به

Downloaded from: ketabton.com



يې کله کله د شپې په خوبونو کې رفيقی هم ليدلو ــ دواړو به پټ پټ ګرځېدل کول ــ رقيقی خو به يې دومره ښکلولو چې په چيياري به يې سترګې وغړېدې . . خوب به يې د سترګو نه دانه وانه شو ــ تاج بي بي به د ځان سره مسکۍ شوه داسې به يې ګڼل لکه چې ټوله شپه يې رفيقی د خپلې غېږې په ځانګو کې ځانګولی دی ــ د رفيقي د سترګو کتل به يې ډېر خوښ وو ــ د ډېرو جينکو سره يې د رفيقي په سر زړه بداوی هم راغلی وه ــ او د خپلې خور پري سره د رفيقي په سر د کړې جګړې منظر خو به يې هر وخت په سترګو کې وه ــ ځکه چې رفيقی هغې د خپل زړه او وجود مالك ګڼلو ــ او د خپل ژوند دې لويې محرومۍ او ارمان د احساساتو يو داسې مقام او حد ته رارسولې وه ــ چې خپل ورك ارمان يې هم داسې په خوبونو او خيالونو کې لټولو ــ ځکه چې وخت خو اوس د هغې د لاسه وتلی وه ــ د ژوند هر سفر او هر پړاؤ يې بس په دې کور کې سرته رسېدونکی ليدلی وه ــ د بهادرشاه نه د کرکې او نفرت اور اوس لاڅه بل رنګه لېونۍ کړې وه ــ جنګ جنګ نعرې به يې وهلې ــ په لويو لويو چغو به ژړېده ــ د انګڼ په مينځ کې به ودرېده سر به يې سرتور کړو او بهادرشاه ته به په وېنا او ښېرو سر شوه ــ اوس به ټولو دا وئيل چې تاج بي بي خواره خو لېونۍ شوه ــ او بهادرشاه د ازارونو او ظلمونو د لاسه په کټ پرېوتی يو داسې بې وسه انسان دی چې د کړو ظلمونو د سوَبه د عبرت يوه نمونه ده ــ خو زبرګه په دې حال کې هم د بهادرشاه د څنګ نه يوه لحظه نه شوه خوځېدې . د کلې غم ښادي يې هم په سر وه چې په دې پسې به اووته نو د بهادرشاه فکر به ناقلاره ساتله ــ چې څه حال به يې وي ــ تاج بي بي او پري خو به ګوټ اوبه هم نه ورکولې په اوازونو به يې زړه سترې

Downloaded from: ketabton.com



شو که د زېبو او سنګین به ورته خیال شو نو ورسره به ناستې وې ـــ بهادرشاه د لاچارۍ او بې وسۍ یو تصویر وه ـــ د نري رنځ اواز خو پرې ډېر مخکښې شوی وه ... رفیقي به د ښار هسپتال ته کله کله بوتلو ــ خو بهادرشاه داسې ګڼل لکه چې د هغه رنځ د علاج نه وتلی دی ـ اوس به بهادرشاه کله کله دومره کمزوری شو چې د نعرې طاقت به یې هم نه لرلو ـــ د هغه هره نعره او غږ به هغه ته واپس راوګرځېدو ـ چې زېرګه به په مانځه وه نو هغه به ډېر تنګ وه ـــ زېرګې ورسره یو ټیمګی اېښودی وه چې که اواز نه شي راکولی نو دا ټیمګی په چوکه ټنګوه په غږ به یې زه راځم ـ!! خو کله کله به د بهادرشاه په ډنګ ډنګ هم زړه ستړی شو ـــ او چې لا د تاج بي بي خوب یا خیال به د بهادرشاه په ټیمګي ډنګولو خراب شو بیا خو به یې بهانه غوښتله ـ په یو مخ به د بهادرشاه کټ سره ولاړه وه ـــ او سپورې ستغې به یې وئیلې ـ تاته مرګ هم نشته چې بې غمه شو درنه ـــ څنګ ظلمونه دې په ما کړي دي .. . زما ژوند او ارمانونه دې خاورې ایرې کړې دي . . . ته به هم داسې کړېږې ـ!! تاج بي بي به په ولاړه ولاړه د ښې لاس شهادته ګوته تلې ته بیا بیا راچوله او لکه چې بهادرشاه ته د هغه کړي ظلمونه وریادوي ـــ خو تاج بي بي به دځان د فکر نه نه وتله ـــ بهادرشاه خو که ظلم کړی وه نو په تاج بي بي یې کړی وه ـ چې په کور یې زړه کړې وه ـــ

***

Downloaded from: ketabton.com



ګل پاڼه د پلار د ډېرې مينې د لاسه د خودسرۍ داسې حد ته رسېدلې وه چې د کور د خلکو سر خوږې جوړه شوې وه ــ د سم دم زمري نه خو يې داسې ګيدړ جوړ کړی وه چې مخ به يې ترې پناه کولو ــ د پلار ټوله صلاح مصلحت د ګل پاڼې سره وه جمالې به سکندرشاه ډېر پوهولو چې لور ذات ته د نور اولاد په مقابله کې دومره ډېر پام لرنه کول ښه نه وي ... مشر اولاد خلکو ته ګران وي خو د نورو بچو هم خپل ځايونه وي ـــ او که د ګل پاڼې دا نيازبين توب هم داسې وي نو دا به درته کار وګوري ـــ!! سکندرشاه پوی سړ وه، ډېر عقل مند وه خو د اولاد او بيا د ګل پاڼې په معامله کې ړوند کوڼ وه ــ د وړوکوالي نه يې په خپله اوږه خېژولې ګرځولې وه ــ جمالې به ورته دا هم وئيل چې د اوږې نه دې سر ته نه شي ـــ!! اوس هاغه ورځ په سر راغلې وه خو سکندرشاه نه وه پوهه يا که پوهه هم وه ځان يې ناغرضه کړی وه ـــ هغه د خپلې کوټې په سر کې شفيقی ټوټو ځله ليدلی وه خو د خپل کور مخې ته يې چې په وړمبي ځل په ډېره ښه ځنه سترګه وليدو نو زړه يې بې واره بې واره درزېدلی وه ــ په دغه وخت يې ګل پاڼه هم يو ځل ډېره وارخطا ليدلې وه ـــ د ګل پاڼې رنګ رغونه او په ترپکو ګرځېدل پرې په وړمبي ځل ښه نه وولګېدلي ـــ او چې يوه ورځ په ډوډۍ ناست سکندرشاه په واز کومې د ګل پاڼې د خلې نه ډېر اړتاوك د شفيقي نوم او ذکر د هغه په غوږو ولګېدو ــ نو جمالې ورته په پس پسي يوه داسې خبره وکړه چې د سکندرشاه په مرۍ کې نمړۍ ونښته ــ د قهر او غصې نه يې وينې لمبه وکړه ــ د شفيقي دا مجال؟ او بيا جمالې په ډېره ګرانه

Downloaded from: ketabton.com



قهرېدلی سکندرشاه کوټې ته کړو. خپله لور دې پوې کړه ـــ خلك وائي که خپله چرګه مو غله نه وی د بل کره به یې هګۍ نه اچوله ـــ خو اوس هم بهر په انګڼ کې ګل پاڼه مسته مسته ګرځېده ـــ د ځوانۍ نه په چورلکونو وه . د ښائستونو د باره درنه درنه وه ـــ او د پېغلتوب نشې په هوا کړې وه ـــ د سکندرشاه زړه اوس د ګل پاڼې خطا نه منله ـــ ټوله خطا یې د شفیقې ګڼله ـ!! او چې بیا ګل پاڼې خپل داجي ته دواړه لاسونه په ډېره مینه په غاړه کې واچول نو د سکندرشاه نه یې هرڅه هېر کړل ـــ د سکندرشاه هاغه مینه او محبت یې مخې ته وه ـــ بچی خیال کوه . ګل پاڼه په دې پوهه شوه چې د داجي دا خبره هغې ته د احتیاط کولو لپاره نه بلکې د دې لپاره کوله چې څه کوې نو چې څوك دربانده پوه نه شي ـــ او ګل پاڼې د یوې نرۍ مسکا د ادا سره لکه د ټال جوټه وخوړه ـ! هغې ډېر په فاتحانه انداز د مور مخ ته وکتل چې ـ زما داجي اوس هم زما دی ـــ زه چې هرڅنګه شم بیا به هم د خپل داجي یم ـــ او جماله خواره هکه دقه ولاړه پاتې شوه ـ

***

Downloaded from: ketabton.com



د طاهرشاه غوږونو ته هم د شفيقي او ګل پاڼې د خبرو اترو انګازه رارسېدلې وه ـ خو طاهرشاه په دې طمع وه چې يا خو شفيقى په داسې څه حرکت پـه خپلوسترګو ووينـي او يـا د شفيقي د خلې نه د ګـل پاڼې نـوم واوري ـ ـ ـ ـ او بيـا هغـه وخت راغلـو چې شـفيقي پـه ډېـره بې شرمۍ د ګـل پـاڼې ذکـر وکـړو ـــ"زمـا سـره خـو يې خبرې اترې شـتـه ـ ـ ـ" شفيقي دا ګڼـل چې يارو ته د زړه خبره کوي ـ خوهغه څه خبر وه چې د طاهرشاه زړه او وجــود پــه دې يــوه لمحــه کــې دغيــرت او عــزت د کومــو قيـامتونو نـه تېـر شـول ـــ هغـه چې دشـفيقي اعتمادتـه وکتـل نوغلى پاتې شوولې چې ـ ـ ـ شفيقي دومره غټه خبره داسې پـه بې زړه توب خونه شوه کولې ـ ـ ـ خامخـا بـه د ګـل پـاڼې لاس پـه کـې وه طاهرشـاه د خپلـو مشـرانو نـه پـه کـورکې داخبـره ډېـره اورېدلې وه چې دشفيقي پـلار نيکـه عمر تـه د دې کورنوتـالي څـټ اوکســبګردي خــو د دې نــه نــه وه خبرچــې د دې کــورنۍ پېغلوپه هردورکې دې کسبګرو تـه د زړونودبامـه کتلـي وو ـ يـو تاريخ خولاد دې خبرې ډېرپخـواد ليکـل کېدونـه پـاتې شـوى وه ـــ خو د خواوشاډېروخلکوته دا ښکاره شوې وه چې دبهادرشـاه د خورتاج بي بي او د شفيقي د پلار ليدل کتل هم شوى وو ـ يـو بـل يـې طبعـې تـه پرېـوتلي وو خـو د ويـرې او د روايـاتودلاسـه زړونه بس ديوبـل دتصـوراونوم ترحده درزېـدلي پـاتې شـوي وو دا بيله خبره ده چې تاج بي بي د خپل زړه او وجود په غاړه چې

Downloaded from: ketabton.com



د ارمان کوم نومونه په ډېره مینه ګل کړي وو په په هغو نومونو کـې د رفیقـي نـوم د مرکزیئـت پـه درجـه ښکارېدوـــ خـو دطاهرشاه فکرته به داکله راتله چې ببوجي زما سره د شفیق په لیـدو دومـره خوشـحاله ولـې وي ؟ د هغـې پـه سـترګو کـې سـاه ورکـونکی ارمـان بیـا ولـې ژونـدی شـي؟ ببـوجي زمـا نـه زیـات شفیق ولې ښکلوي ؟ ایا په دې چې زمـا ملګری دی؟؟ خو نـن طاهرشاه ته د شفیقي او ګل پـاڼې تعلق د تېـر وخت سـترګو تـه کـړی وه ـــ ببـوجي چـې پـه رفیقـي ډېـره مئینـه وه ـ خوداخبره او راز د روایـاتواو د طبقـې د تـوپیر لـه سـوَبه پـه زړونـوکې پـاتې شـوی وه ـــ طاهرشـاه یـوه لحظـه ډېرګـډوډ پـاتې شـو، د خپلـې کورنۍ عزت یې د داسې خلکو د لاسه تار تار نه شو لیدلی خو د مجبورۍ او بې وسـۍ یـوه لومـه یـې پـه خلـه کـې پـاتې شـوه ـ بیاهم دلرلي غېرت غوښتنه یې دا وه چې د شـفیقي سـره خپـل هر تعلق او اړیکه پرې کړي ـــ شـفیقیه!!! خوښ بـه دې شم ـ ـ ـ دا نوم به دې د مرګه پاتې کړم ـــ پـه تلوتلو کـې یـې شـفیقي تـه غـاښـونه وچیچـل ـــــ!! او چـې طاهرشـاه کـور تـه روانېـدو نـو شفیقی یې مخې تـه راګرځېـدلی وه ـــ ټـخ ـ ـ ـ پـه مـخ یـې ترېنـه تـوده څپېـړه ووېسـته خـدای خبـر څـه وجـه وه چـې طاهرشـاه پـه ورمبي ځل ډېروارخطاشوـــ د شفیقي مقابله ورته په دې مېـدان کې یواځې ګرانه شوه ـ په مخ یې لاس اېښی وه ـــ او د ګوتې پـه اشارت یې په تلو تلـو کـې شـفیقي تـه یـوه داسـې دهړکـه ورکـړه چې شفیقی هم ویرې واخستوـــ!!

***

Downloaded from: ketabton.com



د بهادرشاه لنډې لنډې ساګانې او ټوخی به د ټولو لپاره د ډېر تکلیف وه ــ اوس خو پرې هم د ورور په حالت د خپلو ورانو او عبثیاتو نه لرې لاس په سر شوې وه ــ ظاهرشاه په پلار وسې کولې چې د ښار لوی ډاکټرسره مې خبره کړې ده هلته به دې داخل کړم خو بهادرشاه نه منله ـــ د هغه په دې دومره دنیا دولت کې په ځان هم د یوې پیسې د لګولو سود نه راتلو ــ په کور کې د پیسو ټکو خواري ده زه په ځان پوهېږم ــ!! د بهادرشاه ټوخي نن وار نه کولو ــ د پرې په مزغو کې خو دغه یو شك د مودو نه ناست وه چې په ګران لالا مې ګل پانې او جمالې کوډې کړې دي چې په ځان اخته شي او د پیسو ګټلو نه لاس واخلي ــ اوس د تاج بي بي زړه هم دا خبره منلې وه ــ تاج بي بي خو ډېره عجیبه شوې وه ... ډېر وخت به یې په خیالونو او خوبونو تېرولو ــ په خپل ورك ارمان پسې به پکښې ګرځېدله ــ خو کله کله به یې د کور واکمني هم کوله ټولو سره به یې د درد شریکي او مینه هم کوله ـــ کله څنګه کله څنګه؟ پته یې نه لګېده د زړه خاونده وه چې زړه به یې منل ښه به وه ــ ورور او ورېرونو ته به یې سپېلني هم لوګی کول ــ ګُرګُرې او زېبو ته به یې رنګ رنګ ګوډیانې هم جوړولې ..... خو د زبرګې او سنګینې سره به یې جنګ جګړې هم کولې ـــ اوس خو د ګران لالا د کټ سره جخته ولاړه وه ــ د سپېلنو دانې یې ورته لوګی کولې ـ چې په وجه یې د بهادرشاه ټوخی نور هم سېوا شو ــ خو اوس په کټ پروت بهادرشاه هم په دې پوهېدو چې که دا مې ورته ووئیل چې دا سپېلني بهر یوسه زما ټوخی سېوا کوي ــ

Downloaded from: ketabton.com



نو بیا خو جنګ دی ــــ زبرګې به په لاس د بهادرشاه د خوا نه د سپېلنو لوګی اخوا کولو۔
او چې پري ترېنه د سپېلنو تالي واخستو ــ چې راکړه ګورې نه د ګران لالا مری یې ترخه کړه ــ څه د نظره شوی خو نه دی، په ده چا کوډې کړې دي ـــ نو بس دواړه به په جنګ شوې ـ یو ځل بیا دواړه یو بل سره لاس په لګېدو شوې ــ په جنګ کې هم په تاج بي بي خپل زاړه پېریان راغلل ــ وئې خدایه !! توره څړې مې سپینه شوه ـ د خپل کور نه شوم ــ زما په حال بهادرشاه وتپوسې ـــ!! او بیا کوټې ته راننوته هم دغه زوړ سرود یې راواخستو ـــ د بهادرشاه په سترګو کې نن اوښکې راغلې وې ــ زړه یې غوښتل چې خپلې درېواړه خوېندې خپل ځان ته کلکې راترغاړه باسي ـــ خو یوه لحظه پس د ټولو پام طاهرشاه ته واوړېدو ـــ د پلار د کټ لنګې ته کښېناستو په مخ یې د غم او خفګان سره سره د قهر یو طوفان لیدی شو ـــ څه چل دی؟ پري زر د طاهرشاه نه د هغه د ګډوډ حالت تپوس وکړو ـــ ډېره لحظه غلی وه ـــ هلکه !! خبره ولې نه کوې لکه د جینکو دې سر ټیټ نیولی دی ـــ اوس بهادرشاه که ډېر هم کمزوری شوی وه خو یوځل بیا یې هغه زوړ قهر راپېدا شوی وه ـــ شفیقي په ما ګوزار وکړو ـــ!! وئې ته لاس یې مات شه ــ مور پرې بُوره شه !! دې ورځې ته مو ساتلې دي هغه خلك څه وئې چې زما په نوړې شته شوی نو زما د مور مېړه شوی ــ!! د طاهرشاه په خبره پري یو دم په وېنا ښېرو سر شوه ــ تاج بي بي اوس د طاهرشاه په څنګ کې ولاړه وه ـ په سنګینې خو بیا د هېبت نه څه چل وشو په زمکه راګوزار شوه لاس پښې یې کاږه واږه شول ـــ زبرګې په قلار بهادرشاه دم دلاسه کړو ـــ په بالښت یې څملولو۔ ته په قلار شه هلکان دي ــ خو تاج بي بي او

Downloaded from: ketabton.com



پري اوس د طاهرشاه راوړلی شر په بیعه واخستو- په تماچه سوړ شه!! د دې خوشو تشو لاس اوس دومره راوغزېدل ـ ـ ـ؟ خپل وراره به زه ګټم پري د طناب نه خپله برقع راواخسته او په سر یې کړه ـــ که د کوره مې اونه ویستل او پلار ته مې یې کډه په سر نه کړه نو نوم به مې پري نه وي ـــ!! هغې په زوره زوره په قهر کې خپل ټټر ټپولو. پري په تېزۍ د کور نه ووته او زبرګې خپل سر په دواړه لاسو ونیوه ـ د پرېشانۍ او فکر نه یې طبیعت ډېر په خرابېدو وه ـــ خدای خبر ولې د دواړو هلکانو بهر ته په وتو به یې تر هغې د ځان سره کرل ریبل ترڅو چې به دواړه کور ته نه وو راغلي ـ د هغې زړه به لکه د پانې رپېدو هیڅ بې هیڅه به یې ډېر فکر کولو- خو هیڅ بې هیڅه خو نه وه ـــ ډېره موده وړاندې یې چې پرله پسې څوڅو ځل یو شان خوب لیدلی وه ـــ د هغې خوف او ویره ترېنه ترننه راکم شوی نه وو- څومره څومره چې د طاهرشاه او ظاهرشاه اونې دنګېدې دومره د هغې په زړه کې ناسته ویره هم سېوا کېده ـــ او نن چې د طاهرشاه او شفیقي ترمینځه تریخوالی راغلی وه ـــ نو زبرګه خو په دې ډېره خفه وه چې زوی د ډېر ښه ملګري نه خفه شوی دی ـــ که رفیقی یې د بهادرشاه به لاس پر ګڼلو نو شفیقی یې د طاهرشاه هم ـــ

***

Downloaded from: ketabton.com



نن ټول کلی په بله اوړېدو ــ د بهادرشاه د ګل په شان زوی طاهرشاه چا په ډېره بې دردۍ وژلی وه ـ د هغه په ټوپۍ د خپلې ترور د لاس لګولی سور د ګلاب ګل د هغه په وینو کې پانې پانې پروت وه ـ یو الغاؤ تلغاؤ وه ــ د طاهرشاه کټ چې ځنګه د حویلۍ په دروازه رادننه کړی شو ... نو په کټ پروت بهادرشاه او زبرګه کې ساه نه وه ـــ زبرګه او سنګینه خو د غم په دې ناڅاپي اوازه بې خوده شوې وې ــ تاج بي بي او پري د ځانه سرونه شوکول ... زېبو د ورور په کټ چکونه لګول ـ دا ولې دا چا؟ دا داسې پوښتنې وې چې جواب یې چا هم نه لرلو ــ جماله زیړه تښتېدلې ګونه د زبرګې او سنګینې سره په زمکه ناسته وه ـــ د ګل په شانې طاهرشاه ځواني مرګي هرچا ژړله ــ ټوله لویه حویلۍ په یوه لحظه کې د خلکو نه داسې برجق شوه چې د پښې لګولو ځای پکښې نه وه ـ بهر په لویه حجره کې سکندرشاه فاتحه اخسته خو داسې ښکارېده لکه چې د طاهرشاه د غم سره سره یوه بله اندېښنه هم د هغه د اعصابو سره نښتې وي ـ د سکندرشاه نه به خبره نه شوه کېدی ـ د ډېرو پوښتنو مخکښې یې هیڅ جواب نه لرلو ــ خو حجره کې کټ په کټ، ځای په ځای ناستو ډېرو خلکو به د یو بل سره غوږونو کې څه ووئیل . . . او داسې هر چا د طاهرشاه د وژنې کیسه معمه ګڼله ـــ!! د قاتل هیڅ درک نه لګېدو ... پولیس د ډېرو خلکو نه بیانونه واخستل ... بس خو

Downloaded from: ketabton.com



هرکله چې په ډکه حجره په ګڼو خلکو کې سرتور سر پرې ډېره قهرېدلې را ننوته نو داسې چېټیا خوره شوه لکه دا ټول ناست خلك بې دمه شوي وي ــ د پري غږ په ډېر ژړلو او چغو نعرو ناست وه . . . . .پرون زما د وراره سره د شفیقي تکرار شوی وه او په طاهرشاه یې لاس هم اوچت کړی وه ــ ماته داسې ښکاري لکه چې شفیقي زما وراره وژلی دی ـــ د پري د خلې په دې نوې خبره د خلکو یوې بلې خبرې ته بې اختیاره پام شوــ خلکو د یو بل سره بیا پس پسي کول ـــ!! سکندرشاه د پري په ناڅاپي حجرې ته راتګ تك زیړ تښتېدلی وه ـــ خلکو د هغه دې حالت کې کتل دا ګڼل چې د کورنۍ یوه ښځه یې په ډکه حجره د خلکو مخې ته بې پردې راغلې وه ــ خو د سکندرشاه په وجود دننه چې د اور کومې غرغنډې بلېدې نو داسې ښکارېدله لکه چې هغه هم د خپلو کړو سزا موندلې وه .د زمري او ګُرګُرې په مقابله کې د ګل پاڼې سرته خېژول یې نن داسې ګڼل لکه چې چا د عرش نه پړمخې په زمکه راګوزار کړی وي ــ یو لوی غم د هغه کره هم مېلمه شوی وه خو هغه به یې ماتم سبا ته کولوـــ نن یې د طاهرشاه غم ژړلو ـــ!! د هغه سترګې او سر د ټولې حجرې مخې ته ټیټ شوي ووــ!!

***

Downloaded from: ketabton.com



☼

د ظاهرشاه د مرګ د ربړمه خوره شوې وه د قاتل په لټون کې د پرې د خلې په خبره د شفیقي لټون هم روان وه ـ پولیس په دې کېس کې ډېر ګړندی وه ـ ولې چې ظاهرشاه د خپل ورور د قاتل د نیوو لپاره ډېرې پېسې په کار راوستې ـ د شفیقي هیڅ درك نه لګېدو ــــ بل خوا د شفیقي په غائبېدو د رفیقي حالت مرګ ته رسېدلی وه ـ د زړه حمله پرې شوې وه او بیا بیا به یې دا خبره کوله ... که چرې دا کار شفیقي کړی وي نو دا به یې لویه نمك حرامي کړې وي . . ـ اول مجرم به زما وي ورستو به د ظاهرشاه وي ــ!! خو ظاهرشاه دا خبرې کله منلې او د شفیقي د کور ټوله کډه یې د خپلو کوټو نه ګوزار کړه ــــ رفیقي ډېرې ژړاګانې کولې ... منت زاری یې کولې خو د ظاهرشاه پرې هیڅ ترس نه راتلو ــ پولیس ته یې بیان ورکړو چې زما د ورور قاتل د ده زوی شفیقی دی چې ده چرته پټ کړی دی زما دعوه په پلار او زوي دواړو ده ــ د قتل په دعوه کې د رفیقي نوم هم ولیکلی شو ــــ او دې ټولې پېښې خو هاغه وخت یو نوی رنګ واخستو کله چې دا خبره ډنډوره شوه چې ګل پاڼه هم نشته غېبه ده ــ خلکو به حېران حېران یو بل ته کتل ... اوس به یو خوا ته د ظاهرشاه د

Downloaded from: ketabton.com



وژنې خبره کېدله بل خوا به د شفیقي او ګل پاڼې د تښتېدو ــــ درې کورنۍ د دې پېښو سره مخ وې . د سکندرشاه پټکی ګل پاڼې تارتار په زمکه راغورځولی وه ـــ د زمري عزت یې د خاورو سره خاورې کړې وه ـــ د کورنۍ د غیرت او ننګ جنازه یې ویستلې وه ـــ زمری خو یې د وینو تږی ناست وه ـــ سکندرشاه په وړمبي ځل زمری ځان ته رانزدې کړو ـــ بچی !! ما ټول عمر ستا نه سترګې اړولې دي ما وبخښه ما لویه غلطي کړې ده ... !! د پلار په ږیره یې چې رڼې رڼې اوښکې راروانې ولیدې نو زمري داسې وګڼل لکه چې د سکندرشاه اوښکو د هغه د ټول عمر محرومۍ اووینځلې ـــ هغه د خپل ځان او زړه دننه یو نوی طاقت محسوس کړو ـــ هغه لکه چې نن په رښتیا زمری شوی وه خپل حقوق او خپل مقام یې په خپل پلار شته کړي وو خو بیا زر هاغه غېرت یو ځل بیا راولړزولو چې د یو پښتون ورور په حېثیت یې لرلو ـــ د هغه خور یو کسبګر سره تښتېدلې وه ـــ دې احساس د هغه نه بیا ګیدړ جوړ کړو ـــ ملك د پښتو دی مونږ به څنګه ژوند کوو ـــ د تره د کور دښمني هم راپه غاړه شوه ... هغه خپل ځان د هر اړخ نه ګېر ګڼلو ـــ خو د پلار لویې سینې نن هغه ځان ته رانزدې کړی وه، په دې احساس یې نن ډېر سکون محسوسولو ـــ خپله خور ګورګوره یې ځان ته رانزدې کړه ... د خپلې مور په سر یې لاس کېښودو ... جمالې تا به ماته وئیل خو ما نه منله ... ما خپل دواړه لاسونه د ځانه خپله پرې کړي دي ... نن سکندرشاه ماتې خوړلې وه ماشومه ګورګوره یې په ټول عمر کې ځان ته نه وه رانزدې کړې نن ګورګوره هم د خپل داجي د سینې سره نزدې وه ـــ ټولو ژړل ... د کور دېوالونه خو د ګل پاڼې د کړي حرکت په وجه په ټولو رانسکور لیدی شو ـــ خو زمري په ډېر په ګرانه دې

Downloaded from: ketabton.com



دېوالونو ته اډانه ورکړه ــ د خپلې سينې د زخم سره ــ خو د دې کور په لمن د ګل پاڼې د نوم د تهمتونو د داغونو سره ـــ د زمري په سترګو کې يو نوی عزم ښکارېدو او سکندرشاه داسې محسوس کړه لکه چې تش لاس نه دی ــ يوه لويه سرمايه خپل لاس کې لري ـــ د تلې عزت ټوله سرمايه يې نيازبينې لور داسې لوټ کړې وه ـــ چې ځان ورته اوس هم تش لاس ښکارېدو ـــ

***

Downloaded from: ketabton.com



د بهادرشاه په ژوندد هغه په کور کې د خزان داسې سپېره سیلۍ رااالوتې وه چې د هغه ټوله هستي یې لړزولې وه ـــ یو خوا ته که د هغه زلمی زوی وینې وینې ګور ته تلی وه ... نو بل خوا د هغه د ژوند او وجود ښی لاس رفیقی هم د هغه د ژونده وتلی وه ـ شاید دوارو ته د خپلو کړو سزا رسېده ـ خو د دې هرڅه نه پرته د بهادرشاه لپاره خو د ګل پاڼې متېزتوب هم یو لوی عذاب وه په ټول کلي کې د دوارو کورنو یو نوم ناموس خو وه ـــ هغه د ګل پاڼې قدم خاورې ایرې کړی وه ـــ د کورنۍ په سپینه جامه یو نه ورانېدونکی تور داغ چې د راروانو نسلونو لپاره هم د پوزې پېزان وي ـــ بهادرشاه په دې احساس په کټ کې راټول شوـــ د خدای نه یې بیا بیا د ځان لپاره مرګی غوښتوـ ځکه چې د رفیقي کورنۍ د بهادرشاه د لاسه شته شوې وه او داخو د بهادرشاه په وهم او ګمان کې هم نه راتله چې د رفیقي نه پېدا شفیقیی به د دې کورنۍ لپاره یو تل پاتې داغ هم جوړېږي . . .او د بې ګناه طاهرشاه قاتل هم ـــ زبرګې خو دې لوی غم ته په ځان کې هیڅ طاقت نه لرلوـــ د هغې د لیدلي خوب تعبیر د هغې مخې ته راغلی وه ـ ځکه خو یې اوس د سترګو نه پاتې خوبونو هم چرت کډه کړې وه ـ د زړه د ټکړې غم د بهادرشاه په شان کټ ته اچولې

Downloaded from: ketabton.com



وه ـ د لویې حویلۍ نه یې زړه داسې تور شوې وه چې کله کله به لکه د لېونو پښې ابله پښې او سرتورسر دروازې ته ورغله ـ خو زر به د بهادرشاه نرې نرې فریاد راستنه کړه ـ تاج بي بي خو د دې غم بهانه غوښته په مزغو کې یې څه چل شوی وه، کله به په بړقه بړقه خندېدله ــ او کله به په چغو شوه ــ په ژړا کې به یې اوس هم د خپلې تللې ځوانۍ ویر کولوــ د بهادرشاه د ناکړدو غم یې اوس هم د ساندې کړی وه ــ وئې ظالمه ښځه دې تورې خاورې کړم ــ!! نه مې کور شو، نه خاوند، نه مې اولاد شو، نه ژوند ... مخ سر به یې ټکولوخو بیاـ.. منظر بدل شوــ تاج بي بي به زر کوټې ته منډې کړې په ځان پسې به یې ور کلک پورې کړو ــ ډېره لحظه به کوټه کې وه ــ او چې ښه شېبه ورستو به د کوټې نه بهر راښکاره شوه .... نو د نورو خلکو خندا به چا کله رانیولې شوه ــ د کور خلك خو به بیا هم غلي غلي ووــ یو بل ته به یې کتل خو که د بهره به څوك راغلي وو نو پردي خلك د چا غم او خفګان څه کوي ــ په بړقه د خندا اوازونو به د زبرګې په زړه چړې ښخې کړې ــ په رنځور بهادرشاه به یې نوکارې راښکلې دپرې اوښکې به یې په سلګو کړې ــ او ماشومې زېبوګونه به یې هم اوتره کړه ــ تاج بي بي به په ځان لوبې کړې وې ــ په توره تیاره کوټه کې به یې ځان لکه د ناوې جوړ کړی وه ــ ځو... دا ښځګه ناوې وه، دا ښځګه یې سینګار وه ـ د دې په شونډو او مخ خو د سرې غازې رنګ نه وه ــ ځای په ځای به یې د تورو رنجو تورکي په مخ او شونډو پراته ووــ په تندي به یې د غازې سُور رنګ څه ډېر عجیبه ښکارېدوــ سپینه کونځۍ به یې راسپړدې وه، ببر سر کې به لکه د بلا ښکارېده ــ په سر به یې بنارسۍ پرته وه ــ لاسونه به یې ټپول ــ کله به یې پېبر هم واړولوـ بیا به یې چغې کړې ... څه

Downloaded from: ketabton.com



شو زما خاوند ... رفیق جان، سکندرجان او داسې به یې ډېر نومونه واخستل . په ټول کور کې به لکه د لېونو ګرځېده ــ څه مو کړه ـ زما هاغه کوټه ـ او هاغه پالنګ مې چرته رانه چا یوړو ــ هئ!!! زما کالي څه شول ــ خپل لاسونه لېچې او غاړې ته به یې بیا بیا کتل ــ!! اوس به زما سره ډولۍ راشي ــ ګران لالا به مې سره ډولۍ کې کښېنوي ــ الالالا ــ او لاسونو ته به یې پړق ورکړو ــ په ګډا به شوه ــ تاوده تاوده پېرونه به یې اړول ــ چې ناڅاپه به راپرېوته ټول خلك به ترېنه راتاؤ شول ــ خلکو به رنګ رنګ خبرې کولې ...!! وئي عاجزه ګرمه نه ده ...!! خپل ارمان ژاړي ... زیاتی خو یې ورور کړی دی ... او په لوی دالان کې په کټ پروت بهادرشاه به هم د ډېر تکلیف نه چغې کړې ــ ما بچ کړئ ـ ما هیڅ نه دي کړي ــ خلك ما پسې راځي ـ ما وژني ــ!! زبرګې به بهادرشاه په زوره په کټ څملولو ـ خو بهادرشاه کې لکه چې ډېر طاقت راغلی وي ــ د کور مالت خلك به دې تماشې ته راچلېدل ــ چا به څه وئیل چا به څه ـ په دې نوې تماشه کې طاهرشاه خو لکه چې د ماضي یو یاد پاتې شو ولې چې په کور کې نورو نورو مسئلو سر رااوچت کړی وه . په تاج بي بي به اوس په ورځ کې داسې دوره خامخا راتلله ــ د پلار کاروبار اوس ظاهرشاه سمبال کړی وه ــ خو اوس زبرګې دا کوش کوه چې په ظاهرشاه نور د پلار دنیکه کسب پرېږدي او حقې حلالې ګټې ته یې مخه کړي ــ ظاهرشاه هم چې په خپل کور راغلې نوي د غم انقلاب ته کتل نو ډېره کرکه یې پیدا شوې وه ــ د خپلې مور نصیحت یې ځان له په زړه پېټی کړو ــ او د کلي په بازار کې د یو غټ دوکان د پرانستو صلاح یې وکړه ــ په زبرګې کې یو نوی ژوندون راغلو ــ خو په هغې به اوس هم کله کله یوه غلې دوره

Downloaded from: ketabton.com



راتلله ــ هغې ته به هاغه خوب رایاد شو چغه به یې کړې ـــ نه ـــ ـ او د نا سره به یې سترګې پټې کړې ... او بې خوده به شوه ـــ خو د دې غمونو چې چا د هېر اثر په زړه اخستی وه نو هغه سنګینه وه چې د طاهرشاه د ځلوېښتۍ شریکه شوه ـــ پټه خله یې یوه ورځ د دې دنیا نه سترګې د ډېره غمه پټې کړې ـــ د مرګ په وخت یې د طاهرشاه ټوپۍ په غېږه کې کلکه نیولې وه ـــ!! د حوېلۍ سینه یوځل بیا وجړقېده ـــ

***

Downloaded from: ketabton.com



زمری او سکندرشاه خو هرڅو که ګل پاڼې د کلي اولس او د حجرې د ناستې پاستې نه ویستلي وو ـــ خو زمري پلار په دې رضا کړو چې ... ژوند کول دي ـــ او د شفیقي سر هم خورول دي او ګل پاڼه هم خپل انجام ته رسول دي ولې چې ټول عمر د کوزو سترګو ژوند لویه بې غیرتي ده . خو سکندرشاه په دې پوهه شوی وه چې په دې هرڅه کې د هغه خپله هم لوی لاس وه که چرې هغه د ټولو اولادونو ترمینځه د انصاف د غوښتنو خیال ساتلی وی نو داسې صورتحال به نه رامینځ ته کېدو ـــ اوس د پښېمانۍ نه سېوا بل هیڅ لاره نه وه ـــ خو دا لویه خبره وه چې دې حادثې زمری بدل کړی وه ـــ هغه د خپلې کورنۍ په سر د خپلې مینې او سړیتوب لاس کېښودو ـــ د کلي کور نه یې چرته لرې کډه وړلې وه ـــ ولې چې د کلي اولس د پېغورونو تاب پکښې نه وه ـــ د دم ختلي جمالې او سکندرشاه په خله کې ساه وه ـــ د دواړو په زړونو کې د زمري د واده ارمان غزونې کولې ـــ خو د زمري د زړه نه خو

Downloaded from: ketabton.com



یو خدای خبر وه ــ د کله نه چې یې د بهادرشاه کاکاجي دوي سره روغـه شـوې ده ـــ او چـې د خپلـې وړې خـور ګُرګُـرې سـره بـه یـې ښکلې ښائسته زېبو په لوبو لیده نو ډېر به خوشحالېدوـــ د هغـه په زړه کې د زېبـو د مینـې وړو وړو ښـاپېرو لـوبې کـولې ــ خـو د طاهرشاه سره په ورکو ورانو پسې ګرځېدل خو یې د خپل پلار د لاسه د کړو بې انصافو او روئیو یو احتجاج وه ــ هغه په دې هرڅه خپل پلار ته یوه زورنه ورکوله ــ او خیال یې دا وه چې یـوه ورځ بـه د هغه پلار په خپلو کړو پښېمانه کېږي او هغـه بـه خپلـې سینې تـه رانزدې کوي ــ بیابه زمری خپل ورانې پرېږدي او ژونـد بـه د سـړي توب په لاره کړي ــ خپلې مور ته به په پټه د زېبـو د خوښـولو خبـره وکړي ــ او داسې به زېبو یوه ورځ د هغه کور ته د ډېرو خوشـحالو سره راشـي ـــ خو زمری څه خبر وه چې د هغـه دغـه ارمـان خـو د لېوني خوب دی ــ ګل پاڼه به ورته داسـې پـه سـترګو کـې مرچکـې واچوي چې ټول عمر به هغه د زېبو مخ په سترګو ونه وینـي ـــ ګـل پاڼه په خپل مقصد کې کامیابه شوې وه ــ اوس د زمري په سر هم د کـور د راتېنګولـو ذمـه واري وه ولـې چـې مـور و پـلار یـې کټونـه نیولي وو ــ د ګل پاڼې د نـوم تهمتونـو دلتـه هـم هغـوي پـه قـلاره نـه پرېښودل ــ وخت ډېر اوړېدلی وه خو د تهمتونو څادر خو هر ځل نوی وي ـ د زمري ژوند خو هاغه وخت توره تیاره شوچې پرله پسـې یـې د ډېـرو غمونـو د لاسـه مـور و پـلار نـزدې نـزدې د ژونـد ډېـرو ازمېښتونو ته زمری او ګورګوره یواځې کـړل ـــ خـو اوس د زمـري دا کوشش وه چې په یوه ښه کورنۍ کې د ګُرګُرې نصیب وشي نـو بـس یـو سـر زمـری بـه پـه ګـل پـاڼې او شـفیقې پسـې ګرځـي او چـې هرچرته وي دواړه به د زمکې کومې نه راوباسـي ـــ زمـري د خپلـې خور ګُرګُرې لپاره یوه ډېره ښه کورنۍ په نظر کې اخسـتې وه ـــ او

Downloaded from: ketabton.com



په زړه کې يې وئيل چې دا زولنې مې په حيا او عزت کې د پښو نه اخوا شي نو زه خو بيا ازاد زمری يم ـ دنيا به ټوله خپل ځنګل ګڼم ـ! زمري د سکون ساه واخسته او د خپلې ګرانې خور د ګُرګُر په سر د سرې بنارسۍ ارمان لکه د خوب جوټه ورکړه ـ خو بيا يو لړزېدلي احساس د هغه په وجود لمبې بلې کړې ـــ د هغه د غېرت هغه دنيا يو ځل بيا راولړزېده ـ کومې ته چې ګل پاڼې ډېر سپك کتلي وو ـ خپل دوه نليز ټوپك يې نن ډېر وخت پس په خپله اوږه کېښودو ـــ!!

***

Downloaded from: ketabton.com



بهادرشاه د خپل نري رنځ سره په نره سيالي کوله ــ خو د طاهرشاه غم پکښې د ژوند تاب نه وه پاتې کړی ــ او کله چې د يوې شپې او دوو ورځو ځنکدن او سختيا نه پس د يوې ورې سلګۍ سره يې د زبرګې په غېږه کې ساه ورکړه نو زبرګې ته داسې ښکاره شوه لکه چې د يو ډېر دروند غم نه پس نن يو ځل بيا په هغې دا مانۍ رانسکوره شوې وي ــ خو اوس د هغې په څنګ کې ولاړ ظاهرشاه د هغې لويه دلاسه وه ــ پري او تاج بي بي نن يو ځل بيانوی مړی د بهادرشاه نه ژړلو د طاهرشاه غم او ځواني بيا ژړلې شوه ــ زما غندل غاړيه ظاهرشاه ــ زما ځواني مرګه طاهرشاه ــ وئي ګران لالاته چې لاړ شې ماته خپل طاهرشاه راولېږه ــ تاج بي بي د خپلې خور پري سره غاړه ورکړې وه ــ خو بيا زر يوه لحظه پس يو ځل بيا په تاج بي بي خپله د زړه دوره راغله ــ اول خو راغله د بهادرشاه په کټ اوچته کښېناسته زبرګه خواره خو يې داسې په زور ديکه کړه که چرې نزدې ظاهرشاه نه وی راټينګه کړې نو خدای خبر څه حال به يې وه؟ تاج بي بي په زوره زوره په مرګ پتې سترګې بهادرشاه را اينښې وې، د ګوره ور ايسته تېر شې بهادرشاه ــ څنګه دې د ګل غوټۍ زه برباده کړې يم ــ په کور دې ولې زړه کړم بهادرشاه ولې دې داسې وکړل ــ ما پسې خو د رفيق جان سره ډولۍ رارسېدلې وه تا ترې په زوره کوزه کړې وم، ياد دې شي ــ بهادرشاه ــ!! ولې دې داسې وکړل

Downloaded from: ketabton.com



ـــ؟ اوس تـاج بـي بـي پـه زوره زوره پـه چغـو چغـو ژړل ـــ خلكـو راټينګوله چې چرته كوټه كې يې ګېره كړي ـ خو تاج بي بي به چا راټينګوله؟ ظاهرشاه ورته پـه دم دلاسـه ستړی ولاړ وه د مـخ نـه يـې خـولې او اوښـكې پـه رومال اوچـې كـړې ـــ هغـه د ببـوجي پـه دې حالت هم ژړل ـــ او د خپل پلار په دې لويه خطا هم ډېر خفه وه ـ اوس خو ټول خلك په دې پوهه وو چې په تاج بي بي داسې چل ولـې كېږي؟ پري پرلـه پسـې غمونـو ډېره بدلـه كـړې وه د ظـاهرشـاه غـم دومره ځپلې وه چې اوس د ښكلو جينكـو سره ناستې او ملاستې خونـد نـه وركولوـ هغـې تـه هـم اوس دا احسـاس شـوی وه چـې پـه دومره ډېرو غمونو كې د خپل ژوند او محرومـو ژړل بـه لكـه د تـاج بي بي هغه هم تماشه كړي هغې په ځان ډېر زور كوه ـــ چې د كـور دا ورانه ويجاړه دنيا د ظاهرشـاه د ژونـد او خوشـحالو پـه زور ابـاد كړي ـــ د هغه د سر خبر وغواړي ـ د خپلـې ورنـدارې ملاتـړ وكـړي ـــ د خپلې زېبـو د ژونـد او كـور فكـر وكـړي ـــ ظاهرشـاه د زېبـو د ژوند اور د ابادۍ خوبونه ليدل ـــ او بيا ورستو به يې د خپـل ژونـد فكر كوه ـــ د هغه مخې ته اوس نوي نوي ازمېښـتونه ولاړ ووـــ او هغه ورته ډېر يواځې وه ـــ

***

Downloaded from: ketabton.com



زبرګې د بهادرشاه ټولې د سرو سپینو نه ډکې خزانې راسپړدې وې. د هغې د ژوند په لویه ډاګه ولاړ دوه بوټي ـــ اوس ظاهرشاه او زېبو وو ـــ د سرو سپینو ډېر کالي پټري چې د بهادرشاه نه ورته پاتې شوي وو ـــ د هغې مخې ته خواره واره پراته وو ـــ د هغې زړه غوښتل چې دا اور د خپل کور نه بهر کړي ـــ په زوره زوره ډنډوره ووهي چې خلکه!! راشئ خپل امانتونه مو یوسئ... د ډېرو تور سرو، پېغلو او مجبورو زنانو بې وسۍ یې رامخې ته شوې چې دا کالي پټري یې د سود په پېسو کې د بهادرشاه سره پاتې شوي وي ـــ خو وختونه او زمانې دومره اوړېدلې وې چې د دې د مالکانو هیڅ درك نه لګېدو ـــ خو اوس زبرګه په دې تسله وه چې د ظاهرشاه د ټېل مالګې دوکان ښه مخ په وړاندې روان وه ـــ د حقې حلالې ګټې رزق ته چې به کښېناسته نو خدای ته به یې سجده ولګوله ـــ خدایه!! شکر دی چې نوره دې د اور نه وساتلم!! د سود دغه ټول کالي پټري تاج بي بي په خپله ولقه کې اخستي وو ـــ او ټول یې په یو غټ صندوق کې سمبال کړي وو ـ کله کله خو به داسې په خود وه چې د چا به پرې د لېونتوب د دورې د راتلو خیال نه راتلو ـــ زبرګه به په دې خوشحاله وه چې تاج بي بي په دې خوشحاله ده نو زه یې تپوس نه کوم.

Downloaded from: ketabton.com



زبرګې د ظاهرشاه لپاره د ښې اوښائسته جینۍ لټون د ډېرو خلکو په مرسته شروع کړی وه ــ او په یوه کورنۍ کې دظاهرشاه د رشتې خبره ډېره په کامیابۍ روانه وه تاج بي بي ظاهرشاه سره نن یوه پټه صلاح کړې وه او دا یې ورته وئیلي وو چې زما پېسې پکار دي په ورور پسې خېرات کوم ــ دا کالي ښار ته یوسه خرڅ یې کړه ــ ظاهرشاه د ترور خبره کله غورځولې شوه ــ او هسې هم نن روان وه د ښار نه یې دوکان ته سودا راوړله ــ ترور ورته کالي په رومال کې راغونډ کړل او وې سپارل ورته ــ ظاهرشاه نن د وخته اوده کېدو ولې چې سبا به وختې ښار ته تلو ټوله شپه زبرګه د مصلې نه نه خوزېده ــ د ظاهرشاه د ژوند کور او خوشحالو دعاګانې یې کولې ــ سحر په توره خړه ورته پرې چائې په وړاندې اېښې وه ــ ظاهرشاه د چائیو نه یو ګوټ نیم وکړو ــ په شکور کې د مېدې سپینې پراټې ته ډېر خوشحال شو خو نوړۍ یې ترې نیمه نه کړه ولې چې په لارۍ کې به ورته زړه خرابېدو ــ د تاج بي بي ببوجي ورکړی راغونډ کړی پنډوکی یې په خړه لویه کڅوړه کې سم راسم کېښودو ــ په تلو تلو کې پرې په شنه منډه د ظاهرشاه ټوپۍ په لاس راښکاره شوه په ټوپۍ یې ورته تک سور ګلاب ټک وهلی وه ــ ظاهرشاه مسکی شو ټوپۍ یې په سر کړه ــ دواړو تروریانو او مور ته رانزدې شو ټولو داسې ښکلولو لکه چې ظاهرشاه نن چرته ډېر لرې یو بل هېواد ته مسافرۍ ته روان وي ــ زېبو هم د لالاجي د تلو په خوشحالۍ کې د تروریانو سره سمه راپاڅېدلې وه لالاجي ماته به د ښار نه سره سپنډل خامخا راوړې ــ هغې په ډېره مینه د ظاهرشاه نه په ولاړې لاسونه تاؤ کړل ــ سره سپنډل ــ!! ظاهرشاه د زېبو د سرو سپنډلو ارمان ډېر وخندولو ــ د پوزې نه یې کلکه ونیوله ــ سره جوړه ...

Downloaded from: ketabton.com



سره بنارسۍ ...!! په تلو تلو کې چې زبرګې پرې د مونه چُپ کول.
. .ظاهرشاه د خپلې خور سره ټوقې کولې ـــ د سرې جوړې او سرې بنارسۍ تصور خو د زېبو په مخ د حیا غوټې په غوړېدو کړې ــ خو د تاج بي بي د زړه دنیا یو ځل بیاراولړزېده ــ!! تاج بي بي چغونعروته لاس کول چې ظاهرشاه په تادۍ د کوره ووتلوــ زبرګه په دروازه کې د پورې تمبو په شا ډېر وخت ولاړه وه په زوره زوره یې ورپسې سبقونه چُف کول ـــ د تمبو په رڼو کې اوس ظاهرشاه د هغې د نظره پناه شوی وه ــ خو د دروازې پناه ولاړې زبرګې ته خپل تېر وخت ناڅاپي را په زړه شو چې نوې نوې د بهادرشاه ژوند ته راغلې وه او د راتلو سره یې په خپل قهر او غضب د کور بندیوانه کړې وه ـــ ځان به ورته داسې ښکارېدو لکه په دې حویلۍ کې د لوی دالان یو سر او بل سر ته د طوطي او د مېنا په بنده پنجره کې دا هم وي ــ بهادرشاه ډېر شکي سړی وه چې د دروازې ور به یې وډبولو نو که د وخت څو لحظې به واوړېدې او زر به ساه نیولې زبرګه تر وره نه وه راغلې ـــ خبر به یې نه وه لاندې باندې به یې داسې په سترګو اخستې وه چې د خوارې نه به یو دوه خطا شول ــ چاته ولاړه وې څه دې کول؟؟ د بهادرشاه دې شکي پوښتنو به د هغې وینه وچه کړه ــ خو. . .
بهادرشاه هرڅه که وه هرڅنګه که وه د هغې د ژوند ملګری وه هغې خپل فکر اوس بدل کړوــ او ځل بیا یې دعاګانې په ظاهرشاه پسې بدرګه ورولېږلې ــ او بیا د وره نه رادېخوا شوه ـــ

***

Downloaded from: ketabton.com



نن د حویلۍ ټوله فضا عجیبه غوندې وه ـ ډېره چپتیا وه ـ د اور د بلېدو په کوټګۍ کې تاج بي بي هم زوړند سر ناسته وه ـ په نغري کې د اور ټولې سکروټکې په ایره خول کې بدلې شوې وې او تاج بي بي په یو خسنهي د نغري نه ټولې ایرې داسې په مزه مزه لټولې لکه د خپل ژوند په ایره خول کې نن د اور یو بڅرى یې لټولو کله کله به یې په زمکه په نرې ډکي ګډې وډې کرښې ویستلې ...لکه د خپل ژوند یوه ورکه ورانه نقشه یې کتله ....په سترګو کې راغلې اوښکې به یې د سرپیچك په پیڅکي اوچې کړې ...ډېر وخت غلې غلې ناسته وه چې پرې د خیالونو د دنیا نه رابهر کړه ...نن د زېبو کتنې ته یوه کورنۍ راروانه وه ــ د زبرګې لپاره دا ډېره د خوشحالۍ خبره وه خو هغه نن د ظاهرشاه ښارته تلو ډېره ګډه وډه کړې وه ــ سبقونو او دعاګانو یې خله ګنډلې وه خو په دې پوهېده چې د زېبو لپاره د هغې نه زیات فکر یې خپله ترور پرې لري ــ ځکه خو نن پرې هم توده توده ګرځېده ټول کور یې جارو کړی وه ــ په زېبو یې هرڅه سم راسم کړي وو ــ په خپله لویه کوټه کې یې په کټونو نوي څادرونه په خپله خواره کړي وو ــ اوس به ډېره زر سترې کېدله ـ خو نن دې خوشحالۍ ډېره نه ستومانه کوله ــ زېبو ته یې هم دا سپارښتنه کړې وه ــ چې ځان ښه جوړ کړي ــ زېبو د وړې ببو خبره کله غورزولې شوه ــ د تور ساټن ساده جامې یې چې په تن کړې نو تا به وئیل چې په توره تیاره کې چا مشال بل

Downloaded from: ketabton.com



کړی وي ـ وېښته يې کلکه کونځۍ کړي ووخو د ببوجي په وېنا يې بيا راخواره کړل ـ نن پري د زېبو په ليدو نه مړېده ـــ پري ته هم خپله ځواني او مستي رايادہ شوه څنګه مې د جينکو وار تېر شو ـــ!! د ځان سره غلې غوندې وګونېده ـــ خو زېبو اوس په ځان اختـه وه کله به يې د ورېږ ببوجي نه تپوس کول ـــ ببو څنګه ښکارم ـــ؟ او کله به د لويې شيشې مخې ته ودرېده ـــ په غټو سترګو کې نري رانجه يې لاړې لاړې ډېر ښکلي ښکارېدل ـــ په مخ او وجود يې د پېغلتوب سپرلو لوبې کولې ـــ مچ ورېږ ببو ترېنه چپيانې اخستې ـــ اوس زېبو د وختـه تيـاره وه او ورېږ ببـو (پري) دمېلمنو دراتګ لپاره د نورو شيانواوانتظام جاج اخستو ـــ چې د نغري په غاړه زوړند سر تاج بي بي يې وليده نو غږ يې پرې وکړو ـــ د زېبو کتنې تـه خلك راځي ـــ!! پري د خوشحالۍ نه په جامو کې نـه ځايېده ـــ او تاج بي بي داسې غلې وه لکه چې چا ورته خله ګنډلې وي ـــ خو سترګې يې بيا په ورانېدو وې د پري زړه په زوره زوره ودرزېدو ـــ خدايه خېر!! دا خو بيا ورانېږي ـــ پري خلك راځي هسې نه ـــ!!! پري ډېره وار خطا وه ـــ اوس زېبو د تاج بي بي په وړاندې سمبال کړې ولاړه وه ـــ راځه! ببوجي چې کوټې ته ځو ـــــ!! زېبو تاج بي بي د متې نه په قلاره ونيوه او چې څنګ تاج بي بي د زمکې نه راپورته شوه ـــ نو په جنګ شوه ـــ ښه ته څه وايې ته به زما نه په ډولۍ کې لاړه شې؟ خاورې نه شي، سر ستا دی او سر زما دی ـــ په دې به راونه خېژي او په دې به پرې نه وځي ... قدم به رانه کېږدې ... بهادرشاه دا ټټو دې په سيوري وتړه لُور به دې رانه مېړه ونه ويني څنګه چې تا په ما حرام کړی وه داسې به ورپسې زه ستا لور رړندوم ـــ د تاج بي بي سترګو نن اور ورولو ـــ داسې تللې خبرې يو ځل بيا يې د بهادرشاه کړی ظلم راپه ياد شو ... خپل

Downloaded from: ketabton.com



ارمان پرې لکه بیا نُوکې راښکلې وې ـــ زېبو او پرې حقې دقې ولاړې وې ... زبرګه هم د مصلې نه راپاڅېدلې وه ـــ د زېبو رنګ خو داسې زیړ تښتېدلی وه لکه د کورکمان ـــ د پرې لاسو پښو کار نه کولو ـــ د مېلمنو لپاره یې د موړې نه سوچه روسی پیالۍ، پرچونه او چانك راخستلو چې د لاس نه یې یوه پیالۍ ښکته راګوزار شوه ـــ د پیالۍ ماتېدل څه وو چې د تاج بي بي د جنګ پټه یې چالو کړه .. وئي ته سر وخورې، ټکړې ټکړې شې د داج پیالۍ دې راته ماته کړه ـــ دا خو مې ځان له واده له اېښې وه څه ـــ تا پرې ګوتې پورې کړې ـــ ... خدایه!! نصیب به مې کله خلاصیږي . . د بخت غوټې مې زر خلاصې کړې چې په خپل وخت د کور شم . رفیق جان ته مې زر واده کړې خدایه !! د بهادرشاه نه ډېره تنګه شوې یم ... ګل غوندې ځوانۍ ته مې نه ګوري ... د تاج بي بي په داسې چغو نعرو به اوس چا ډېر غوږ نه ګروو ـــ ولې چې خلکو به وئیل چې د ډېرو غمونو د لاسه تاج بي

بي لېونۍ شوې ده اوتې بوتې وائي ـــ

د مېلمنو ښه مدار کېدو۔ پرې ترېنه ټول وخت لکه د مچۍ تاوېده . د زېبو په ثناء صفت هم نه مړېده . د راغلې جرګې په سترګو کې د زېبو لپاره د خوښۍ په پېغام خو زېبو د راتلو سره سمه رسېدلې وه ـــ ماشاء الله جینۍ نه ده دا خو تاسو کره په زمکه سپوږمۍ راښکته شوې ده . د مشرې بي بي په خبره زېبو د حیا نه راټوله شوې وه . په سر یې لوپټه بیا بیا سموله ـــ خو د ډېرې خوشحالۍ سره یوې اندېښنې هم ناقلاره ساتلې وه ـــ او مشره بي بي خو لکه چې د زېبو په زړه کې ناسته وه ... د هغې په اندېښنه یې بې اختیاره ووئیل ... جینۍ ده شرمېږي ...!! او په زېبو کې لږ دم راغی ... زېبو خو مېلمنو ته مخې مخې ته نه شوه کېدی ولې

Downloaded from: ketabton.com



چې زبرګې په بیا بیا پوهه کړې وه ـــ خلك ستا لیدو ته راځي ډېره به یې مخکښې نېغه نېغه کېږې نه ـــ او زېبو خو څه ماشومه هم نه وه ـ په خپلو روایاتو او رواجونو ډېره پوهه وه ـ بس دا لږ شان مخامخ کېدل خو یې په دې ضروري ګڼل چې که قسمت مې شوی وي نو چې سبا مې خوابښې دا نه وائي چې لیدلې مو نه وه ـــ د مشرې بي بي سره څو زنانه نورې هم راغلې وې ـ چې د سردار د ځوانۍ او ښه سرېتوب صفتونه یې کول ـــ او په دالان کې ناستې زېبو ټولې خبرې ډېرې په غور اورېدې ـ د هغې د ارمانونو غوټۍ په سپړدو وې ـ په زړه کې یې یوې کاواکه جذبې هغې سره ډېرې مستۍ کولې ـ ـ ـ د سردار نوم به یې بیا بیا غوږونو ته راتلو ـــ د ځان سره به مسکۍ شوه ـ هغې به وارخطا وارخطا ګېرچاپېره وکتل ـ د لاسو نه یې کار نه کېدو ـ د پیالو، چاېښکونو او رکېبو نه یې چې د تاج بي بي په سرپیچك دوړې څنډلې نو هیڅ بې هیڅه به د ځان سره مسکۍ شوه ـ داسې به یې ګڼل لکه د سردار دوه شوخې سترګې ورته چرته نه پټ ګوري ـ وړه ببو به د مېلمنو څنګ ته بیا بیا روانه وه او زبرګه خو یې ښه کلکه د مېلمنو سره کښېنولې وه ـ د مېلمنو سره د راغلې یوې زنانه په غېږ کې ورکوټې د پیو ماشوم وه ـ چې ډېر قلار او ښائسته ماشوم وه ـــ په غونډ مونډ پلن مخ یې دوه غټې تورې سترګې د زېبو ډېرې خوښې شوې وې ـ ـ ـ دا ماشوم لکه چې د سردار خورئی وي ـ زېبو یو ځل بیا د ځان سره په دغه کشمکش کې وه ـ چې وړې ببو ورته د سترګو او لاس په اشاره څه ووئیل ـ ـ ـ زېبو پوهه شوه چې په بله کوټه کې تاج بي بي اوده ده او وړه ببو یې د هغې څنګ ته لېږي ـ په تاج بي بي چې په هرځل خپله دوره راغلې نو بیا به ډېر ساعت په غرق خوب اوده وه ـــ او چې د خوبه به راوینښه شوه نو داسې به سمه دمه وه لکه چې هیڅ پرې نه

Downloaded from: ketabton.com



وي شوي ـ د زېبو سره خو دغه فکر وه چې ببوجي خوب پوره کړي چې خوب يې پوره وي نو د مېلمنو څنګ کې به ناسته وي ـــ او چې زېبو څنګه په قلار قلار د تاج بي بي لويې کوټې ته ننوته نو تاج بي بي د خوبه سترګې پرانستې وې کوټه کې يې يو خوا بل خوا کتل ـــ د کټه يې راودانګل ـــ او پښې ابله پښې روانېده چې زېبو ورته تېله داري پنجابۍ پڼې په پښو کړې ـ تاج بي بي خپلو پڼو ته بيا بيا کتل ـ زېبو ويرې واخسته چې بيا د خوده ونه وځي ـ خو داسې نه وه تاج بي بي په ډېره مينه او استقامت د مېلمنو کوټې ته لاړه ـ زبرګې چې تاج بي بي ته وکتل نو د لاسو يې طوطيان والوتل ـ خو تاج بي بي په ډېره مينه د خوراك څيزونه مېلمنو ته وړاندې کول ټول ساه صورت شوـــ د وړې ببو خو ټولې زنانه داسې خوښې شوې وې چې ترمانښامه يې پاتې کړې وې او دا يې لاورته هم وئيلي وو چې که خدای کول زر به خپل شوـ د سردار د مور لپاره خو دغه يوه خبره هم د مرادونو نه ډکه وه ـ تاج بي بي يې بورقې په تونۍ کې داسې سمبال کړې لکه چې په مېلمنو يې ډېرې شپې کولې ـ زبرګې او پري يو بل ته وکتل ټول ډېر خوشحاله ووـ د سردار مور ته خو خپلې لورداسې په ډکه خله امبارکي ورکړه چې د ډېرې خوشحالۍ نه اوچته راپاڅېده او په تاودو پېرونو شوه ـــ د تاج بي بي په زوره زوره د لاسونو پړقا به چا منعې کړې وه ـــ د زبرګې وارخطا شو ـ زېبو په رېږدو شوه او د پري هم د لاسو پښو نه دم اوختو ـ!! د سردار د مور خوشحالي خو په ځای وه ـ خو د تاج بي بي لاسونه پړقول او په خانك په ډمامه راباندې کول ـــ په هغې د بلې دورې انګازه وه ـــ

***

Downloaded from: ketabton.com



د اوړي غرمه د کال هومره وي د ډوډۍ خوړلو نه پس په ټولو مېلمنو سترګې مرغۍ مرغۍ کېدې ـ زبرګې په لوی دالان کې د مېلمنو د څملاستې لپاره کټونه سم کړل ـ ځکه چې په دالان کې یخه یخه هوا لګېده ـ د ماسپخین مانځه ته لا ډېر وخت وه ـــ د سردار د خور سره خوا کې خپل د ګل په شان زوی بې غمه اوده شوی وه د مور یې هم سترګې په خوب ورغلې وې ـ ـ ـ پري په کوټه کې د زېبو سره د کټ په لنګه داسې اوپره غونډې پرته وه څنګل یې په سترګو ایښې وه ـــ نن ټول ډېر خوبولي وو ولې چې نن سحر وختې د مُلا د اذان سره سم ټول راویښ شوي وو ـــ زبرګه خو چې شپه کې د تهجدو لپاره راویښه شوې وه نو ترمانځه یې بې شمېره وظیفې سر ته کړې وې ولې چې نن ظاهرشاه ښار ته روان وه ــ پري، تاج بي بي او زېبو هم د وخته راپاڅېدلې وه ـــ د مېلمنو سره ناستې پاستې او منډو ترړو په ټولو پرکالې راوستې وه ـــ د ځانه څوك هم نه وو خبر چې د زبرګې په اواز د ټولو سترګې وغړېدې ـــ د مانځه وخت دی ـ د ېوال ته لوی لوی سیوري راغزېدلي دي ـــ د سردار مور خو زر د اودس چاراندام لپاره د پري د لاسه کوزه واخسته ـ زبرګې د مېزري پلنې پلنې مصلحې په قطار په دالان کې د ټولو لپاره خورولې چې د سردار د خور د هیبت په اواز ټولو منډې کړې ـ ـ هلۍ هلك نشته دی ـ ـ ـ هلك مې څه شو؟؟ پري په منډه دروازې ته لاړه ـــ خو د دروازې پورې تمبې په زنځیر کلکې تړلې شوې وې ـــ د ماشوم په داسې غائبېدو په کور کې الغلۀ تلغاۀ شو ــ زېبو د تاج بي بي ببوجې د کوټې

Downloaded from: ketabton.com



پورې ور په زوره دیکه کړو ـــ او ـــ . . د ډېرې حېرانتیا ـــ ـ دلاسه یې په خله لاس کېښودو ـ څه ګوري چې تاج بي بي هم په خپل کټ کې بې غمه اوده ده ـ او ماشوم یې دځان سره جخت څملولی دی . . . په خپله اوچته کړې لمن کې یې مخ پټ کړی وه او په ښکاره شوې سینه ورته ماشوم کلکه خله لګولې وه ـ ماشوم هم اوده وه او تاج بي بي هم ـ د زېبو خو وار خطا شو ـــ خو په دې تماشه یوه لحظه ولاړه پاتې شوه ـ بیا یې ماشوم ورو غوندې د تاج بي بي د سینې نه رابیل کړوـ ماشوم چغې کړې او تاج بي بي په کټ کې نېغه کښېناسته خپله لمن یې راښکته کړه ـ او وران وران یې زېبو ته وکتل ـــ راکړه زما زوی . . . ولې دې زما د تي نه وشوکولو . . ؟ څنګه په قلار یې زما تی خوړوـ زېبو په هېبت ماشوم د کوټې نه بهرکړوـ تاج بي بي پښې ابلې پښې بهرراووتله ـ ماشوم خپلې مورکلك په غېږه کې نیولی وه ـ په دې چغو نعرو ماشوم داسې اوتر شوی وه چې شونډې یې بوسې بوسې کولې خو ژړلې یې نه شول ـ اوس تاج بي بي یو ځل بیا چغو نعرو ته ګوتې واچولې ـــ خپله زړه پټۍ یې په زوره زوره تېرولـه ـ او مېلمانه حق دق ولاړ وو ـ په سترګو به رانه زېبو اونه وینئ !! تښتئ جارو مړو! دا به دغه شان په دې کور کې سولېږي څنګه چې زه زړه شوی یم . . .!! او بیا په ژړا شوه . . . د سردار مور غلی غوندې پري ته اشاره وکړه چې زمونږ برقې راواخله مونږ ځوـــ تاج بي بي په شنه منډه برقې راوړې ـ او یوې یوې ته په سر ولاړه وه ـــ په دې ساعت وځئ چې بیا رانه شئ د سردار مور هم دواړه ګوتې غوږونو ته یوړلې ـ چې دلته په راتلو ډېره پښېمانه وه ـــ د زېبو په سترګو کې غټې اوښکې په موجونو وې ـــ خو

Downloaded from: ketabton.com



دا چا هم نه لیدي ــــ هغې چې ګېرچاپېره وکتل نو پري او زبرګې هم خپلې اوښکې له ډېره غمه د لېمو په پیڅکه کې راټولې کړې وې ــ پري خو د سردار د مور ډېر منتونه کول ــ خورې دا لېونۍ ده نه پوهېږي ته خو زېبو غواړې زېبو خو تا ولیده ډېره عقل منده هوښیاره ده ــ کور به دې په دواړو لاسو راټول کړي ــ پري که ډېر څه وئیل خو د سردار د مور تندی بدل وه ـ پوزه یې چوڼله راچوڼله وئي توبه!! د لېونو د ذاته مې خدای ساته ــ دا خو ښه ده چې په وخت پوهه شوم ـ ـ ـ ـ!! د ماسپخین سیوري ډېر راغزېدلي وو ــ ټول د ظاهرشاه په طمع وو چې مازیګر به رارسېدو ــ د زېبو د واده انډول شوې خبره خو بیا پرې شوه ــ خو اوس د ظاهرشاه د واده طمع راژوندۍ وه ــ پري د زېبو څنګ کې ناسته وه ــ "مه خفه کېږه دې کې به خېر وه ــ د اسمان مارغونه به دې پرېښږدي ـ" زېبو هم پېغله وه ــ خپل ټول غم یې په شا کړو او خپلې ورې ببو ته مسکۍ شوه خو د هغې سترګو په کاسو کې د راغلو اوښکو جرګې به چا څنګه نه لیدې ــ

***

Downloaded from: ketabton.com



پـري نـن د وختـه تنـور لمبـه کـړی وه د ځـان سـره يـې د سندرې زمزمه غلی غلی کوله ــ په تنور کې بـه يې اور لړونی بيـا بيا وهلوـ د تنور يوې غاړې نه به بلې غـاړې تـه تلـه راتلـه د ډوډو تياري يې نن تر لرې لرې اورېدی شو ـــ د ظاهرشاه لپاره د ماښام د ډوډۍ نـن خـاص تيـاری کېـدو ولـې چـې ټولـه ورځ يـې لکـه د مسافرو بهر تېره کړې وه ــ د کوره لـرې ــ پـرې سـرې سـرې لـوېې لوېې ډوډۍ په دسترخوان کې قط په قط ونغاړلې ـــ کټوۍ به يې بيا بيا په انغري کېښوده ـــ رکېبۍ خو يې د ځان سره خوا کـې د ماڅيګره راسې ايښې وه ـــ د لاس د وينځلو لپـاره يـې کـوزه هـم د دالان پـه ډبـه ايښـې وه ــــ د زبرګـې نظـر خـو د دروازې نـه نـه خوزېدو ــ په مصلحه ناسته وه خو سترګې يې پـه دروازه ښـخې وې ... مارغان خپلو خپلو ځالو تـه سترې سترې روان ووـ خـو د حوېلۍ په ډېره چپتيا کې اوس د ماښامي په دې خړه کې مرغـو او چرچڼو داسې چغار کولو لکه د يو بل سره ميراثونـه ويشـي ـــ يـا لکه چې ډېر وخت پس ډېر سبلونه رايوځای شوې وي ــ او يـو بـل ته د زړونو حالونه وائي ــ زېبـو تـه د مارغـانو او چرچڼو دې غـالم مغال ډېر خوند ورکولوـ خو د پري په مزغو دا زوږ ښه نـه لګېدو ــ د هغې زړه ډېر تنګ وه ــ د دې ماښـام ټولـه تيـاره يـې د زړه نـه لکه د تور څادر راچاپېره شوې وه ـــ د نـن د ورځـې پېښـې بيـا بيـا په عذابوله ـــ د سردار د مور چوڼ کړی تندی به بيا بيـا وريادېدو

Downloaded from: ketabton.com



ــ خپل منتونه او زارۍ یې هم یادولې ــ د ټولې ورځې ستړیا ــ او خفګان یې په وجود نرۍ تبه راوستې وه خو د ظاهرشاه راتللو ته ابېغه نېغه ناسته وه ګني کله به یې سر لګولی وه ـــ زېبو ورته په پښو لاسو زور کولو ـــ هغې داسې ګڼل لکه د زېبو لاسونه هم نن ډېر بې دمه دي ـــ د هغې په سر د درد څړیکې یې نه شوې راټولولې ـــ د کټ په لنګه کې د تاج بي بي د سر په سرپیچك یې سر کلك وتړلو خو درد په کمي کې نه راتللو ـ او په دې کې یو دم په شنه منډه د چم یو ماشوم په جړق دروازه خلاصه کړه او د لرې نه یې چغه کړه ـــ ظاهرشاه یې راوړو ـــ!!

***

Downloaded from: ketabton.com



په کومه لارۍ کې چې ظاهرشاه د ښار نه راروان وه د دوکان سودا یې د لارۍ د سر د پاسه تړلې وه او دې ورته په ټوله لاره د لارۍ په دروازه کې ولاړ وه چې ناڅاپي د یوې دیکې سره ښکته ګوزار شو او د پاسه پرې بل ګاډی هم تېر شو. ظاهرشاه د ټکه مړ وه ـــ یو ځل بیا د حوېلۍ دېوالونو وژړل ... په چغو چغو د ظاهرشاه ناڅاپي مړینې په دې کور ناتار وکړوـــ دا کور د هستۍ نه په نېستۍ بدل شوی وه ـــــ د بهادرشاه په مېنه یك یو پاتې ظاهرشاه هم په وینو کې لت پت پروت وه ـــ د زبرګې لړمون بیا په چړو غوڅ شوی وه ـــ هغې په چغو چغو ژړل غوښتل خو ژړلی یې نه شول ـــ بس شل کاله مخکښې لیدلی خوب یې په ورو ورو ماتم کې نن خلکو ته وئیلو ـــ وئي زویه !! نن د هاغه ویرې ووتم ـــ زویه ته رانه روان یې ـــ خلکه! ما چې خوب لیدلی وه ـــ زما په جاء نماز چا دوه ځله په وینو کلیمه لیکلې وه ـــ خلکه! زه به د خپلو بچو د غم ویرې واخستم ـــ ما دا خوب چاته هم نه دی وئیلی او زبرګه ـــ هم د یوې ناتار چغې سره بې خوده شوه ـــ پرې او زېبو په کټ خلې لګولې ـــ زېبو یې سرته ناسته وه او پرې خوا ته ـــ تاج بي بي ډېره غلې غلې وه ـــ خو د خپل واده لپاره اېښې سره بنارسۍ یې نن چې په ظاهرشاه خوروله نو چغې یې کړې ـــ!! بیا پرې خپله دوره راغله ـــ دا وګورئ بهادرشاه د خپل زوي د واده جنجیان رابللي دي اوس به ظاهرشاه ته سره ډولۍ راوړي ـــ خو زما ډولۍ څه شوه ـــ زما رفیق جان ماپسې ولې جنج نه رالېږي؟؟ څه شوه زما جوړه ... زما بنارسۍ ... زما رفیق جان ... په زوره

Downloaded from: ketabton.com



زوره يې لاسونه پړقول ... واده دی د ظاهرشاه واده دی ــ کله کله به پېرونو شوه ــ خلکو به رانيوله خو تاج بې بې چا هم نه شوه رانيولی ــ ظاهرشاه به ډېرو اوښکو او ژړاګانو کې اوچت کړی شوــ خلك ورو ورو روانېدل ــ حوېلي خوشې پاتې کېده ــ!! د نزدې ګاونډ څو ښځې د پرې، زبرګې او زېبو سره ناستې وې ــ په دې کور د ميراتې په اواز ټولو ژړل ــ کاڼو بوټو ژړل ــ خو غم دخپل کور وي ــ د مور وه ــ د خور وه او د ترور وه ــ زاړه مړي هم ستائيلی شول او د ظاهرشاه ارمانونه او ځواني هم ژړلې شوه ــ لوندې غوښې اور نه اخلي ګنې زبرګه خو به د ټکه مړه وه ــ خو بې نېټې مرګ نه وي هغه اوچته راپاڅېده ــ په مصلحه ودرېده ــ نفلونه او دعا يې وکړه ــ د ظاهرشاه په وينو سرې جامې يې د خپلې سينې سره ينولې وې ــ او بيا يې ووينځلې ــ!! خلك حق حېران وو د زبرګې حوصلې ته ــ د دوو زلمو زامنو پرله پسې د ناتار مرګونه يې وليدل خو د صبر او استقامت يوه نمونه جوړه شوې وه ــ د هغې غوږو ته به چې د چا د خلې نه د ميراتې ټکی راغلو ـ نو زر به يې د زېبو نه لاسونه چاپېره کړل ــ خدای مه کړه لور لرم ــ! هغه به يې ځان ه رانزدې کړه ــ خو زېبو خوارې څه کړی وی د هغې ژوند او د نوي کور طمع خو هم د تاج بي بي د لاسه خاورې شوې وه ــ د هغې زړه خو هم مات مات وه ــ هغې ته خو هم خپل ځان ژوندی مړی ښکارېدو دومره ډېرو غمونو ته يې خپل ځان د مور او ترور شريك ګڼلو ــ!! د لرې تربورانو خو د ډېر وخت نه د بهادرشاه په مال دولت سترګې وې ــ اوس خو د هغوي غوږونو ته هم د خلکو ګنګوسې راتللې .... وئې چې دا لويه حوېلي به اوس د چا رسي؟ د ميراتې د مال خو ډېر ميرات خواره وي خو زبرګې په خپل ځان کې د زېبو د نوي ژوند

Downloaded from: ketabton.com



لپاره یو نوی ژوند راپیدا کړی وه ــ په کور کې د ځلورو تورسرو یك یوائې پاتې وجودونه به اوس د ډېرو خلکو په سترګو کې لکه د ازغو چوکه کېدل ــ خو زبرګه ډېره تکړه وه ــ پري هم د ژوند په لوړو ژورو پوهه وه ـــ خو لا د ظاهرشاه د غم زخمونه د دوي په سینو ډېر تازه وو ــ دومره تازه چې ظاهرشاه او بهادرشاه یې هم مخې ته ودرولي وو ــــ په دې تورسرو به د ډېرو خلکو زړونه هم خفه کېدل ـــ د بهادرشاه په سود ګټلی ډېر دولت اوس د ټولو لپاره عبث او بې معنې وه ـــ پري اوس په دې پوهه شوې وه چې زمانه ډېره هوښیاره ده ډېره مکاره او مطلبي ده . . . چې د بهادرشاه زامن لاړل نو اوس د پاتې ټول دولت یك یوائینۍ مالکه زما ورېره زېبو ده اوس به د هغې لپاره ډېر لاسونه راځي ـــ!!

***

Downloaded from: ketabton.com



دظاهرشاه دنوي غم سره سره د ژوند ډېروغمونو سرونه راوچت کړي وو۔ تاج بي بي چې به په خود وه نو د طاهرشاه او ظاهرشاه نخښې به يې زړه پورې نيولي وې په خوږو خوږو ستائينو کې به يې يادول ـــ د هغوي په کټونو به يې څادرې او سوځنې بيا بيا سمولې ...د ظاهرشا د لاس د کوټې په دېوال ګير کې رازوړند واسکټ خو يې د زړه سنته وه ـــ د دوړې مخ به يې پرې نه پرېښودو۔!! خو چې کله به پرې خپله د مزغو دوره راغله نو کور به يې په سر اخستى وه ـــ کوټه په کوټه به همساء په لاس ګرځېده ـــ همساء به يې اوچته نيولې وه ـــ څه شو بهادرى زه ورسره نن توره سپينه معلوموم ــ په رفيق جان کې د څه کمى دى چې ما نه ورکوي ـــ زما هيڅ نه دي پکار، ماته دې هيڅ نه کوي ـ خو زما د وړولو لپاره دې د رفيق جان رالېږلې ډولۍ تشه نه لېږي ـ ـ ـ !! د زېبو لپاره دا ډېره د شرم خبره وه خو هغه په دې پوهېده چې د بيوجي مې وس خپل نه دى ـــ هغې به خپلې سهېلۍ د دې غمه نه شوې راغوښتې چې په ترورېې دلېونتوب دوره هروخت راتلې شوه ــ زبرګه اول د بهادرشاه تريخ والي او اوس د دوو زلمو زامنو غم په لړ وخت کې ډېره زېلې وه ــ خو د دې غمونو نه يو لوى غم خو يې د ژوندى لُور زېبو وه چې ډېرې کورنۍ به ورته راوچتې شوې خو د تاج بي بي د لاسه به وويرېدې ـــ د زېبو په وېښتو کې هم خال خال سپين لګېدلي وو۔ پري

Downloaded from: ketabton.com



ورته ډېر داجونه برابر کړي وو ــ دسرواوسپینوسره به یې لېږله خوقسمت یې نه خلاصېدو ـ دې غم یوه شپه زبرګه یوړله ـ او زېبو په خوشې مېره یوائې پاتې شوه پرې خو هم ډېرو غمونو اوس د کټ کړې وه ـ په زېبو یې د روانې ځوانۍ نخښې اوس نه شوې لیدې ولې چې د سترګو نظر یې تلی وه ـــ تاج بي بي لاد لاسو پښو او لېمو په زور ښه په ترپکو وه ـــ دا ځل ډېر وخت پس د زبرګې د لرې خپلوانو د لوري د زېبو غوښتلو له یوه جرګه راغلې وه ـــ دغه کورنۍ د دې کورنۍ په انقلاباتوښه خبر وه ــ اوس د زېبو طمع راژوندۍ شوې وه ولې چې د تاج بي بي ببوجي د لېونتوب نه دا کورنۍ ښه خبر وه د اقبال لپاره د زېبو لاس وغوښتی شو ـ اقبال یوکم عمره هلك وه چې زېبو یې لیدلې هم وه ـ په کور یې ډېرومشرانو د دې رشتې مخالفت په دې وجه کولو چې اقبال د زېبونه په عمرکې ورکوټی وه خواقبال داضد نیولی وه چې ماته داتوپېربې معنې ښکاري زېبویوه سیاله پښتنه حیاداره مېرمن ده، دهغې لاس غوښتل دهغه لوی ارمان وه ـــ د پرې خو د زړه د هیلو غوټۍ ګلونه شول ـــ د لاس په تېپدو به یې د زېبو لپاره په ډېر ارمان اېښې جامې، لوپټې کتلې ـ ـ زېبو ته به یې بیا بیا وئیل په زړه څه ارمان پاتې نه کړې ـ پېسه ټکه ډېره ده ځان له هرڅه ښه وکړه ــ دلوېې ورځې وتل دې دي ـ خوبیابه د زېبو دجدائۍ احساس ژړغونې کړه ــ مونږبه څه کوو؟ زمونږخو بله اسره هم نشته ـــ دالوی کورخواوس ډېر ژوندي وګړي غواړي ـــ د دې حوېلۍ نه خواوس دغم چپتیالرې شړل غواړي ـــ هغې به د ځان سره ناسته زېبو کلکه رانیوله او لکه د ماشوم به ورته په ژړا شوه ـــ زېبو ته وخت او حالاتو ډېره پوهه ورکړې وه ـ اوس یې د خپل ژوند د فېصلې ګړۍ هم په سر راغلې وه ـــ او ورسره ورسره

Downloaded from: ketabton.com



دخپلودوارو تروریانو او د دې حوېلۍ فکر هم مل وه ــ!! خدایه!! دا ګران امتحان زما لپاره په خپل کرم اسان کړې ــ د خدایه به یې ډېرې دعاګانې کولې ــ ځکه چې په سر یې د یو داسې مشر لاس نه وه چې دا بوج یې ورسره نیم کړی وی . . . چې د صلاح او مصلحت لارې یې ورته ښودلې وې ــ بس اوس خو د دې کور نر هم وه او زنانه هم ــ د وخت په داسې پړاؤ کې یې خپلې دوارو تروریانې هم یواځې نه شوې پرېښودې ــ او د خپل ژوند ــ ستړیاګانو یې هم یوه دمه کتله ــ یو کور یو ژوند خو هغې ته هم پکار وه ــ هغې خو چې سترګې غړولې وې ــ نو د مینې یوه مسکا ورته د چا هم په شونډو نه وه راغلې . . . هر وخت به د پلار د ویرې نه په ګوټ کې ناسته وه ــ او دغه تیاره ګوټ د تورې تیارې احساس ورسره لکه د همځولې رالوی شوی وه اوچې په ښه بدپوهه شوه ـ نو دغمونوامبارونه یې ولیدل ــ سرو وینو او سپینو کفنونو وژړوله ــ ودردوله ــ په داسې حالاتوکې نن دخپل ژوند د فېصلې پړاؤ ته رارسېدلې وه ــ هغې ګېرچاپېرخپل لوی کورته وکتل ــ دې دېوالونو خو هغې ته د پنجرې احساس ورکړی وه ــ خو د دې دېوالونو په مخونود هغې د ژوند ډېر یادونه اوس هم ښکارېدل ــ د هغې ډېرمځین خپلوان د هغې د وینې شریك وو ــ د یو یو عکس یې هرخواته لیدو ــ دپلار د غضب ډکې سترګې ــ د مور ترهېدلې څېره، د تروریانو پاڼې پاڼې ارمانونه ــ د دو زلمو ورونو ــ د ناتارمرګونه ــ اودخپل ژوند ، زړه او وجودغلې دنیا ـ خو اوس د هغې دنیا ته هم چا د خپلې نامې یوه ښائسته رنګ داره باډیوه په هوا کړې وه ــ د هغې د ژوند اسمان په دې باډیوه ډېررنګین شوی وه ــ د دې باډیوې تارد دې په لاس وه ــ هغې ته دې احساس ډېر خوند ورکوه ــ اقبال . . . !! د اقبال څېره

Downloaded from: ketabton.com



به يې د خيال د سترګو مخې ته شوه ... هغه د ځان سره مسکۍ کېده چې د پرې سلګو هغه ساه نيولې کړه ــ!! اوس هغې يوه بله فېصله کړې وه . د ورې ببو لاس يې په لاس کې کلك نيولی وه د کور د ېوالونو ته يې داسې کتل لکه چې دا دېوالونه هم د هغې په جدائۍ د اوس نه خفه ولاړ وي ـــ يو يو دېوال او يوه يوه بلۍ د هغې په وړاندې رانسکوره ژاړي ـــ زمونږ نه مه ځه ــ!! اُف !! اوس هغې يو سوچ کړی وه ــ د ژوند د فېصلې د اختيار مخې ته يې يو شرط هم رامنځې کړې وې ـ او هغې د دې شرط په سر خپل لاس د ېر کلك اېښودی وه ـــ!!

***

Downloaded from: ketabton.com



د اقبال کورنۍ هم د زیبو دې شرط ډېره په فکر کې اچولې وه ـ اوس نه مخکښې کېدی شو او نه ورستو کېدی شو ـــ زیبو د ژوند په دې نوي او نااشنا محاذ هیڅ ویرې نه اخسته ـ هغې اوس خپل ژوند د نوي دور د حالاتو او غوښتنو په سمون تېرولی شوـــ هغه په رشتو او خپلوو کې د شرطونو او ازمېښتونو قائله نه وه خو اوس په دې پوهېده چې د هلك کورنۍ شرطونه لري ـــ نو د جینۍ واله دې ولې اونه لري ـــ؟ خو دا شرط زیبو اقبال او د اقبال کورنۍ ته د ډېرې مجبورۍ نه اېښودی وه ـ هرڅوك د زیبو مرستیال وو ـ د اقبال د پلار او د مور په مینځ کې هم په دې شرط تکرار روان وه ـ کله کله به دواړه ډېر لرې لرې لاړل ـــ زه د خپل زوي نه بې غېرته نه شم جوړولی ... چې د ښځې سره یې دېره کړم ـــ!! د اقبال پلار خپلې ښځې ته ښکاره کړښه راښکله !! ګوره سړیه !! دا خو به د مجبورۍ نه وي !! خو پلار یې نه منل ـــ اخر چې اقبال د دواړو ترمینځه په دې تکرار کې شریك شو ـــ نو د اقبال پلار ته دا ښکاره شوه چې اقبال د زیبو لپاره هر شرط منلو ته تیار دی ـ اوس د هغه په قهر کې لږ کمی راغلی وه ـــ خو د ځان نه یې د خپله لاسه لاس پرې کول هم نه غوښتل ... ځکه چې اقبال د هغه ډېر نازولی زوی وه ـ کور کې د اقبال جوړ کړی شوی واده د لاټجې ښکار شوی وه ـ هلته که زیبو د خپل شرط نه نه ورستو کېده نو دلته د اقبال پلار اسمان په سر اخستی وه ـ د

Downloaded from: ketabton.com



اقبال د کوژدن او ورسره د زر واده خبره تر لرې لرې رسېدلې وه ـــ نږدې خپلوانو او د کور زنانو خو دې ښادۍ ته سر زړوکي هم کړي وو خو دا نوی صورتحال دوه اړخه ډېر د فکر او اندېښنې وه ـــ "زمانه خو به پوزه پرې شي که د زوي نه مې کړې ښځه پاتې شي" د اقبال مور ژړا ته ګوتې کړې کور يې ټول په بله واړولو ـــ خو که زما په ژوند اقبال دې ته غاړه کېښوده چې د ښځې په شرط به ژوند تېروي نو دا زما لپاره مرګ دی ـــ په ما دې خاورې واړوي نو بیا دې کوي چې څه يې زړه غواړي ـــ!! د اقبال موروپلار به یو بل سره نږدې نه شول کښېناستی چې به یو ځای شول نو په جنګ به شول د اقبال مورخوځو ځله زېبو ته ورغله د زېبو زنه يې ونیوه چې د خپل شرط نه په شا شي خو زېبو به په ډېره بهادرۍ هغې ته د خپلې مجبورۍ ځایونه په ګوته کړل ـــ د زېبو خبره په ځای وه خو د اقبال د پلار ضد او سختي هم د بهادرشاه نه کمه نه وه ـــ اخر د دواړو کورونو په صلاح د دې مسئلې یوه د مینځ لاره وکتلې شوه ـــ اوس د اقبال پلار یو شرط لرلی وه ـــ او دې شرط د زېبو لپاره یو نوی امتحان جوړ کړی وه ـــ هغې ځان د ژوند په یو مشکل پړاؤ کې لیدلو ـــ

***

Downloaded from: ketabton.com



د زېبو د صلاح مصلحت څوك وو؟ د اقبال د کورنۍ شرط ته یې غاړه کېښوده ـ د اقبال د پلار شرط دومره بد نه وه ـ د هغې ترمخه به زېبو د څو ورځو لپاره د اقبال کورته سره د خپلو ترورېانو راتله ــ د واده د رسمونو ـ امبارکو سلامو نه پس به زېبو خپل کور ته د اقبال سره واپس راتله ولې چې هغې نه غوښتل چې د هغې د تروریانو جنازې دې د پردي زوم د کوره اووځي ـ د شرط ترمخه به د دواړو تر ژونده اقبال د زېبو سره د هغې د پلار په حویلۍ کې د وسېدو پابند وي ــ په دې خبره دعا د خېر وشوه ــ او د زېبو او د اقبال د واده نېټه کېښودې شوه ــ پرې خو داسې په ورو ورو ژړېده لکه چې زېبو د دې کوره د همېشه لپاره روانه وي او هغوي به یوائې پاتې شي ـ ـ ـ اوس د پرې مازغه هم ډېر کمزوري شوي وو خبره به یې زر د یاده وتله ـ ـ ـ خو زېبو د خپلو تروریانو لپاره نه مړه وه نه ژوندۍ ـــ تاج بي بي خو په لاسو پښو او سترګو روغه وه خو اوس به پرې د لېونتوب دورې زر زر راتلې ـ زېبو د خپل واده لپاره تاج بي بي او پرې ته هم نوې جامې ګنډلې وې ـ ـ ـ تاج بي بي خو لکه د ماشومانو

Downloaded from: ketabton.com



جینکو خپلو نوو جامو او پېزار ته داسې خوشحاله وه چې بیا بیا به یې په ځان مېچ کولې کله به یې خوښې شوې او کله به یې لرې ګوزار کړې ــ اخوا کړه دا چیړانګې ! زه په دې کندانو څه کوم ــ ماته به خپل رفیق جان د کمخواب جوړه راوړي . . . د سرې بنارسۍ سره ــ!! هغې به په نوو جامو لاړې تو کړې ــ اخ تو ــ زېبو د پرې په وېنا د بهادرشاه دولت ته مټ ورکړی وه د واده سامانونو ته به خلك تماشې له راچلېدل ــ هرڅه د اقبال او د اقبال د کورنۍ په خوښه تیار شول ــ د سرو زرو پخواني کالي پترې ورته د اقبال پلار خپله د ښار په ښه زرګر رنګ کړل ــ هغې چې د تونۍ نه یو یو پنډوکی راخستو نو ډېره زر ستومانه شوه ــ د مور د غاړې د سرو زرو لړۍ لړۍ درنه کټماله خو یې راوچتولې نه شوه ــ هغې ډېر کالي پترې د مور په غاړه، غوږو، لاسو او ګوتو لیدلي وو ــ خو دې کټمالې د هغې سترګو ته د ژوند د یو ښائسته سفر حسین ملګری رامخې ته کړو ــ اقبال هغې ته ډېر په مینه کتل او د هغې د سینګار او ښائست صفتونه یې کول ــ هغې زر په یو وړوکې پنډوکې کې د سرو څو ښائسته بنګړې، والۍ او ګوتې رابیلې کړې . . . دا خو به پټې د اقبال مور ته ورکړم چې د خپله لورې یې زما لپاره راوړي سبا څوك هغوي ته د نېستۍ پېغور ور نه کړي ــ او یو ښائسته د غاړې زنځیر یې د هغې لپاره غوره کړو . دا به خوانبې ته ورکوم ــ!! هغې ټول تیاری په خپلو لاسو کولو ــ خو خدای خبر ولې ورته د خپل ماشومتوب د وخت خپله همځولې ګورګوره ډېره رایادېده ــ که نن هغه راسره وی نو زما نه به یې ډېر بوج اخستی وه ــ خدای خبر هغه به چرته او په څه حال کې وي . . . د ژوند ملګری به یې څنګه وي؟ بچي به یې څو وي؟؟ هغې دا سوچونه کول چې ناڅاپي د دې سوچونو او

Downloaded from: ketabton.com



پوښتنو سره یو ازغن خیال لکه چې د هغې احساس زخمي کړو ــ د هغې زړه یې راوکنستو د هغې په ګوتو کې یوه ستن ننوتې وه ــ د یوې وړې چغې سره وئي مورې !! هغې زر خپله ګوته په بل لاس کلکه ونیوله ــ د خپل ژوند د ماضي د لوړو ژورو نه راوتې وه څه هم که د ګوتې نه یې وینې روانې وې خو هغه د خپل ژوند د نوي سفر په خیال ډېره مطمئینه وه ــ

***

Downloaded from: ketabton.com



نن د زېبو نکریزې وې ... د هغې همځولې ټولې د هغې سره په کُنج کې ناستې وې ــ چا تمبل غږولو ــ چا سندرې وئیلې ــ او چا د اقبال په نوم د هغې سره چېړچاړ کولو ــ زېبو ته د ژوند دې نوي او نابلده وختونو ډېر خوند ورکولو ـــ هغې به د ډېرې حیا نه مخ په دواړو لاسو پټ کړو ـــ خو کله کله به د هغې د وجود زړه او د فکر په دنیا کې یو لوی اړی ګړی جوړ شو ــ هغه به د خپل تېر ژوند د تېرو وختونو په پولو ولاړه وه ــ د غمونو او د وینو د لختو نه یې ټوپونه وهل ـ هغه په دې هڅه کې دغلته ولاړه وه ــ د وخت په یوه داس پوله چې د غمونو د سرو وینو د لختو نه ورته اوړېدل وو ــ خو د هغې زړه ډېر کمزوری وه ـــ هغې داسې ګڼل لکه چې دا به په دې لختې کې ګوزار شي خو د ژوند او مینې یو مهربان لاس اوس هغې ته راغزېدلی وه د خپلو ټولو محبتونو سره ــ د ډېر اخلاص سره، په دې احساس هغه په کُنج کې د ډېرې خوشحالۍ نه راوغوړېده لکه د سپرلي د تازه ګلاب ـــ همځولو د هغې د وېښتو نه د اوربل وړې وړې کمڅۍ جوړولې ـــ هغې په زړه کې پټ له ډېرې مینې د کمڅۍ په دې ولونو یې خپل زړه او خپل ژوند او وجود د اقبال په نوم نغښتلو ـــ چمنې خو د زېبو د واده نکریزې او شمعې په ډېر اخلاص راوړې وې ـــ د چمنې د غېږې زوې لویې لویې چغې وهلې خو چمنې د زېبو سره لکه د خپلې سکه خور د خپلې مینې پت پاللو د هغې د واده په خوشحالۍ کې یې پېنځې دومره اوچتې کړې وې تابه وئیل روانو اوبو ته وردانګي ـ خو دا یې د زېبو د واده بامبېړونه په سر

Downloaded from: ketabton.com



اخستي ووــ او زېبو ته يې د خور کمی نه ورکولوــ زېبو به د تمبل او لاسونو په پړقاري کله کله د ځانه ورکه هم شوه ـــ د هغې همځولو به د سندرو ډکې جولۍ په هغې لکه د باران ورولې ـــ شپه ده د نکريزو جينکۍ تمبل وهينه... خلك د هر خوا نه په واده راغلي دينه ـ خو د زېبو لېمه به د اوښکو نه راډك شوي ووـ هغې ته به په دې مېلـه کې د خپلې مـور، د خپلـو وروڼـو څهرې نـه ښکارېدې د يوې خور د ژوند لوی ارمان دا وي چې د ژوند د نوي سفر لپاره يې خپل وروڼه په قلار قلار تر ډولۍ بيائي او نن د زېبو د ژوند دې لويې محرومۍ په هغې چکونه لګول د مور د دعاګانو لپې يې نه لرلې ــ د پلار د مينې لاس يې نه ليدوــ د وروڼو د مضبوطو متو تکړه حصار يې د ژونده ډېر مخکښې نړېدلی وه ــ هغه څنګه يك يواځې د لېونو سيېلنو تروريانو سره پاتې وه ـــ هغې ته د خپلو تروريانو ارمانونه هم ځومبك ځومبك رامخې نه شوي وو۔ تاج بي بي خو د واده او کور ارمان تراوسه په طمع ساتلې وه ــ هغه نن هم د واده جينۍ په کُنج او ډولۍ کې نه شي ليدلې ـ خو وخت او رشتې د هغو لپاره ډېرې د جبر شوې وې ـ د دې حوېلۍ په ګوټ ګوټ کې ډېرو پېغلو ځوانۍ او ارمانونه دوړېدلي، خاورې شوې وې اوس خو دا حوېلۍ خلکو د يوې سپېرې هديرې په نوم پېژندله ـــ چې ژوندي په کې هم خاورې شوي ووــ او مړه يې هم وينې وينې ليدلي ووــ چمنې خو زېبو ته دا پتهۍ زوته کړې وه چې ــ "په دې در بيا قدم مه ږده ـــ" خو د زېبو نه به خپل کور او د ېوالونه څنګه هېرېدل ــ د يادونو د ښو او بدو وختونو يوه حواله خو يې هم دغه حوېلي وه او نن يې په دې حوېلې کې د هاغه ټولو حوالو يوه ؟؟؟؟؟ شپه پاتې وه ـــ دا احساس هرڅو که ډېر د هغې لپاره د تکليف وه خو د هغې لپاره

Downloaded from: ketabton.com



د تسکین خبره دا هم وه چې هغه د یو نوي ژوند لپاره خپل نوي کور ته روانه وه ـــ پري او تاج بي بي دواړه نن په دې شپه نه پوهېدې چرته به په یوه کوټه کې اودې پرتې وې خو د زېبو فکر د هغوي نه هم چاپېره چورلېده ـــ پردی سړی که ډېر هم ښه شي خو زما لپاره به وي ـــ زما تروریانې چرته پېټی ونه ګڼي ـــ هغه به اندېښنې واخسته ـــ اوس ګلابې د هغې لاسونه په نکریزو سره کړي وو ـــ درنګ ساعت له د اوربل خورولو لپاره د اقبال کورنۍ راروانه وه ـــ

***

Downloaded from: ketabton.com



د زیبو نن ډولۍ وه ــ هغه د دې حویلۍ ورمبۍ پېغله وه چې د پېغلتوب د حد نه وتونکې دې مقام ته رسېدونکې وه د دواړو تروریانو د ارمان مقام ته ـــ د اقبال د کور د اړخه ګڼ جنجیان هم د ډهول سُرنا سره راروان وو ــ د کلي بل سر نه به د ډهول غږ ډېر واضحه راتلو ــ خو د زیبو په کور کې د راغلو مېلمنو غال مغال به دومره سېوا وه چې د لرې نه د ډهول او سرنا اوازونه به پکښې ورك شول ــ زیبو په سره جوړه کې غونډه مونډه پټې سترګې ناسته وه ــ خو د پټو سترګو په شا یې د راډنډ اوښکو مخونه د ښو شپول پټ ساتلي وو ــ خو داسې ښکارېده لکه چې زیبو هم د نورو پېغلو د ارمان په دې موقع د څو اوښکو تویولو رو ایت په ځای ساتلو څه هم که د اوس نه د اقبال شوخیانو، د هغه ښکلې وتې دنګې ځوانۍ د خپل شرارت او لېونتوب په لاسونو تخنوله خو د هغې په سترګو کې راغلې اوښکې اوس د هغې په ګلابي اننګو لکه د پرخې پرتې وې ـــ چمنې به د هغې د مخ نه د بنارسۍ پلو په ورو غوندې اخوا کړو د هغې په غوږ کې به یې پټه څه خبره وکړه ـــ زیبو به سر د حیا نه نور ښکته کړو ــ زړه یې بې واره بې واره درزېده د نوي ژوند د خوشحالو سره سره څه فکرونه او اندېښنې هم د زیبو ملګرې وې ــ ځکه چې د پېغلو د قسمتونو سودا ډېره عجیبه وي ــ ژوند که سمی وخوري خو ټول عمر د پېغلې ژوند جوړ شي خو که په نوي کور کې د نوي ژوند توله لړه ګډه وډه شي نو د تمام عمر سرخوږی وي ــ ګلابې په سور بخملي استر کې نغښتی قرآن پاك په ډېر

Downloaded from: ketabton.com



احتیاط د هغې لاسونو کې ورکړو ــ زیبو د قرآن پاك مخ ښکل کړو او بیا یې په قلار خپلې سینې پورې ونیولو ــ هغې ته ډېر سکون محسوس شو ــ اوس پري په سرو سترګو د هغې سره نزدې د ډېر وخت نه ناسته وه هغې د زیبو سینګار نه شو لیدی خو د زړه په سترګو یې زیبو ډېره ښکلې لیدله ــ ماشاء الله ... د زیبو په لور چې څنګه هغې لاړه توکله نو د جمنې د غېږې په ورکوټې زوې لکه د پوواړې پربوتل ــــ د کلي کسبګرې تورې خو د سپېلنو نه داسې لوخړې پورته کړې وې چې په هرڅا تښوخی لګېدلی وه ــ اول ښه شېبه د زیبو مخې ته ولاړه وه په یو لاس کې نیولی د سپېلنو د تالي نه به یې په لاس لوګی د زیبو مخې ته شړلو ــ نظرمات د شنو سترګو، د تورسترګو نظرمات، د لارې د کوڅې، د چم د ګاونډ، په هوا کې د مارغانو، په اوبو کې د مهیانو، په جنج کې د راتلونکو نظر مات مات ــ د تورې په دې وښا پري زر د غاړې نه د ګرېوان په لاره د پېسو ډکه کڅوړه راواخسته او د زړه په دلیل یې یوه روپۍ د تورې په لاس کېښوده ــ په زیبو هم د سپېلنو لوګي تښوخی لګولی وه ــ په پوزه یې رېښمین رومال کلك اېښودی وه ــ د جنج د ډهول سُرنا اوازونه رانزدې شوې وو ــ پري خپله نوې جوړه په غاړه کړې وه ــ تېله دارې پنجابۍ پڼې یې په پښو کړې وې ــ بورقعه یې لکه د مېلمنو په ترخ کې نیولې وه ــ د کور د ټولو کوټو، صندوقونو کونجیانې یې څه زیبو ته حواله کړې وې او څه یې ځان سره په کڅوړه کې ساتلې وې ــ د زیبو سره خپلې دواړه تروریانې هم روانې وې په دې خبره او احساس د ډېرو خلکو زړونه هم خفه وو ــ که کور داسې میرات نه وی نو داسې به ولې کېدل؟ خو ډېرو خلکو اوس هم بهادرشاه ته بدرد وئیل ــ دا هرڅه د هغه د لاسه

Downloaded from: ketabton.com



شـوي دي اوس بـه د دواړو لښـکر بچـي ګرځېـدل، دا خبـرې او ګنګوسې د زېبو په غوږو هم لګېدې ــ خو زېبو تـه د ښـه ژونـد او نصیب دعا په هره خله ګرځېده ــ زېبو به پرې پټ په زړه کې امـین وئیل ــ د رخصتۍ وخت نزدې وه د زېبـو د داج د سامان نـه لویـه حوېلي ډکـه وه ــ چمنې او ګلابې په ډېره مینه ټول سامانونه پـه مېدان سینګار کړي ایښي ووــ خلك د حېرانتیـا پـه سېلاب لاهو ووــ وئـي ! دا کارخانې دې ورتـه خدای بختورې کـړي ... نصیب یې شه !! توري خو د داج سامانونو تـه هم سپېلني لوګی کول ــ سره پالنګونـه، کرسۍ، صندقونه، المـارۍ، پـه دلـو دلـو لوښـي لرګي او په صندقونو کې د سرو زرو خښـتې هم قطار قطار زېبـو په خپلو لاسو ایښې وې ــ!! ټول سامانونه اوس د زېبـو د ډولۍ نـه مخکښې د اقبال کور ته وړلی شـول ــ هرڅوك رامخکښـې کېدل هرچا د زېبو د بې څوکۍ د خاطره د هغې خدمت ته بډې راښکلې وې ــ د اقبال خوېندو او مور خو د سامانونو نـه ګېرچاپېره داسې بنګړې اچـولې چـې خلـك یـې پـه تماشـه وو ــ اقبـال د ورونـو او دوستانو سره ــ پـه سور جوړکړي پالنګ ودرولی شوــ پـه غـاړه ورتـه د روپـو امېلونـه قطـار قطـار ځلېـدل د پـري پـه ښـو ډېـر پـه احترام د سلامۍ د خاطره پرېوتو پري ځان ته رانزدې کړو پـه تندي یې ښکل کړو ـ او په زړغوني اواز یې ورته ووئیـل ــ پـه خدای او تا مې سپارلې ده ــ اقبال د پري لاسونه کلك ونیول لکـه چـې خپـل کلك لوظ د هغې سره بیا کوي ــ د اقبال خوېندې او مور په جامو کې نه ځایېدې په دروازه کې خو سره د ارمانونو ډکـه ډولۍ سـم د سـحره د زېبـو پـه طمـع پرتـه وه ـــ د سـرې بنارسـۍ نـه لاندې ګېرچـاپېره ترېنــه ول ول د سـپین څـادر ترلـې پـړدې د بنارسـۍ پیڅکو پټې کړې وې ــ ټول خلك په تـاج بـي بـي پسـې لـی په لی

Downloaded from: ketabton.com



ګرځېدل ــ څه شوه چرته لاړه؟؟ د تاج بي بي هیڅ درك نه لګېده ـــ او چې څنګه دوو تکړه ځوانانو ډولۍ ته اوږه ورکوله ـــ نو داسې يې محسوس کړه لکه چې ناوې پخپله د وخت نه مخکښې ډولۍ ته راختلې وي ــ دواړو يو بل ته وکتل ـــ او بيا يې ډولۍ په ځای کېښوده چې په دې کې د اقبال پلار په دې کسانو غږ وکړو هلکانو زر کوئ ناوخته کېږي ... او چې د اقبال پلار ته دې کسانو دا خبره وکړه نو هغه د حېرانتيا نه ګوته په خله شول ـــ نه يره!! هغه زر د ډولۍ نه پړده په قلاره اخوا کړه ــ او بيا يې ټوپ کړو ....

خلك د خندا نه رغړېدل ــ ډولۍ کې تاج بي بي د ډېر وخت نه ناسته وه ـــ خلکو ورته منتونه کول ــ ته راکوزه شه چې زېبو کښېنوو ـــ خو هغې ډولۍ داسې مضبوطه نيولې وه چې پرېښوده يې کله ـــ زېبو به خپل کار کوي ــ دا زما ډولۍ ده ګورې نه خپل رفيق جان راپسې راوړلې ده ـــ هله زر کوئ اوچته مې کړئ ــ!! د اقبال پلار حېران حېران په دې نوي صورتحال ولاړ وه ـــ د تاج بي بي سره زور هم چانه شو کولی ولې چې مېلمنو کې داسې د عزت مېلمانه راغلي وو چې د هغوي په وړاندې د تاج بي بي د لېونتوب او دورې ذکر هم نه شو کېدی ــ او فېصله په دې وشوه چې اول به تاج بي بي په ډولۍ کې ورسولې شي ــ بيا به ناوې پسې راشي ــ د تاج بي بي ډولۍ په ډېره چېتيا اوچته شوه ــ او ماشومانو چغې کړې ــ الاالاکۍ الا ـــ تاج بي بي د ډولۍ نه سر راوښکلی وه ــ په زوره زوره ـــ الاوايئ ــ!! او ماشومانو به نورې هم چغې کړې الاالا ـــ د تاج بي بي ډولۍ روانه شوه خلك د خندا نه شنه وو ـــ خو د زېبو په مخ د اوښکو سمندرونه لېدی شو ــ هغه وړو وړو سلګو نيولې وه ــ د ترور په ارمان يې په زوره

Downloaded from: ketabton.com



زوره ژړل خو یوه محرومي يې د خپلو وروڼو هم راپه زړه شوې وه ــ د هغې د بنارسۍ د پیڅکي تړلو څوك هم نه وو ــ هغه ګلابې او چمنې یو خوا بل خوا د لاسو نیولې وه ــ د هغې په شا نه د مور د دعا جولۍ وه او نه يې په سر د پلار د مینې لاس ــ څنګه بې څوکه روانه وه ــ د هغې قدمونه وخت او دې احساس ارجل برجل کول، داسې ورته ښکارېده لکه چې دهغې په پښو او قدمونو پورې چا غټې ګټې تړلې وي ــ هغې قدم نه شو اخستی د ژوند د نوي سفر دا ورمبی قدم او لار يې څه ډېره عجیبه ګڼله ــ!! د یوې لحظې لپاره په ټولو خلکو او په دې لویه حویلۍ چپتیا خوره شوې وه ــ خو د ډهول او سُرنا اوازونو دغه چپتیا د خپل شور په کومې کې ننباسله ــ اوس د هغې قدم سپك شوی وه ــ د زېبو ډولۍ رارسېدلې وه ــ

***

Downloaded from: ketabton.com



د زېبو لپاره سینګار کړې شوې کوټه د هغې د داج په سامانونو تر خلې ډکه وه ــ خو کوټه یوه عامه کوټه وه چې د هغې او د اقبال لپاره سرو پالنګونو لکه د ناوې سینګار کړې وه زېبو ګېرچاپېره کتل هغې ته د خپل پلار لویه حویلي رایاده شوه خو زر د حویلۍ سره تړلو تورو تورو د غم ډکو وختونو راولړزوله د هغې زړه په دې احساس ډېر راتنګ شو ــ لکه چې چا په ورغلي موټي کې کلك نیولی وي ــ خو بیا یو ښائسته احساس دم دلاسه کړه د اقبال د ملګرتیا او د ژوند احساس د هغه د لاس او مینې احساس ... هغې د سترګو نه ټول خیالونه اخوا دېخو وشړل، اوس هغه د اقبال په طمع وه ــ او بیا چې په ورو شان د هغې د کوټې د پورې ور تمبه خلاصه شوه نو هغې داسې وګڼل لکه د هغې د ژوند انګڼ ته په دې ښکالو بې شمېره سپرلو ډکې ډکې غېږې د رنګ رنګ ګلونو، خوشبویو او خوشحالو راوړې وي ــ اقبال د خپلې ښائسته رنګ جوڼې او دنګې لوړې مردانه کوارې سره د هغې په وړاندې ناست وه ــ هغه د حیا نه بیا راټوله شوه ــ د ګلابې او چمنې ډېرې شوخې شوخې خبرې ورته رایادې شوې ــ دا شپه او دا وختونه د هغې د نوي ژوند او ناویتوب په سینه ډېر درانه دران ښکارېدل ــ ځکه د ژوند د ډېرو ازمېښتونو، وسوسو اندېښنو درانه درانه کاڼي پرې پراته وو ــ خو اقبال په ډېره مینه او استقامت د هغې لاس نیولی وه ــ زېبو خپل ځان د یو نوي اسمان په مخ راځلېدونکي نوي امیدونو او هیلو ستورې ګڼلو اقبال یې

Downloaded from: ketabton.com



هم د دې هیلو د رڼاګانو ملګری ووـ ژوند ډېر ښائسته وه لکه د جانان ـ زېبو تېر وختونه به نه یادوې مونږ به د نوي ژوند لوظونه کووـ !! اقبال چې د هغې په نازك لاس خپل مضبوط لاس کېښودو نو د هغې ذرې ذرې ژوند او وجود په دې احساس راټول شو ـ هغې ته د اقبال او خپل ځان ترمینځه د عمرونو خوره وره فاصله هم په دې احساس رالنډه محسوس شوې وه ـ خو دا یو حقیقت وه چې زېبو په عمر کې د اقبال نه څو کاله مشره وه د زېبو په احساس دا خبره هم لکه د مچۍ ناسته وه ـ خو هغې دا عزم کړی وه چې د عمرونو دغه فرق او توپیر به د خپل ژوند نه لرې ساتو ـ ځکه خو هغې د خپلو هیلو دنیا د اقبال د سیورې لاندې جوړه کړه ـ ژوند د خوشحالو او سپرلو په لاره روان شو ـ

***

Downloaded from: ketabton.com



تاج بي بي خو چې څنګه د ډولۍ نه راکوزه شوې وه۔ په خله غلې شوه ـ د زېبو زړه به هروخت لکه د پاڼې رپېدو چې په ببوجي مې دوره رانه شي ـــ هغې له ويرې خپل ناويتوب هم نه شو کولی ـ خړه پړه به ګرځېده ـ خو تاج بي بي اوس ډېره غلې غلې وه ـــ د خپل هاغه ارمان نه لاس په سر شوې وه چې د مودو مودو نه ورسره ملګرى راروان وه اوس يې نه د ډولۍ خبره کوله، نه د واده ـ نه به يې رفيق جان يادولو او نه يې د هغه کور ـ بس غلې غلې به ناسته وه لکه چې د ژوندي يو کس سره يې هيڅ رشته نه وي لکه يو پردي کور ته راغلې وي ـ پردو خلکو کې راګېر شوي وي ـ زېبو د ببوجي په دې نوي حالت ډېره خفه وه ـــ د اقبال سره يې څوځو ځله دا خبره وکړه چې ښه د مزغو ډاکټر ته يې وښائي خو اقبال به خبره په بله واړوله ـ د وخت سره به خپله ښه شي ـــ!!

اوس زېبو دا غوښتل چې د شوې معاهدې ترمخه اقبال له دې سره بيرته د هغې حوېلۍ ته لاړ شي او کېدی شي د ببوجي حالت هم د خپل کور په ليدو ښه شي ـ خو اقبال به خبره اخوا دېخوا کوله ـ زېبو ډېره خفه وه چې د ژوند په وړمبو ورځو کې دومره زر اقبال د خپلو خبرو نه لاس په سر شو مخکښې به يې څه حال وي خو اقبال ډېرسيانه وه، د هغه په دلاسو به زېبو بيا په خپل زړه د صبر کاڼی کېښودو ـ د هغې په دولت د اقبال د کورنۍ ژوند بدل

Downloaded from: ketabton.com



شو ـ او چې اقبال تك سپين موټر په خپله دروازه رادننه کړو نـو د اقبال مور خو ورته په لستوڼو ګډېده ـ خدايه!! د زوي برکت مې له دې نه هم سېوا کړې ـ!! زېبو چې دواړه لاسونه يې په اوړو لړلـي وو اوړه يې اغږل، د خوابنې پـه دې خبره هکـه دکـه پـاتې شـوه ـــ د کور لوی واړه په هيړه داسې ګـاډي تـه ورختـل لکـه چې پـه وړمبـي ځل يې ګـاډی پـه سـترګو ليـدلی وي ـــ د څو ورځـو نـه پـرلـه پسـې اقبال په زېبو پسې شوی وه چې تروريـانې دې روغـې رنځـورې دې ناوې ښځه يې داسې دې نـه شـم ګرځولې ښـه بـه وي چې يـو مـوټر کور ته راشي نو غم ښادي به دې اسانه شي ـــ!! او زېبو د اقبـال دا خبره هم په پټـو سترګو ومنله ـ د ګاډي راتګ پـه کور کـې څـه وه د اقبال مور ته د لـرې لـرې غـم ښـادۍ رايـادې شـوې، سـحر بـه مـوټر کې يو ځای ته تله او مازيګر بل ځای ته، د زېبو خوارې نـه خـو چـا يوه خله تپوس هم نه کولو ـ چې تـرور دې دارو تـه بـوځې ـــ !! زوړ کور تـول پوخ کړی شو ـ د کور دې نوې جوتې خو د لـرې لـرې خلك ځان ته راښکل د اقبال د عمرونـو د ناسـتو حوېنـدو د بخـت غـوټې وسپړدلی شوې ـ ـ ـ په ښو ښـو کـورنـو کـې يـې کـوژدنې وشـوې ـــ د ببـوجي طبيعـت او حالـت ورځ پـه ورځ پـه زوالـ وه زېبـو بـه يـې ډېر خيال ساتلو ـ ـ ـ يوه ورځ چې زېبو د تاج بي بي ببوجي د څنـګ نـه نه خوزېده د ببوجي پښې لاسونه پړسېدلي وو رنګ يې تك زيـړ وه خو کله کله به يې په تتـه تتـه ژبه زېبو ته څه خبره وکړه، زېبو بـه کلـه په خبره پوهه شوه او کله به په ببوجي رانسکوره وه سـترګې بـه يـې د اوښکو ډکې وې ـ ـ ـ مـا خپـل کـور تـه بوځـه ـ ـ ـ او چې څنګـه ببـوجي د خپـل خـواهش اظهـار وکـړو ـ ـ ډېر پـه قـلار ـ نـو زېبـو تـه داسـې ښـکارېده لکـه چـې ببـوجي د ژونـد اخـري ارمـان هغـې تـه مخکښې کړو ـ!! هغې زر د تاج بي بي د تندي نـه بوسـه واخسـته

Downloaded from: ketabton.com



خپلې اوښکې یې نورې په لېمو کې پاتې نـه کړې شـوې د تـاج بـي بي مخ او تندی د زېږو په اوښکو تر شوي وو او چې زېږو وکتـل نـو د اوښکو په ډکو سترګو تاج بي بي ببوجي هم زېږو ته کتل ــ لکـه چې خپل کور ته د بوتلو لوظ ترې اخلي ــ زېږو چغو پـه سر د تـاج بي بي کټ ته ناسته وه د هغې لاس یې پـه لاس کـې کلـك نیـولی وه ـ په رېو رېو اوښکو یې ژړل ــ یو ځل بیا د ببوجي په ارمـان هـم او په خپله بې وسۍ هم ــ

***

Downloaded from: ketabton.com



زېبو چې په ځنکدن ترور خپل کور ته روانوله نو د کور د خلکو تندي خراب وو خو اوس زېبو دې هرڅه ته ملا ښه کلکه تړلې وه او چې اقبال په دې پوهـ شو چې زېبو اوس اراده کړې ده نو هغه یې هم په نه زړه ملګرتیا وکړه ـــ د حوېلۍ دنیا یو ځل بیا د زېبو مخې ته ډېر وختونه راوړل ــ ډېر څه یې د تصور په شیشه وځلېدل ... د حوېلۍ نه یې ډېرې جنازې وتلې لیدلې وې او یو ځل بیا ترېنه جنازه وتونکې وه . زېبو د خپلې ترور اخري ارمان پوره کړی وه ـ تاج بي بي چې څنګ د خپل کور د پوالونونو ته وکتل نو داسې رنځوره مسکۍ شوه لکه د خزانونو وهلی یو ګل چې چرته په هوا اوښوري مسکی شي یا د ژوند په هیله پروت یو رنځور چې ناڅاپي د مسیحا مخ ووینې ــ او بیا یې خپلې سترګې همېشه لپاره پټې کړې ـــ زېبو په چغو چغو وژړل د خپلې ترور یو یو ارمان ژړوله ... خو یو ارمان د زېبو په زړه هم پاتې شوی وه ـــ د هغې په خېټه کې د ساه اخستونکي بچي مخ یې ببوجي ونه لیدو ــ ببوجي لړه به ایساره شوې وې ... خو مرګ ژوند د خدای په رضا وي . انسان ډېر بې وسه وي یو ځل بیا ګلابې او چمنې هغه راوچته کړې وه د هغې اوښکې یې وچولې .. ـ هغې له یې تسلۍ ورکولې .. ستا حالت د دومره ژړلو نه دی ماشوم ته دې ژړا نه ده ښه ..... او چمنې هغه دلاسه کړه ـــ هغه نن ډېره خفه وه ... خو داسې د مړو ډېر غمونه هغې لیدلي وو ...

Downloaded from: ketabton.com



ببوجي هم په کې شمار شوې وه ـــ خو دا ژړا او اوښکې د زېبو د یو داسې پټ غم وې چې هغې په زوره او ښکاره ژړلی هم نه شو .

د زېبو د اولاد د زېږون نېټه رالنډه وه . خو هغه په دې خوشحالۍ نه پوهېده . مجبوراً هغه بیا د حوېلۍ نه کور ته راغلې وه . نن د هغې په ملا نرۍ نرۍ درد وه اقبال ته یې د شپې نه وئیلي وو چې په کور کې اوسه خو اقبال د یو ضروري کار په بهانه تلی وه ، زېبو په خپله کوټه کې پرته وه . چې ناڅاپه یې خوابښې په جنګ کوټې ته راننوته ـــ بي بي! دا ته چې کټ کې پرته یې نو دا کارونه به څوك کوي ـــ زما لوڼه خو خپله مېلمنې دي نن سبا یې که نصیبونه راوېښ شول نو ځي به . کور خو ستا دی . د اقبال مور داسې په څپګونو خبرې کولې لکه چې د زېبو د ساعت ګړۍ د حالت نه ناخبره وي ـــ زېبو د کټ نه راپاڅېده چې د ناتار یوې څرېکې بیا کټ کې وغورزوله ـــ ښه ـــ لکه دا بچي مونږ نه دي راوړي ... ته داسې د دیارلسو کالو نازکه جینۍ یې ... پخې زړې چې لااولاد درنه بود شي ـــ د اقبال مور به زېبو ډېره تنګوله خو نن یې د هغې په زخمونو داسې مالګې دوړولې چې د هغې د زړه نه خدای خبر وه ـــ او بیا په لویه خېټه پټه خُله کارونو ته ونښته ـــ د زېبو زړه ډېر خفه وه هغې د خپلې خوابښې په رویه احتجاج هم نه شو کولی ـــ او بیا چې شپه د نیمې اوړېده نو د زېبو غېږې ته د هغې د ژوند او وجود یو مشال راغلی وه ـــ زېبو د وړوکي مشال په راتلو خپل ډېر غمونه هېر کړل ... د اقبال نه دې واحدې یك یوې کړې ګټې د هغې سپور ستغ ژوند د خوشحالو نه راډك کړو ـــ خو چې کله د هغې بلې ترور ورې ببو پرې سترګې پټې کړې نو د پلار او نیکه دې اخري نخښې بېلات ډېره ګډه وډه کړه ... خو اوس به د مشال د مخ وړو وړو پلوشو د

Downloaded from: ketabton.com



هغې د ژوند او وجود ټولې تیارې تښتولې ــ اقبال د هغې سره ښه وه او که ښه نه وه ــ؟ د دې سوال جواب هغې نه شو لرلې بس خو د مشال په اسره یې ژوند د اقبال په څنګ کې هم تېرولو ــ اوس اقبال د هغې د پلار نه پاتې د هاغه لویې حویلۍ سودا هم کړې وه او چې په دې کې ورته زېبو لږه کلکه شوه ... د پلار هډوکي مې څنګه خرڅوې؟ نو اقبال خو غلی شو خو خوابښې یې په جنګ شوه ـــ ورکه دې د پلار دا سپېره حویلۍ شه د هغې نه خو خلك ویرېږي شکر کوه چې دې بنګلې ته مې راوستې یې ــ!! او د زېبو په خله راغلې دا خبره داسې غلې شوه لکه چې راغلې نه وي زېبو ډېر وخاندل ... دومره ئي وخاندل چې په سترګو کې یې اوښکې راغلې ... ښه ... دا بنګله خو د چا برکت دی . دا ځل هغې د زړه نه راوچته شوې خبره په خله راوسته ـــ او د اقبال مور په ډېر قهر پښې سپکې کړې ــ زېبو چې د خپل ژوند شا ته کتل نو یوه اسره یې نه لیده . خو اوس یې مشال ژوند ته راغلی وه ـــ چمنه د زېبو ډېره د پناه پړدې ملګرې وه هغې ته به یې د ژوند او زړه هره خبره کوله ــ چمنې هغې ته د زړه نه یوه خبره کړې وه او زېبو دغه خبره په زړه کلکه پټه کړې وه ــ اوس زېبو ډېره مطمئنه وه ــ مشال لکه د غرګې لويېدو ـــ د هغه اونه چې به یو سپك لويېدله نو د زېبو قد به یو لوېشت اوچت شوی وه ـــ د هغې زړه په خپل مشال ډېر ډاډه وه ـ ـ ـ . او چې په کور کې د زېبو د دوېم اولاد د راتلو خبره بیا بیا کېدله ... نو زېبو هم د ګلابې په وېنا ډېر دارو درمل وکړل خو خوند یې ونه کړو ځکه چې د زېبو عمر اوس د بل اولاد نه وه ـ ـ ـ. هغې ته خو یو مشال هم پوره وه خو دا ورته د کور د خلکو یوه بهانه ښکارېده چې هغه یې زورله ـــ حالانکې دنیا دولت خو ټول د هغې وه چې ټولو پرې مزې کولې ــ خو اوس هغه

Downloaded from: ketabton.com



د اقبال په تندي هم پوهېده ـــ د خپل کم عمرۍ او د هغې د ډېر عمر پېغور به يې زېبو ته سحرماښام لکه د ښځو ورکولو ـــ او نو څه به وشي چې ستا عمر د بل بچي د پېدا کېدو نه دی ـــ!! د زېبو به د اقبال په دې خبره زړه ډېر خفه شو خو بيا به زر د مشال وجود د هغې د زړه نه د خفګان احساس لرې کړو ـــ مشال خو مې شته شکر بې اولاده خو نه يم ـــ خو هغه څه خبر وه چې په ژوند کې د خپل کور او ژوند ارمان د هغې نه يوه لويه غلطي کړې وه هغه په خپله خطا ډېره ستومانه وه ـــ او اوس چې په کور کې کوم سازش د هغې په ضد جوړېدو نو د هغې هوا يې هم په غوږو لګېدلې وه ـــ

کور کې د پخېدونکي کيچړي بوئي هغې محسوس کړی وه ـــ د اقبال فکر اوس د هغې نه اوړېدلی وه ـــ په ورځو ورځو به د کوره بهر وه او زېبو به يې انتظار کولو ـــ اوس خو به مشال هم په پلار پسې خفه وه ـ په وړه ژبه به يې د مور نه پوښتنې کولې ـــ بابا به کله لاجي ـــ!! او زېبو به غولولو ـ لاجي به ښه، خپل بچي ته به ډېر ممونه راوړي ـــ!! مشال به په لوبو شو ... خو ماشوم مشال ډېر ځيرك وه چې خپله مور به يې خفه وليده نو رامنډه به يې کړې او اوچت به يې غېږ ته اوختو ـــ د زېبو نه به دلې غمونه اخوا شول ـ ـ ـ د هغه په ښکلو رڼو رڼو سترګو کې به يې د خپل روښانه سباؤن د خوشحالو تصوير ليدو او دې طمعو او هيلو زېبو د وخت د ډېرو کړمو نه تېرولـه ـ اوس خو هغې دا سوچ کړی وه چې په خپل مشال به ډېر سبق وائي هغه ته به پوره پوره پام لرنه کوي او هغه به د خپل ځان سره جخت ساتي ... د اقبال مور به ډېر د نمسي د لاس ته کولو هڅې کولې خو زېبو ته چمنې يوه خبره دا هم کړې وه چې خپل بچی چاته هم نزدې مه پرېږده ـــ ستا

Downloaded from: ketabton.com



د ژوند د ټولو نه لویه اثاثه مشال دی ــــ!! مشال هم د خپلې مور په سترګو پوهېدو چې ورته به يې وکتل نو د مور د زړه په خبره به پوې شو ــ نیا خو به يې سمه سوزېده .... بې له موره هډو څوك پېژني نه....!! خو زېبو به په داسې خبرو اوس غوږ نه ګرولو ــ د هغې د اخلاص لاس اوس د ټولو نه اخوا شوی وه ــ ولې چې د ټولو په نیتونو هغه ډېره ښه رسېدلې وه ــ!! هغه په دې هم پوهېده چې اقبال يې د لاسه وتلی دی خو هغه یوه پښتنه مېرمن وه د خپل خاوند د کوره وتل ورته ښه نه ښکارېدل ــ او په دې خبره خو سمه ډاډه وه چې دا کور دا هرڅه د اقبال نه د مشال دي او هغې ځان په مشال په کور کې شته ګڼلو ...او بیا ... هاغه ورځ هم راغله چې د هغې په زړه کې پټې ناستې ویرې د رښتیاؤ لار اخستې وه ــ!!

***

Downloaded from: ketabton.com



د اقبال د دویم واده خبر زیبو ته هم رارسېدلی وه ـ زیبو نه مړه وه نه ژوندۍ ... ډېر سوچونه یې کول .. په ما کې څه کم دي؟ د ګل په شان مشال لرم څه بې اولاده خو نه یم ، ډېر مال دولت او جائدادــ ما خو د دې کور تقدیر بدل کړی دی اقبال داسې خو نه وه .. هغه د کچه کوټې کور خو یې هرچا لیدلی وه ... خو رښتیا چا وئیلي دي ... د هرڅه سیالي شته خو د نصیب نه ... شاید دا زما برخه ده ... ما هم دغه نصیب راوړی وه ... هغې د اقبال د بې وفائۍ په دې نوې پېښه ډېر وژړل ... !! زه خو چې د کوم فکر سره د اقبال ژوند ته راغلې وم د هغې بس هم دا یوه ګټه د مشال په شکل کې زما وړاندې ده ــ نور خو ما هرڅه له لاسه ورکړل ــ زه څه خبر وم چې د ژوند په دې سودا کې به هم زه پاتې راځم ... اقبال ته خو زما د راوستو سودا ډېره د ګټې پرېوتې وه ... د پوخ کور مالك شو، د سروسپینو خاوند شو ... خو اوس به نور داسې نه کېږي ... زه به خپل ځان وپېژنم دا خو ښه ده چې ډېر هرڅه اوس هم د اقبال نه پناه دي ... ځکه چې د چمني دا خبره به مې ځنګه هېروله چې د ښه خاوند نه نیم ځان پټ او د بد نه ټول ،

Downloaded from: ketabton.com



اقبال خو ډېر بد خاوند ثابت شو ــــ ټول نظر يې زما په مال او جائداد ساتلی دی ـــ!! هغې خپلې اوښکې وچې کړې . . . او په ځان کې يې يو نوی عزم محسوس کړو. . . . هغې ته نن د خپلې بې عزتۍ تپوس کول وو ـــ د اقبال ګرېوان به رانيسم او تپوس به ترېنه کوم ـــ زما څه قصور وه ـــ تا ولې داسې وکړل، زه په څه نيمګړې وم ـــ؟؟ او بيا چې اقبال راغلو ـــ زېبو لکه د ټپې مار . . . اقبال د ګرېوان نه راټينګ کړو . . اقبال حېران حېران د زېبو مخې ته ولاړ وه ـــ خو لکه د يو مجرم نه ـــ هغه ته خو دوېم واده جرم نه ښکارېدو ـــ دا يې خپل يو حق ګڼلو ـــ خو زېبو ته خپل ځان ډېر سك ښکاره شوی وه ـــ تا زما د مينې دا بدل راکړو ـــ؟ زه به تا چرې معاف نه کړم او چې زېبو ښه ډېر زړه سپك کړو ـــ نو اقبال يې په قلار لاسونه د خپل ګرېوان نه وويستل ـــ ګوره ـــ!! ما واده د نور اولاد لپاره کړی دی ـــ تا ماته نور اولاد نه شو راکولی . . . ته زړه يې . . . ته شنډه يې او په دې خبره ځان پوهـ کړه ـــ که نورې خبرې دې وکړې نو زه به درنه خپل بچی هم واخلم او بيا څه لاره دې خپله ده ـــ!! زېبو هم حېران حېران اقبال ته کتل ـــ دا هاغه سړی دی چې زما د برکته شته شوی دی . . .؟ اُف خدايه ـــ!!! هغې خپل سر په دواړه لاسه ونيوه . . . او کوټې ته يې ورمنډې کړې ـــ د کوټې ور يې په ځان پسې کلك پورې کړو ـــ!! د هغې يقين نه راتلو چې اقبال به د هغې سره داسې هم کوي ـــ د هغې خو دا خيال وه چې اقبال به د واده د خبرې نه منکر شي خو اقبال ډېر په ښکاره د دوېم واده خبره منلې وه . زېبو داسې محسوس کړه ـــ لکه چې نن هغه بيا سرتور پښې ابلې پښې د وختونو په توده دشته ولاړه ده د هغې په سر د حالاتو تود نمر نيزه والا شوی وه ـــ د هغې پښې ټولې تناکې شوې وې . . . . خو هغه زر لکه چې يو ګور او يخ

Downloaded from: ketabton.com



سیوري راټوله کړې وي ـ مشال د هغې د سترګو اوښکې وڅولې ــ او زیبو د دې سیوري احساس ډېره په سکون کړه ــ د هغې سترګې په خوارې خوب ورغلې وې ـ . ـ مشال یې د سینې سره جخت نیولی وه ـ

د زیبو یوه خبره اقبال منلې وه ـ او هغه خپله دوېمه ښځه چرته بل ځای ساتله . . . چرته کله کله به یې د زیبو خواته راپېښه وکړه ــ زیبو به ډېره غلې غلې وه . . . د اقبال سره به یې د ضروري خبرو نه پرته یوه خبره هم نه کوله ــ بس د خپل مشال د سره یې دا سیوری اخوا کول نه غوښتل . . . په خپل مخ به یې د سپي ځرمن واچوله . . او د اقبال خیال به یې ساتلو ـ وخت لکه د باد ځېر روان وه . مشال یې په ښه سکول کې دا خل کړی وه، هغه په سبق کې ډېر ښه وه . . . هرځل به په ډېرو ښو لمبرو پاس کېده ــ د زیبو ورته ډېرې سترګې وې ــ!! د اقبال د ژوند او بلې ښځې او کوره یې ځان نه خبرولو چې په څه حالت کې دي ـ خو کله کله به یې اقبال ډېر خفه خفه لیدلو ــ داسې به یې ګڼل لکه چې اقبال ورسره د ډېرو خبرو کولو ځای او موقع ګوري خو زیبو پرې ډېر وخت ځان ناغرضه کړی وه ــ رابه غلو د مشال د ښه بد تپوس به یې وکړو ــ زیبو به ورته په لنډو لنډو ضروري خبرې وکړې ــ یوه ورځ چې اقبال څه لحظه وړاندې راغلی وه د مشال سره ناست وه زیبو ورته د چایو پیالۍ په لاس کې ورکړه ــ اقبال د چایو پیالۍ په کټ کې کېښوده او زیبو یې کلکه د لاسه راټینګه کړه ــ!! زیبو ماسره لږه کښېنه ــ!! اقبال په ډېر منت او عاجزۍ د زیبو لاس نیولی وه ـ زیبو زر مشال ته وکتل چې په خپلو کتابونو کې ورك ناست وه ــ هغې زر د اقبال نه خپل لاس خلاص کړو ــ زړه یې بې واره واره درزېدو ـ خو اوس هغې خپل زړه ته ډېره پخوا دا خبره کړې وه ــ

Downloaded from: ketabton.com



چې په داسې انداز به نور نه درزېږي ــ اوس د هغې زړه تش د مشال په نوم او ژوند درزېدو ـــ هغې زر خپل ځان ساه صورت کړو ـ ماته څه کارونه پراته دي ـــ!! زېبو د کار په بهانه د اقبال د څنګ نه روانه شوه ــ او اقبال ته داسې ښکاره شوه لکه چې چا د تودو چایېو ډکه پیالۍ د هغه په مخ راړولې وي ــ خو دې سره زر بیا د پښېمانۍ یو احساس په هغه پرغز راوستو ــ هغه د کټه راپاڅېدو او ګړندی ګړندی د کوره اووتو ـــ

***

Downloaded from: ketabton.com



د اقبال ژوند ډېر د اړې ګړي سره مخ وه ـ ښځه يې ډېره بده وه اقبال ترېنه په لږه موده کې پوزې له راغلی وه ـ دوه بدعمله وروڼه خو يې اقبال ته داسې په غاړه وو لکه چې په وراثت کې يې رسېدلی وي . . . د خلکو سره د جنګونو غوېمو لاتجې به هم د اقبال سر له راتلې ـــ چا به دوي وهل او څوك به د دوي د لاسه . . . خو د اقبال ښځې به د وروڼو سر وينځلو ـــ اقبال ته اوس پته لګېدلې وه چې څنګه زما د زېبو په مال جائداد نظر وه نو هم داسې زما په مال جائداد د روبينې سترګې ړندې کړې وې تراوسه پورې يې د اولاد راوړلو هيڅ طمع نه وه ـ د اقبال د عقل سترګې غړېدلې وې خو د هغه او روبينې ترمينځه د نکاح په ليك کې د هغه ډېر مال جائداد وه کوم چې يې د زېبو نه پټ د روبينې په نوم کړی وه ـ اوس خو اقبال د روبينې د وروڼو نه هم په ويره کې وه ـ هسې نه چې د نور مال دولت لپاره ما د مخې نه اخوا نه کړي ـ او چې دې ويرې به واخستو نو هغه به خپل زړه زېبو ته تشول غوښتل خو زېبو د هغه نه ډېره مروره وه د اقبال او روبينې به هره ورځ په پېسو جنګ وه خدای خبر چې هغې به دا دومره پېسې څه کولې ؟ يوه زېبو وه چې په خپل مال حال کې يې د اقبال نه چرته هم د څه غوښتنه نه وه کړې ـــ تر دې چې د اختر لپاره به هم ورته هغې د نوې جوړې او پېزار وېنا نه وه کړې نو اقبال به د خپلې مخې هغې له کله هم نه راوړل ـ خو زېبو يوه نره پښتنه مېرمن وه هغې دخپل خاوندسره چرته هم دا حساب کتاب نه وه ساتلی ـ خواوس داقبال دژوندکيسه بدله وه ـ روبينې او

Downloaded from: ketabton.com



ورونهويې دهغه دنيا ته تيلى ورته کړى وه ـ مزې چرچې به يې پرې کولې اوچې اقبال به ورته دپېسو ورکولو نه انکار وکړو نو دواړو ورونهوبه يې دومره ووهلوچې په لتولتوبه يې دخپل کورنه وويستلو ـ هغه ته به خپل زوى مشال او زېبو راياد شول ـ خو د زېبوچپتيااوبې پرواهئ به لاد هغه وينې وڅښلې ـ ـ اوس د هغه ژونديوه سزا وه ـ په ورځو ورځو به يې د سر وېښته او ږيره برېت نه خرئيل ـ ډېر په عذاب وه هر وخت به يې زړه کې راتلل چې د دې ښځې خُله په څو پېسو بنده کړي او ځان ترېنه خلاص کړي ـ د اوښې يې هم يو بل ښکار تر سترګوشوى وه ـ اوس يې اقبال ته کرښه راښکلې وه چې د کورکاغذونه ماته وسپاره اوته ځه ـ!! په اقبال خو لکه چې اور بل شو ـ هغه فکر کوه چې سوداګرانه نه ده ـ خود کورکاغذونه د زېبو په ولقه کې وو ـ دااقبال مازغه ډېر تاوده شوي وو ـ نن يې چې څنګه په څه خبره د روبينې د ورور سره خله ووهله نو ده بل کارونه کړو خپلې تماچې ته يې لاس کړو ـ ډز ـ ـ ـ ـ ډز ـ ـ اوچې اقبال کتل نودهغه دتماچې نه دوه ګولۍ شغېدلې وې ـ ـ ـ او د روبينې ورور په زمکه اپوته پروت وه ـ هغه منډې کړې او په لږ ساعت کې د ملکونو پناه شوى وه ـ

***

Downloaded from: ketabton.com



د ځو ورځوراسې اقبال نه وه راغلی مشال به د مور نه بیا بیا تپوسونه کول ـ خو زیبو خواره څه خبر وه ـ د مشال امتحانونه نزدې وو هغه ډېره خواري کوله ځکه یې د پلار فکر دومره نه کولو ـ خو خدای خبر څه وجه وه زیبو به ډېر سوچ کولو سړی ولې نه راځي ـ؟ هغې ته هاغه ورځ او وخت بیا بیا رایادېدو چې اقبال د لاسه کلکه نیولې وه ـ د ژوند په شان ښکلی اقبال هغې ته د ناستې منتونه کول ـ زما خبره واوره! لږه کېنېنه ـ!! د هغه دا خبره به ورته بیا بیارایادېده ـ خو د دې خبرې او خپلې وسوسې ذکر یې د مشال سره نه شو کولی ولې چې د هغه ټول پام خپل امتحان ته وه ـ د ځان سره په یو عجیبه کشمکش اخته وه ـ خدای خبر ماته یې څه وئیل ـ!! هغه په وړمبي ځل په خپلوکړو ډېره ستومانه وه ـ پښتنه وه د خپلې مور کړاؤنه ورته رایاد شول د خپل پلار ظلمونه یې رامخې ته شول ـ زما مور زمونږ لپاره د پلار سره مې څومره سختې تېرې کړې دي، ما ته داسې نه وو کول پکارـ هغه زما خاوند وه ـ ما ته یې په ډېره سخته کې لاس راکړی وه ـ او یو ډېر لوی دولت مشال ... اُف خدایه!! ته خېر وکړی ـ زما اقبال کور ته راولی ... زه به یې وبخښم ... خو که هغه رانغلو نو زه به ټول عمر خپل ځان معاف نه کړم ـ هغه خدای ته په سجده پرته وه ـ د اقبال د راتلو دعا ګانې یې کولې ـ د هغه د اخري ځل د راتلو نېټه یې په ګوتو شمارله ـ څومره بلها موده وشوه خو د زیبو احساساتو به بیا اور واخستو ـ په مایې تورې خاورې اړولې دي او زه یې د سر خېرونه غواړم زما یې وینې څښلې دي ..او زه یې بیا راغواړم ـ هغې به کله یو فکر کولو کله بل ـ کله به مینه شوه او

Downloaded from: ketabton.com



کله کرکه ... ژوند او وخت په ډېر عجيبه مقام ودرولې وه ــ د وختونو د ازمېښتونو په يو بل مدار کې سرګردانه ګرځېده ــ د اقبال سره د تېر ژوند يوه لمحه يې تر سترګو شوه ـ هاغه ورځ چې د هغه د نوم ټاپه يې په ژوند لګولې شوې وه ـ څومره ښائسته وه د هاغه ورځې او ترون احساس او تصور ـ او بيا د هغې د ژوند د نوي سفر وړمبۍ شپه د هغې د ارمانونو ډك زړه د ژوند او ښائستونو نه جوړ کړې وجود ... د اقبال د نزديکت احساس ... د هغه مينه او د هغه ځواني ... اف!! د زېبو سترګې راډکې شوې ـ هغه د خود نه وتله هغې ته زر خپله ببوجي راياده شوه ـ څنګه به په ناليدلي رفيقي پسې خفه وه ژړېده به هغه ته يې خپل زړه ورکړې وه ـ هغه ته يې خپل وجود او پېغلتوب ساتلې وه ـ خو هغه يې نه په لاس راغلې وه او نه يې مخې ته راغلې وه ــ بس د يو نوم د يو خوب او ياد په سيوري يې ټول عمر تېرکړې وه ـ ما ته خو اقبال ډېر رانزدې شوې وه د خپل ژوند د خپلې ساه نه راپه دېخوا شوې وه ـ هغه چې ماته ځان سپارلې وه ــ!! ما چې به د هغه په لويه سينه خپل سر ايښې وه ـ د هغه په ګرېوان کې به مې ډېر ساعت خپل لاس دننه کړې وه د هغه په سينه د زيږه وېښتو احساسولو به ما ته څومره خوند راکولو ــ!! مورې ــ!! ماته ډوډۍ ، د مشال دې غږ د هغې د خيالونو دنيا تالاترغه کړه ــ

***

Downloaded from: ketabton.com



اقبال د غېرې علاقې د يو اشنا کس کور کې پناه اخستې وه دلته اقبال ځان د هرې خطرې او ويرې نه په امن ګڼلو خو هغه به تل ورځ په دې سوچونو کې تېره کړه ـ چې د هغه د تماچې نه په شغېدلې ګولۍ به د روبينې کوم يو ورور مړ يا ټپي وي ـ د قتل ويرې به د هغه لاس پښې بې دمه کړل ـ هغه ته به د روبينې مکر او د هغې د ورونو چالاکې مخې مخې ته کېدل ـ په چل هنر يې د اقبال نه ډېر وخت وهنه کړې وه ـ خو دا هم ښه چې د دې مکرونو دام هغه ټول عمر راګېر ونه ساتلو هغه تربنه ځان راخلاص کړو ـ خو دا څنګه خلاصون دی؟ زه خو د خپل وجود د سيورې نه هم نن ويرېږم ـ دا ټول د زېږو او مشال ازار دی . . . ښېرې دي ـ زما دننه د يو خودغرضه سړي روح وسيږي . . . زه د مينې په ټکي کله پوهېږم . . . ما خو تل د هغې د اخلاص په بدل کې د خپل غرض نه کار اخستی دی . . . زه خو اوس يو قاتل هم يم . . . اقبال به لکه د لېونو ببر سر او د ځنګلي ږيرې سره وارخطا وارخطا ګرځېدو ملک باز يې د پلار د وختونو ملګری وه ـ هغه به ورته بيا بيا وئيل ـ ته دلته محفوظ يې . . . فکر مه کوه خو د اقبال په اعصابو به د ويرې پېريان کلک ناست وواوس به د اقبال ټوله ورځ په دې ژړا او پښېمانۍ تېرېده . ډېر وخت اقبال د ملک

Downloaded from: ketabton.com



باز په ځای کې پاتې شو. د سيمې ښه بد قاعدې او قوانين ورته ټول ښه معلوم وو ــ او د هغې پابندي به يې هم کوله ــ خو د هغه تش لاس دلته هم د هغه لوی دښمن وه، هغه د پېسو ګټلو يو بل هنر لاټدې کړو. يو داسې هنر چې په ناسته ناسته به يې سره سره نوټونه ګټل ــ او خپلې مزې چرچې يې پرې کولې ــ اقبال اوس د ځان نه پير جوړ کړی وه ــ شکل او کواره يې هم د رسېدلو پيرانو په شان جوړه کړې وه ـ لويه لويه ږيره، غټ غټ وېښته، په غاړه د غټو وړو مريو امېلونه، په ګوتو د غټو غټو غميو ګوتيانې ــ او په لاس کې امسا چې زمکې ته به يې پرې ټك ورکړو ــ او په خپله لړزېدلې چغه به يې ـ حق الله نعرې کړې ــ نو په ناستو خلکو به يې غوني زيږ زيږ کړل ــ سترګې به يې پټې وې ـ او شهادته ګوته به يې اسمان ته په چغه نيولې وه ــ حق الله ــ!! ډېر خلك به يې د نزدې ورتللو ارماني وو ـ څوك څوك به داسې وو چې ورجخت به شول لاس به يې ورته ښکلولو ــ په پښو به ورته پرېوتل، تندي به يې ورسره مږل او ځنو ځنو به د ملك باچا په دې حالت د زړه نه ژړل ــ چا به وئيل چې لاس مې يې ښکل کړو ــ نو جك جوړ شوم ـ چا به وئيل چې لياړه يې راتُو کړه نو د سر نه مې لکه چې چا ډېر درانه بوجونه لر کړل ــ خو په غټو غټو څادرونو کې نغښتې ښځې ... چې په چغو نعرو وهلو ټکولو به د کور نارينو به په ديکو ديکو راروانې کړې وې ــ او د ملنګ باچا پښو ته به يې غورزولې وې نو دا به يې کلك يقين وه چې دلته به يې ټول پېريان وتلي وي او چې کور ته ځي نوجکې جوړې به وي ــ څه چل دی بې بې ــ؟ ملنګ باچا به يو ځل بيا په اوچت اواز د يوې ځوانۍ جينۍ چې په پړو کې به يې د ملنګ باچا دېرې ته راوستې وه، تپوس وکړو. جينۍ به په سرو سترګو ژړل ــ کله کله به يې وران

Downloaded from: ketabton.com



وران خپل نارینه ته کتل ـــ د هغې ټول بدن به په وهلو او دیکو ډېر ناقلاره وه ـ ملنګ باچا پېریان پرې راځي او په څه هم بیا نه پوهېږي ـ!! ملنګ باچا به زلفو ته څنډ ورکړو چغه به یې کړه ـــ حق الله او جینۍ به یې په پښو کې پړمخ پرته وه ـــ نارینه به یې جوړه لاسونه ملنګ باچا ته داسې نیولي وو لکه د اقا مخې ته یو غلام ولاړ وي ـ!! سمه به شي ـ خو ماته یې لږه پرېږده ـ!! ملنګ باچا به د پټو سترګو د رو نه جینۍ ته داسې کتل لکه قصاب چې څاروي ته ګوري ـــ ستا د پښو خاورې ده باچاجي خو جوړه یې کړه ـــ!! او بیا به ملنګ باچا د جینۍ نه پېریان پاڅول ـــ یك یواځې ـ یو به ملنګ باچا وه ـ او بله به جینۍ ....

***

Downloaded from: ketabton.com



د زېبو او مشال لپاره د اقبال راتله یو خوب ګرځېدلی وه. خو کله کله به زېبو د اقبال ډېره په طمع وه ـ د اقبال د راتلو طمع یې د مرګ لاسونو ته نه پرېښوده. خو بیا به د اقبال کړو او رویې ډېره ناقلاره کړه ـ هغې به بیا په شیشه کې ځان ته کتل... زه د چا نه کمه وم ـ؟ او دا رښتیا هم وه مخ په بره عمر هم د زېبو شخصیت ته یو وقار بخښلی وه، د هغې د سپینو او تورو وېښتو نه یو رنګ قدرتي داسې راجوړ شوی وه چې د زېبو ښکلا یې زیاته کړې وه اوس خو بس د هغې د خیالونو او سوچونو واحد مدار مشال وه ـ مشال ته د خپلې مور د ژوند د هاغه تېرو سختیو هم احساس وه کومې چې هغه په خپلو سترګو نه وې لیدلې... خو کومې سختې یې چې د پلار د لاسه په مور د هغه د سترګو د وړاندې تېرې شوې وې د هغې نه ښه خبر وه ـ هغه ډېر وخت په نیمه شپه د مور د ژړا پټې سلګۍ ډېرې اورېدلې وې ـ زېبو به خپل تېر غمونه خپل مئین هم ژړل خو هغې به د ژوند په لار تلی اقبال د ټولو نه زیات ژړلو ـ د خپل مشال لپاره. د خپل پاتې ژوند لپاره ـ د مور په سترګو کې به یې د اقبال د راتلو ډیوې همېشه بلې لیدلې ـ په مخ به یې د هغه د راتلو د خوشحالۍ ګلابونه تل په خندا لیدل ـ خو وخت د کلونو د غرونو په شا پنډ وه ـ ژوند ډېر غلی غلی په پټه خله روان وه یا لکه د سیند د ولاړو اوبو... چې کله کله به ورته هغې د خپلو ارمانونو یو کوټ کاڼی ګوزار کړو نو د اوبو په سینه به د خورېدونکیو څپو به هغه

Downloaded from: ketabton.com



ډېره لرې یوړه ـ کله به د خپل ژوند د تېر وختونو په اوږو سوره شوه ـــ او کله به د رارَوانو وختونو په اس ناسته وه ــــ!! چې د هغې د سترګو په رڼونو کې د تصور شیشه به دوه مخونه ادل بدل کول ـ کله به یې اقبال لیدلو ـ کله مشال ـ یو مخ یوه څېره به یې په سترګو کې داسې ننوتې وه چې هغې به د اقبال رنګ هم لرلو او د مشال جوړه هم ـــ کله به په ژړا شوه او کله په خندا ـــ خو د هغې ټوله خواري زر مېوه راوړونکې وه ـــ مشال د ښار په لوی پوهنتون کې د لوړو زده کړو لپاره تلی وه ـــ

***

Downloaded from: ketabton.com



اقبال د ژوند په یوه داسې دنیا کې راټولېدو او غزېدو چې د هغه د مزاج او خوښې دنیا وه ــ د زېبو سره واده خو د هغه د ډېرو پېسو د لاس ته کولو ارمان پوره کړی وه خو د یوې نازکې کم عمره جینۍ سره د واده ارمان یې اوس هم په زړه کې پاللو ــ روبینه هم د هغه د عمر برابر وه ــ او اوس هغه دور وه چې روزانه به د هغه په ژوند کې نوې، وړه، تنکۍ جینۍ راتلله ــ هغه ښه په سُر کې وه ـــ د دم تعویز دهنده یې هم اوس ښه روانه وه ـــ د هغه دننه یو تور شېطاني روح ننوتی وه ــ د سر د دړد او د سرخو بادو خو یې ځان ماهر ګڼلو ـــ او دا رنځ د سړو په نسبت په ښځو کې زیات وه ــ خو ډېرو ښځو به د ټول وجود د خوږېدو فریادونه کول ـــ وئیل به یې ـ لاس پښو کې مې دم نشته ـــ او چې اقبال به د ځان سره خجته کښېنوله، د پرتوګ پېنځې به یې پرې اوچتې کړې نو په پڼډو به یې ورته پوست پوست لاس وهلو ـــ جینۍ به د کوره ډېره ګډه وډه راوستې شوې وه ـــ خو خدای خبر چې د ملنګ باچا په لاسو کې به داسې څه کمال وه چې جینۍ به غلې شوه ــ غوټه او پرغز به ترې لرې شو ـــ زړه دې څنګه دی؟ د ملنګ باچا لړزېدلې پوښتنه به هغې اورېدلې لا هم نه وه چې ملنګ باچا به لاس د هغې سینې ته یوړلو ـــ ګېرچاپېره به یې لاس یوخوا بل خوا وړلو کله به یې دوېم لاس د جینۍ په سر د تور څادر لاندې لاره

Downloaded from: ketabton.com



مونـدلې وه ــ د ملـګ باچـا لاس بـه د جینـۍ د ګرېـوان پـه لاره د سینو ترحـدونو رسـېدلی وه ـ هغـه بـه د خپلـو ګوتـو پـه سـرونو د جینـۍ د سـینو سـرونه رانیـول هـئ؟ اوس وایـه!! زړه دې ځنګـه دی ــ؟ او جینۍ به د شرم نه خولې خولې وه ـ د قهر نه به غلې هم وه ـ د هغـې پرغـز او غـوټې بـه اوس د یـو داسـې شـېطان مکـروه څهـره لیدله چې د انسان په جامه کې پټ وه ــ کله کله به یوې نیمې په ډېر زور د ملنګ باچا لاس د خپل ګرېوانه راوویستو ــ په جرګ به پاڅېده ـ په قهر به روانه شوه خو په خله به یې اُف نه شو کولی ــ که خلـه یـې سـپړده نـو د ملنـګ باچـا مریـدانو بـه یـې څـه حـال کولوـــ؟؟ او د خپـل عـزت او د نـاموس د بربـادۍ ډنـډوره بـه یـې ځنګـه کولـه ــ بـس د اور نـه ډك یـو نظـر بـه یـې پـه ملنـګ باچـا واچولوــ چې هغه به لیدلی هم نه وه ـ هغـه خـو بـه پـه هاغـه سـرور کې نشه وه چې لږ مخکښې به یې ترلاسه کړی وه ــــ

***

Downloaded from: ketabton.com



د زېبو ارمان اوس د مشال کامیابي او واده وه، د هغه په سر د واده د سهرې وه . هغې ته یوه جینۍ هم د مشال د جوړښت نه ښکارېده . د چا به اونه لنډه وه د چا به پوزه سترګې د خوند نه وو. زېبو ډېر وخت د مشال نه پټه پټه جینکو پسې وګرځېده خو د مشال مناسب جینۍ یې چرته هم په نظر رانغله ــ ځان له دې خپله خوښه کړي . . .!! یوه ورځ یې هم دغه فېصله وکړه چې د مشال د ژوند او خوښې اختیار به هغه ته په لاس ورکوم ــ!! او چې دا فېصله یې مشال ته واوروله نو مشال ډېر حېران شو ــ!! مورې !! زه به ستا په خوښه واده کوم ــ!! هغه د مور په غاړه کې دواړه لاسونه واچول ــ نه بچی!! دا واك دې ستا وي ــ!! ته چې هرڅنګه جینۍ خوښوې زما به خوښه وي ــ !! هغې مشال په تندي ښکل کړو. مورې !! مشال ورو غوندې زېبو ته نور راجخت شو او زېبو پوهـ شوه چې مشال ورته د زړه څه پټه خبره کوي . . . . . . وایه زویه !! زه اورم ــ زېبو اوس مسکۍ مسکۍ مشال ته کتل ــ او بیا مشال د زړه خبره خپلې مور ته وکړه ــ زېبو په کړس کړس وخندل ــ نو لکه زما بچی ماشاء الله دومره لوی چې ماله یې اینړور هم

Downloaded from: ketabton.com



کتلې ده ـ هغې بې اختیاره دنګ لوړ لکه د چنار مشال خپلې سینې ته راجخت کړوـ او په وړمبي ځل په دې حېرانه شوه چې د مشال اونه يې د ځانه دنګه لیدله هغې بیا بیا مشال ته کتل او لکه د ګل ورته په کتو مسکۍ مسکۍ کېدله ـــ من من غټېدله ـ!! خو مشال هم نن لکه چې د خپلې مور سره د خپل ژوند د دې فېصلې پخلی کولوـــ مورې !! تا به زر بوځم چې ته یې ووینې؟ او زېبو یو ځل بیا په خندا شوه ـــ ښه بچی !! زر به ځو ـــ زما هم خپله اینړور لیدل ډېر ارمان دی ـــ مشال د اطمینان یوه ساه راښکله ـ

***

Downloaded from: ketabton.com



خدای خبرولې نن زېبودخپل مشال مینې ته غلې ولاړه ـ د هغې خلې، پوزې، سترګو ته یې په یومخ کتل ـ هغې ته دا نخښې ډېرې اشنااشنا لیدی شوې په دې نخښودهغې ډېر سود کېدوـ زېبونازکه سپوږمۍ ـ ـ ځان ته کلکه راترغاړه ویسته ـ مشال او سپوږمۍ ـ ـ ډېره ښکلې جوړه ـ ـ بالکل د هم داسې اینږوارمان مې کړی وه ـ ـ بچی!! ډېره خوشحاله یم چې تازماپه زړه کې پټ خپل ارمان پېژندلی هم وه ـ هغې د مشال د خوښې ډېره ستائینه کوله ـــ او سپوږمۍ د حیا نه په ولاړه ولاړه داسې راتوله وه چې د سترګو په بلو یې ګېډۍ ګېډۍ بانه د حیانه نه پورته کېدل ـ دپوهنتون لویه دنیا د دوي په تماشه وه ـــ سپوږمۍ په رښتیاسپوږمۍ وه، په زمکه راښکته شوې سپوږمۍ، خوزېبواوس بیادخپلوسوچونواوفکرونوسره په انګته وه دهغې دننه یوناقلارې راپورته شوې وه ـــ یوې تلوسې کلکه رانیولې وه ـ داسترګې دچاپه شان دي؟ اوبیاچې سپوږمۍ دخبرو لپاره شونډې پرانستې ـ ـ ترورجې تاسوراځئ ـ ـ نو زېبو ته داغږهم ډېراشنااشنا ښکاره شودهغې په غوږونوکې دتېر وخت د اوازونوغږونو ـ یوشور راتلو ـ ـ خو هغې په یو غږ پسې ورستو بیا بیا کتل ـــ یوه څېره د هغې د سترګو مخې ته بیا بیا راتله ـــ او زېبو په سپوږمۍ پسې روانه شوه ـــ

***

Downloaded from: ketabton.com



ملنګ باچانن سم با چاوه . د هغه دعمرونو لوی خواهش نن ترسره کېدو ـ د لرې کلي نه یو سپین ږیري بوډا ورته ډېرې ورځې پس خپله وړه تنکۍ لورنن لاس نیولې راوستې وه ـ بابا! ستا په دعا خدای جکه جوړه کړې ده . په دې به د پېریانو غوټه ډېره راتله اوس ښه ده ـ ماپه زړه کې داسې منلې وه چې که لور مې خدای د دې غوټې نه خلاصه کړه نودابه د خدای په رضا په شکرانه کې بابا له ورکوم، نن مې خپل لوظ ترسره کړو تاته مې راوستې ده دا اوس ستا ده چې که ته یې خپل هر مرید ته په نکاح ورکوې . بوډا لاسونه جوړه کړي رانسکور ولاړ وه ـ او ماشومې د ویرې یوخوا بل خوا کتل ـ ملنګ بیا یوځل د خپل لرلي عادت ترمخه د پټو سترګو د رؤ نه د ماشومې مخ او بدن ته نېغ نېغ کتل . . د جینۍ د مخ کړه وړه هم ډېر ښه وو او د سینې باغ یې هم ګل شوی وه!! جزاك الله . . حق الله ـ . ملنګ باچا چغې کړې اودماشومې نه وارخطاشو . د بوډا پلار نه یې کلك لاسونه راچاپېره کړل . . بابا کور ته ځو . . . هغې په ویره د پلار مخ ته کتل ـ نه لورې ! اوس به ته دلته یې د باچا سره ـ ماشومه پړینګ چې په ژړا شوه . . . او پلار یې د تګ لپاره ځادر په اوږه سم کړو ـ د جینۍ لویو لویو چغو دنیا ورانوله . . . بابا . . . بابا . . . خو . . . د باچا یو مرید ډېر په تادۍ ماشومه لاس نیولې دننه بوتلې وه ـ

***

Downloaded from: ketabton.com



زیبوته تهوله شپه دسپوږمۍ مخ اوکړه وړه رایادېدل ــ هغې به سترګې د خوب لپاره بیا بیا پټولې خو خوب یې د سترګونه ډېرلرې تللی وه ــ دهغې دفکرپه ککوړي کې د سپوږمۍ دمخ اوکړووړو ستن انښتې وه ... ځکه خو بیابیا یې سترګوته هاغه څهره راتله ... دډېرو ګمانونو سره .. د تېر وخت د تصویرونو سره ... یو تصویر چې د هغې د زړه او د خیال نه ټول عمرهیڅ یوې پېښې نه وه بهرکړی چې د هغې د یادونو او ژوند سره یې سفر کړی وه ــ چې د هغې په زړه بیا بیا راوربدو ـــ او بیا د سپوږمۍ اواز لکه چې دې اواز هغه په خپل جادو کې راګېره کړې وي . لکه چې د دې خوږلت په هغې د شهدو باران کړی وي . هغې ته هرڅو که د نن شپې بې خوبي ډېره محسوسېده خو د هغې په زړه کې د ماشوموالي یوه مینه یې راژوندۍ کړې وه ــ هاغه مینه چې د ډېرو ترخو پېښو او حادثو سره هغې بایېللې وه ـــ نن یې د سپوږمۍ په څهره کې خپله مینه لیدله ... خپله ورکه مینه ـــ! هغې ته د مشال مینه هم رامخې ته شوه ـ مونږدواړه په یوه څهره څنګه

Downloaded from: ketabton.com



مئـین اوختوـ ـ ؟ زېبوپـه دې خیالـ د ځـان سره مسـکۍ شوه ـ خدای خبر چې د مشال دسبق په سرته رسېدوکې څومره وخت وه؟ هسې نه سپوږمۍ څوك وانخلي له مونږنه ــ!! هغـه بـه دې ويرې ډېره نـاقلاره کـړه ـ زه بـه يې زر د خپـل مشـال ژونـد تـه راولـم ـــ هغـې پـه يـو عـزم سـترګې پټې کـړې ـ ـ ـ او د خـوب خوږې دنيا ته ورغله ــ

***

Downloaded from: ketabton.com



د ملنګ باچا په دعا که چا د زړه مرادونه موندل او که نه خو د ملنګ باچا د خپل زړه غوښتنه ترسره شوې وه ــ یوه داسې جینۍ یې کور ته راغلې وه چې لا یې د بلوغت په درشل پښه هم نه وه ټینګه کړې . د کچه عمر ښائسته وړه جینۍ اوس د ملنګ باچا جائداد وه ــ نصیبه چې د خپل نصیب په داؤ چا ګټلې وه ــ د ملنګ باچا د زیړه زیړه لویو ګڼو سپینو تورو ګډو وډو وېښتو . . . د لویې ږیرې . . . سرو سرو سترګو او د زیړ زیړو غاښونو نه به ډېره ویرېده ـــ د ورځې خو به ملنګ باچا په خپله دېره کې د ګڼو خلکو ترمینځه ناست وه خو د شپې به د نصیبې خوا له راغلی وه ـ لړې لړې به د سپو د غپلو اوازونو نصیبه ویروله . . . خو اوس به هغه د یو بل ځناور وحشي غاښونو، تېرو پنجو او نوکارو هم غوځوله ـــ د هغې د معصوم زړه دننه جهان به لکه د زلزلې په لړزان وه ، د خوبونو د خیالونو دنیا به پرې رانسکوره شوه . . . او چې کله د دې ځناور دوو غټو سترګو په ډېر هوس د هغې د نازك بدن نه خپلې کلکې لکه د کاڼو لېچې راتاؤ کړې . . . د سینې تور

Downloaded from: ketabton.com



خیرن او کلك تامبو به یې پرې راپرېوتو نو د هغې د احساساتو دنیا به د ویرې نه په خوب اوده شوه ـ بس اوس به دوه بوږنېدلې سترګې پتې رڼا کېدې ... او بیا به د هوس غلام ورو ورو د هوس د بامه راغورځېدلی وه ... د ماشومې نصیبې ساګانې او سلګۍ به ډېرې بې کوره وې ـ زه خپل بابا ته ځم ـ خپلې ادې ته ځم ـ ماشومې به په سرو سترګو ژړل ـ هغې به په خپل مخ لاس بیا بیا وهلو ـ لکه چې هغې خپله ورکه څهره لټوله ـ د ټول بدن تماشه به یې لکه د ویر او ماتم په څیر کوله ـ هغې ته د خپلې مور ډېرې خبرې رایادې شوې ـ هغې به خپله نازو لې چېلۍ روزانه غره ته ځرولو له بوتلله ـ او چې د تورو تورو وېښتو غبرګې کونځۍ به یې په تور لېلني څادر کې کلکې پټولې نو د خپل پلار د نسوارو په ډبي لګېدلې شیشه کې به یې بیا بیا کتل ـ د ځان سره به مسکۍ کېدله ـ او ادې به یې د منداټو په لاس تکې سرې خاورینې کټوۍ ته ناسته وه شوملې به یې شاربلې ـ ویړکې پام کوه ـ!! نصیبو به په ترپکو ترپکو چېلۍ روانه کړې وه ـ کچې ـ کچې ـ ـ او مور به د هغې د نوي پېغلتوب ویرې واخسته ـ د نصیبې په زړه کې به د خپلې ګرانې ادې خبره ډېره اورېده راورېده هغې د پردي نارینه څنګ ته نه تللو خبره د ادې نه ډېره اورېدلې وه ـ د پردي نارینه څنګ ته تلل ګناه ده ـ او دغه د ګناه او عذاب ویرې خو د اولس خان نه هم په څنډه ساتلې وه چې روزانه به یې ورسره په غره کې سترګې څلور کېدلې ـ څنګه په مینه مینه به یې ورته کتل ـ کله به په یوه بهانه د نصیبې څنګ ته رانزدې کېدو کله په بله ـ خو نصیبې اولس خان یو پردی نارینه ګڼلو ـ اولس خان هم د څوارلسوپنځلسو کالو مضبوط ښائسته زلمی وه ـ د چېلو یوه لویه رمه به یې روزانه دې ځای ته

Downloaded from: ketabton.com



راوستله ـ د نصیبې ښائست او پتې مینې د هغې ځنګ ته لېوالې کړې وه ــ خو... "ادې مې یائې ته پردای ویړکی یې ــ"
نصیبې به زر مخ په تور ځادرګې کې پټ کړو ـ او اولس خان به غلی د هغې د ځنګ نه روان شو خو خپل پرېښی زړه به بیا بیا وروستو په کتو مجبوره کولو ـ نصیبې به هم په اولس خان پسې تر لرې لرې کتل ــ د زړه په درزا کې به یې د هغه د پتې مینې یوه کونتره ناسته لیدله ــ!! خو د ادې د خبرو د ویرې به په مخه روانه کړه ـ!! او بیا هم دغه ویره وه...د هغې معصوم خواهشات وو د هغې ارمانونه او احساسات وو ـ د اولس خان پټه مینه وه چې نصیبه یې د یو ښائسته ذهني کېفیت ښکار کړه ــ اولس خان د هغې په خوبونو هم قبضه کړې وه په خوب کې به هغه اولس خان سره ډېره لرې لرې ګرځېده ـ خو هرکله چې به اولس خان په خوب کې د هغې ځنګ ته ډېر رانزدې شو دومره نزدې چې.....د هغه ساګانې یې په خپل مخ محسوسولې، نو د اولس خان تودو تودو ساګانو هغه هم ډېره نشه کړه او بیا به هغې ته خپله ادې مخې ته ودرېده ــ هغه وویرېده او چغې به یې کړې...خو په خوب کې دغه رنګ چغې او ویرېدل د نصیبې اوس برخه وه ــ خوبونو به هغه ډېره په لړزان کړې وه ـ خو هغې چاته هم د خپل زړه خبره نه شوه کولې ــ او داسې یې بابا هغې ته د پېریانی نوم ورکړو او خپله نصیبه به یې په دم درود او باباګانو ګرځوله ــ خدای خبر چې کله یې ملنګ باچا ته راوستې وه ــ نو د نصیبې پېریانو هغه لړه پرېښې وه ــ او د نصیبې د بابا اوس دا کلك یقین وه چې د ملنګ باچا دم او دعا د نصیبې نه پېریان پاځولي دي ــ او دا یې په زړه کې کړې وه چې په شکرانه کې به خپله دغه لور ملنګ باچا ته ورکوي ــ !! اوس نصیبه د ملنګ باچا د کور جاګیر وه ــ خو

Downloaded from: ketabton.com



هر ځل به د ملنګ باچا د هوس ناکې غوټې نه پس به نصیبو خپل مخ او څهرې ته بیا بیا کتل ... لکه چې هغې خپله ورکه څهره لټوله ... خو د هغې د مخ نوکارې نوکارې شوې څرمنې به د درد یوه څړیکه د هغې په زړه کې راوچته کړه ـــ هغې ته به د ملنګ باچا د هوس ډك نظر هر وخت کتل ــ!! اوس هغه هم په دې پوهـ وه چې دا یې نصیب دی ـــ هم دغه یې کور دی ــ!!!

***

Downloaded from: ketabton.com



مشـال پـه دې ډېـر خوشـحال وه چـې زمـا خوبـنـه مـې د مـور خوبـنـه ده . د هغـه دا هـم زړه وه چـې ډېـر زر د سـپـوږمۍ کورته خپلـه مـور پـه جرګـه بـوځي او د سـپـوږمۍ لاس وغـواړي ـــ خو لا یې د اوچتو زده کړو اخري کال وه او دا کامل د هغـه او د سپوږمۍ ترمینځه پروت د ډېرې لویې فاصلې پـه څیـر هغـه ته ښکاریدو ـــ !! هغه د مور ټولو خوبونو ته کتل ـــ پلار خـو د هغه د ژوند نه د خپل نوم او وجود څادر ډېر پخـوا راټول کړی وه ـــ هغوي یې په ډاګه پرېښې وو ـــ د مـور پـه دنیـا دولـت یـې پـلار خپـل دواړه لاسـونه ډېـر مخکښـې پـاك کـړي وو ـــ او دې تجربې یې مـور تـه لـوی سبق ورکـړی وه ـــ هغـه د خپلـو لاسـو پښـو د ګتـې سـره د خپلـې مـور د خوبونـو تعبیـر جوړېـدل غوښتل . په خپل برکت به خپله سپوږمۍ خپـل کـور تـه راولـم ـــ د پلار د لاسه ورتـه پـاتې د یـوې دشـمنۍ بـد یـې هـم پـه یـك

Downloaded from: ketabton.com



يواځې سر هوار کړي وو ـ او د مور ډېر دولت يې په روغه کې ورکړی وه ـــ د روبينې ورونو يې په پلار د مرګ دعوه کړې وه ـ او دلته به قانون ته د پلار په ځای دې ولاړ وه ـــ ډېرې سختې خو پرې دغه دشمنۍ هم راوستې وې ـــ اوس يې ايله ترېنه ساه اخستې وه ـــ د روبينې خله يې ډکه کړې وه ـــ د وخت د ډېرو سختو او کړمو تاريخ يې ټپ کړی وه ـ بس اوس يو ارمان ته ژوندی وه ـــ خو زيبو ډېره ګډه وډه وه ـ هغې د اقبال د ژوند اوس هم خبر غوښتو ـ د اقبال د راتګ هيله يې ژوندۍ ساتله ـ پښتنه وه ـ د اقبال کره يې هېر کړي وو ـــ خو په اقبال چې د روبينې د لاسه څه تېر شوي وو هغه يې ياد وو ـــ د اقبال سره لرلې پټې همدردۍ به هر وخت ناقلاره ساتله ـــ د زيبو دا هم خيال وه چې په اقبال د حالاتو د لاسه ډېرې سختې تېرې دي اوس به زما سره په خپلو کړو ستومانه دي ـ که د پښېمانۍ سره زما څنګ ته راغلو زه به يې خامخا بخښم ـ خو هغې ته څه پته وه چې هغه خو په هر حال کې د خپل زړه دنيا اباده ساتي ـــ!! د اقبال ډېرو نخښو ته به يې پټ پټ ژړل ـ د مشال نه به هم ويرېدله، ولې چې د مشال په زړه کې يې د پلار لپاره هيڅ ځای نه ليدو ـــ خو د مشال د واده کوېژدن په خوشحالۍ کې دې اقبال نه وي زيبو دا کله زغملی شو؟ بس د اقبال څه درك يې نه لرلو ـــ خو دا يقين يې وه چې هغه ژوندی دی ـــ او په دې طمع هم وه چې هغه به خامخا راځي ـ بل خوا يې چې د کله نه سپوږمۍ ليدلې وه ـــ د هغې مخ او کړو وړو ورته د خپل ژوند د ماضي د ګوټونو

Downloaded from: ketabton.com



نـه نعرې وهلې ـ هغـې دا هرڅه یـو خـوب ګڼلـو، یـو خیال ـ ـ ـ وخت او زمـانو خـو د ژونـد د تېـر ژوندپـه تهولـو هیلـو او حوالـو لوبې کړې وې خو خدای خبر ولـې د سپوږمۍ سترګې او غږ یې خپله یوه حوالـه ګڼله ـــ خو سوچ او فکر بـه یې پـه ځای ودرېدوـــ!! دا ماتـه د چـا پـه شـان ولـې ښـکارې؟ او زېبـو د خپلـې دې پوښـتنې د جـواب لپـاره د مشـال د نـوم جرګـه د سپوږمۍ کور ته روانه کړه ـــ!!

***

Downloaded from: ketabton.com



د نصیبې ژوند اوس په یو تور کوهي کې وه ـ هغې ته دا هم نه وه معلومه چې د ملنګ باچا سره یې نکاح شوې ده او که نه دمال غنیمت په توګه ترېنه ملنګ باچااستفاده کوي ـ هغې هم د خپلې دې لرلې پوښتنې جواب غوښتو ـ او دا ځل چې د ملنګ باچادهوس سترګې بیاسرې شوې ـ ـ نونصیبه سمدستي دهغه مخې ته ودرېدله ـ!! ملنګ باچاته یقین نه راتلو ـ ـ هغه سترګې ځمبولې ـ ـ نصیبه یې دلاسه ونیوه اوبیا ـ ـ دهغې حوصلې هغه جوابي کړه ـ ـ ـ د هغې څهره بیانوکارې شوې وه ـ ـ ګرېوان یې تارتار وه ـ ـ ـ څو سلګو یې په شونډو سر وخوړو ـ ـ ـ سترګو کې راغلې اوښکې یې دخپل حلق نه تېرې کړې ـ ـ ـ!! اوس خوملنګ باچاوهل ټکول هم کول ـــ او چې نصیبې به ورته ووئیل چې نن ناجوړه یم نو د هغه وجود به اور واخستو ـ ـ ـ دا په کې لاچا راوستې ـ ـ ـ !! وهل خوړل ـ ـ ـ خپلې اوښکې څښل ـ ـ ـ او پاڼې پاڼې کېدل اوس د نصیبې نصیب وه ـــ ملنګ باچا نصیبه په نصیب موندلې وه ـــ هغه د نصیبې د رضا ساتلو لپاره اوس د نکاح لاره وکتله ـــ!! نصیبه نن ډېره خوشحاله وه ـــ د هغې د زړه نه د اولس خان مخ او تصویر اوس ورو ورو په وراني ووـــ ملنګ باچا ورسره خپله ملنګي پرېښودله ـــ او دواړه یو بل ځای ته روان ووـــ د ملنګۍ کند کچکول چې نن هغه څنګه د ځانه اخوا کولوـــ نو هغه ته رایاد شول چې هغه اقبال ووـــ او د هغه په ژوند کې زېبو او مشال هم راغلي ووـــ خو اوس هغه د خپلې نصیبې وه ـــ دا کور ورکوټې دنیا وه وه نصیبې په خپلو لاسو

Downloaded from: ketabton.com



سینګار کړو ــ اقبال څو جوړې جامې هم نن نصیبې له راوړې وې ــ نصیبه خوشحاله وه ــ او بیا داقبال په نکاح کې راغلې وه ـــ اوس د اقبال کواره بیا د مخکښې په شان جوړه شوې وه ــ اقبال به هر وخت نصیبې ته دا خبره کوله ـــ ستا لپاره مې هر څه پرېښودل ـ ـ.ته دې هم مور و پلار مه یادوه ـــ بس دا دې کور دی او زه دې خاوند ـــ نصیبې نور څه غوښتل اوس خو به اقبال ډېر سینګار کړی ګرځېدو... وخت خو یې په ځوانۍ لوبې کړې وې خو د هغه رنګ جوڅه اوس هم بده نه وه ــ بس که د لاسه یې څه تلي وو نو د ملنګۍ ګټه او پېسې... خو د هغه سره دومره مال راجمع شوی وه چې پاتې عمر یې پرې تېرېدی شو ـــ د نصیبې وجود او ژوند ورته یو نوی سرور ورکړی وه... اوس د نصیبې په داسې صورتحال کې څه خاص رد عمل نه وه هغې به هغه څه کول څه چې به اقبال وئیل ـ ـ اقبال هم نصیبه اوس په نورو نورو لذتونو پوهـ کړې وه هاغه عمل چې نصیبې به ترې چغې وهلې... خو اوس به یې خپل ټول ځان په ډېره مینه اقبال ته سپارلو ـــ د اقبال ژوند او احساسات په ځای شوي وو. خو کله کله به نصیبې چې په غور سره خپل عمر اوداقبال عمرته وکتل نو هغې ته به بې اختیاره اولس خان رایاد شو ـــ هغه به یې اوس هم د غره په لمن کې د خپلې رمې شړونکی شپونکی لیدو ـــ اوس به د هغه په شپېلۍ کې د ځوانۍ د یوې سندرې سوز ژړېدو هغې به دا ګڼل چې اولس خان دا شپېلۍ زماپه یاداومینه کې غږوي داسندره یې زماده ـ خو زر به د اقبال څه خبرې لکه چې هغه دغرق خوبه راویښه کړه ـ ـ یو داسې ځای ته کډه نه وړو چې دشین غره لمنه وي ته به هم په چېلوپسې روان یې اوزه به هم خپله چېلۍ څروم ـ!! هغې نن د اقبال سره د خپل ورك ارمان خبرې کولې ـ اقبال به هغې ته نېغ نېغ وکتل ـ اوس داقبال لپاره

Downloaded from: ketabton.com



يوه ښځه وه ـ عامه ښځه چې دهغه کور پرې اباد وه ـ اقبال ته هاغه ورځې رايادې شوې چې نصيبه ورسره په نکاح رسېده ـ دهغې سره نزديکت په دغه ورځوکې ډېرد خوندوه ــ د هغې بيابيادملنګ باچادلاسونودحصارنه تېښته يې هم د خوند وه ـ دهغې په چغه به يې زرد هغې په خله لاس کېښودونصيبه به غلې شوه اوبيابه ملنګ باچادخپل هوس سيندته ورودانګل ـ خواوس دنصيبې هاغه لاس پښې وهل نه وو ـ دهغه نه به يې منډې نه وهلې ــ!!خوملنګ باچا چې دکله نه داقبال دکوارې زړه جوړه په غاړه کړې وه نونصيبه به ورته په کتونه مړېده ـ خود اقبال دننه يوسړی اوس هم دهوس غلام وو ـ په دې حقيقت هم خبر وه چې که وخت نصيبه د ده لپاره ـ ـ د ده په مقام ودروي ـ ـ ـ نوايا ـ دنصيبې غوښتنې به اقبال پوره کړي؟؟؟ په دې احساس هغه ته چاپېره ژوند د هغه په مرۍ ورو ورو زور کولو ــ!!

***

Downloaded from: ketabton.com



د سپوږمۍ کور د ښار نه لږ لرې په یو کلي کې وه . کلی ښه اسوده وه ـ د کلي شینکي او اونو بوټو د زیبو خیالات ډېر شنه کړل ـ د هغې په خیال کې اوس هم سپوږمۍ مسکۍ ولاړه وه ـ خو د زیبو فکر هم هاغه شان په یوه نقطه کې ګېر وه ـ د سپوږمۍ مخ سترګې او غږ ـ نن به هغې د خپلې تلوسې ذکر خامخا کولو ـ د سپوږمۍ کور رانزدې وه ـ مشال په مزه مزه ګاډی روان کړی وه ـ د مور توجه به یې بیا بیا ځان ته راړوله ـ خو زیبو ډېره لرې تلې وه ـ د هغې د فکر ټولې وزرې د سپوږمۍ د مخ سترګو او اواز په اسمان خورې شوې وې ـ موري ـ!! تاسو سره ستاسو مشال هم دی ـ مشال په ډېره مینه د خپلې مور خوا ته وکتل هئ؟؟ او زیبو په خندا شوه ـ د سپوږمۍ د کور په درشل زیبو ایله پښه ایښې وه ... د هغې زړه نن خدای خبر ولې بې واره بې واره درزېدو ـ په هغې هاغه احساسات هډو ښکارېدل نه کوم چې د زوي لپاره د جینۍ د کتنې په موقع د یوې مور وي ـ! هغه خپله هم ډېره حېرانه وه ـ او چې ځنګه هغې د کور په انګړ کې قدم کېښودو ـ د یو مناسب کور چې د نفاست او سلیقې هنداره وه ـ مخامخ په دالان کې د بُرجۍ سره ولاړې یوې درنې خوږې ښځې چې د زیبو د عمر به وه ـ هغه په خپله مسکا کې راټوله کړه ـ او بیا ځو قدمه د هغې د هرکلي لپاره د دالان نه راښکته شوه ـ په زیبو خو لکه چې سر وچورلېده ـ په ځای داسې ولاړه پاتې شوه لکه چې چا ترېنه ساه ایستې وي ـ اُف!! زیبو زر د دالان ولاړه بُرجۍ په دواړه لاسه ونیوله ـ خو د زیبو نه زیاته

Downloaded from: ketabton.com



حېراني خو د دغې ښځې د مخ نه هم ښکارېده ـــ تت ... ته ... ګورګوره نه یې ... زېبو د هغې مخ اوس د نزدې نه لیدو ... او د زېبو د دې پوښتنې سره ګورګوره هغې ته ورترغاړه وته ... وئي زېبو !! ته؟ او دلته؟ دا زه څه وینم ... دواړو یو بل ته غېږه ورکړې وه ـ خو د لږ وخت لپاره په ولاړه ولاړه دواړو د یو بل په سترګو کې وکتل ـــ تېر وخت لکه چې بیا په دانګو راغلی وي ـــ!! ګورګوره او زېبو ... د ماشوموالي دوه همځولې، دوه ترلې، ... چې د عمرونو ډېره برخه یې د مشرانو د تربګنو او دښمنو د لاسه لرې لرې تېره کړې وه ـــ خو بیا یو دور یوې پېښې دواړه هم داسې د یو بل همځولې سهېلۍ ساتلې وې ـــ په لارو کوڅو کې یې یو ځای منډې وهلې وې ـــ خو بیا د وخت او حالاتو د لاسه د یوې بلې شرمناکې پېښې د یو بل نه د تل لپاره شوکولې دي ـــ زېبو ته چې خپل مشر ورور طاهرشاه ناڅاپي وژنه رایاده شوه نو دا وخت د هغې په زړه یو ځل بیا د هاغه لوی غم ورغلي زخم خله وازه کړه ـ د هغه په وژلو کې خلکو د ګل پاڼې او شفیقي لاس یادوه ـــ او د موقعې د شواهدو ترمخه دا خبره په دواړو ثابته شوې هم وه ـــ خو د ډېر وس باوجود د دواړو درك نه وه لګېدلی ـــ او بیا زېبو ته د ګل پاڼې متېزتوب د یو کسبګر سره د تښتېدو پېښه هم رایاده شوه ـــ وخت ډېر زخمونه ټکور کړي وي ـ خو کله کله هم د وخت د لاسه ټکور شوي زخمونه ... ورغلي پرهرونه بیا تازه شي ـــ دا حال که د زېبو وه نو د ګُرګُرې هم وه ـــ دواړو خپل غمونه ډېر وخت وژړل ـــ سپوږمۍ په دې نوې اتفاق ډېره حېرانه وه بیا بیا یې کله د مور او کله د زېبو مخ ته کتل ـــ او بیا ډېره موده پس ګورګوره او زېبو دواړو یو بل ته د مودو او زمانو قیصې کولې ـــ چې د ګل پاڼې په ناولي قدم مونږ د شرمه چرته لرې کډه یوړه نو

Downloaded from: ketabton.com



مور او پلار مې د تهمتونو ژوند نه شو کولی ځکه خو رانه دواړو پرله پسې سترګې پټې کړې ـــ زمری وروز مې د غیرت او پښتو د لاسه په اور کې سوزېدو خو د هغه په پښو کې لویه زولنه زه وم ـــ که زه نه وی نو هغه به د زمکې د تل نه ګل پاڼه او شفیقی راویستي وو او په ګولو به یې ساړه کړي وو ـــ دغه وخت زما لپاره یوه کورنۍ راوچته شوې وه چې زمري ورته ډېر په سادګۍ زما لاس ورکړو ـ ننګیال په رښتیا د ننګ او ناموس یوه نمونه وه . زما نه یې په خپله مینه هرڅه هېر کړل ـــ د زمري پښه خلاصه شوه او په دواړو پسې ووتو ـــ ګُرګُرې په دمه دمه خپله د ژوند کیسه کوله ـ او زېبو د ګُرګُرې د ژوند قیصې ته غوږ غوږ وه ـــ سپوږمۍ د مشال د خوا نه نه خوزېده ولې چې ګُرګُرې په ډېره مینه مشال او س خپل کور ته رادننه کړی وه ـــ ډېر وخت یې د خپلې سینې سره جخت کړی وه ـ بیا بیا یې ښکلولو د دې وخت د خوشحالو او غمونو کیفیت څه ډېر عجیبه وه که یو خوا ډېرو مئینو یو بل په مودو او زمانو پس راپېدا کړي وو نو بل خوا دوه میین زړونه هم اوس داسې بې واره درزېدل لکه د ژوند په دې ښکلې او حیرانونکې پېښه یو بل ته ډېر رانږدې شوې وي دومره نږدې چې روحونو او زړونو یې هم د یو بل سره د نزدیکت قیصې شروع کړې وې ـ نن د دې ټولو مئینو په زړونو هرڅو که زاړه پرهرونه لکه د پرانستو شونډو بیا غوړېدلي وو خو د ژوند ، د مینې او د زړونو د قربت یو لاژواله احساس پرې تودې پهې هم لګولې ـــ دا وختونه ډېر ښکلي وو ـ زېبو او ګُرګُرې بیا د مینې جهان جوړ کړی وه د خپلو قیصو سره د خپلو یادونو سره یې د دې وخت د لمحو په فراخه مېدانونو ـ او د مینې کوڅو کې منډې وهلې ـــ کله به یې د مشال او د سپوږمۍ د نومونو لولکۍ

Downloaded from: ketabton.com



رانيولې ...او کله به زېبو د اقبال د نامې په يو رنګين پتنګ پسې د کوټې بام ته ورختله ـــ!! د يادونو په دې جنج کې به يې کله مايوسه او خفه خفه وران کارى زمرى ليدلو ـ او کله طاهرشاه او ظاهرشاه ـ خو چې ځنګه به د ياد ستنه د ګل پاڼې د نوم حد ته راورسېده ـــ نو زېبو او ګورګوره به غلې شوې ـــ يوه شېبه به دواړو سرونه ټيټ نيولي وو ـــ خو بيا به د مشال او سپوږمۍ د پستو پستو لاسونو احساس د دواړو ټيټ سرونه په ډېر ويار راوچت کړل ـ د دواړو جوړه ډېره ښائسته لکه چې خداى د يوبل لپاره پېدا کړي وو ـــ ګُرګُرې خپله پاتې کيسه په لنډو ټکو کې پايې ته کړه ـ زه په خپل کور کې ډېره اسوده وم ـــ خو بيا خبر شوم چې زمري خپل ارمان سرته کړى وه ـ شفيقى او ګل پاڼه يې خپل انجام ته رسولي وو ـ خو ـ د ګُرګُرې مرۍ د اوښکو نه ډکه شوه ـ په سترګو پرتو تورو چشمو يې د سترګو حال نه شو ښکاره کولی خو اواز يې ډك ډك کېدو ـ زمري هم ځان ويشتلى وه ـــ او داسې لکه چې د يوې کورنۍ غمونو ته ته يواځې پاتې شوې د بلې غمونه ماته راپاتې شول ـ خو د ننګيال مينې زه د غم لاسو ته نه يم ورکړې .د ژوند په چمن کې مې پرله پسې ځلور ګلونه وغوړېدل خو شکر ټول د خپلو خپلو کورونو شوي دي ـــ دا يو پاتې ګل سپوږمۍ ده چې ...د سبق او تعليم ډېره مينه يې لرله نو د دې د ارمان د خاطره مو د ښار په يو پوهنتون کې د لويو زده کړو لپاره دېره کړې ده چې د مشال سره يو ځاى سبق وائي ـــ د ګُرګُرې کيسه پايې ته رسېدلې وه ـــ د دواړو د ژوند قيصې د سپوږمۍ او د مشال بام ته رارسېدلې وې ـ وخت ډېر تېر شوى وه ـ

***

Downloaded from: ketabton.com



اقبال د ژوند د یوې ډېرې عجیبه پرېشانۍ سره مخ شوی وه یوې ویرې یې د ژوند او اعصابو نه لاسونه چاپېره کړي وو۔ د نصیبې ځواني او پېغلتوب اوس داسې په درنجکو وه چې اقبال یې په رو ګودر نه پوهېدو۔ اوس به یې د نصیبې په ډېرو اشارو او نخرو سترګې پټې ساتلې ـــ د هغې شوخیانو ته یې ډېر نه کتل ـــ خو نصیبه ډېره بدله شوې وه ـ هغه اوس خپلې ځوانۍ د احساساتو او خواهشاتو یوې اوچتې بلۍ ته خېژولې وه ـ شپه ورځ به د هغې احساساتو لمبې کولې ـــ د اقبال ځواني خو کله خپل ماښام ته رسېدلې وه ـ د هغه بدن اوس د نصیبې د احساساو سیالي نه شوه کولې ـ هغه ته به خپل د ملنګۍ وخت او د نصیبې چغې نعرې او منډې رایادې شوې زړه به یې غوښتل چې یو ځل بیا هغه دور ته لاړ شي خو بیا به یې زر د خپله ځانه ماتې وخوړه ـ زه که هر دور ته لاړ شم خو دا وخت او اقبال به راسره وي نصیبه به راسره وي ـ!! او بیا پرله پسې چې د نصیبې خواهشات به داسې راپارېدلي او لمبه لمبه پاتې شول ـ نو اقبال به د ځان سره ډېر ملامته وه د نصیبې سره به د سترګو لګېدو نه پاتې وه ـ هغه به یې کله په یوه خبره غولوله او کله په بله ـ خو نصیبه نه غولېده د هغې مخ به د قهر نه تك سُور وه ـ اقبال که به ورستو ډېره نازوله خو هغه به ډېره نیمګړې وه ـ په قهر به یې

Downloaded from: ketabton.com



د اقبال نه ځان راخلاص کړو ــ د هغې په سترګو کې به خپلو د نیمګړو نیمه خوا ارمانونو یو جهان ډېر خفه خفه وه هغې ته خپله ځواني او پېغلتوب بې معنې ښکارېدل ــ یو ځل به ورته بیا خپل تېر وخت رایاد شو ــ خپله نازولې چېلۍ یې په غېږه کې نیولې وه ـ کړه وړه د مستۍ نه به یې د غرونو په سر لکه د هوسۍ منډې وهلې ــ یو خوا بل خوا به یې اولس خان لیدلو ــ د هغه د مخ پلوشو به یې سترګې برېښولې ــ د هغه په وړاندې روانې د بیزو رمه به یې ډېر خوښېده ــ او بیا چې به اولس خان پټ د هغې په خوبونو کې راتللو ــ د یوې شپې لیدلی خوب یې رایاد شو اولس خان د هغې د خواهشاتو ترځنګ رارسېدلی وه، هغې هم د اولس خان سره د خپلې ځوانۍ او نزدیکت احساس شریك کړی وه ــ او چې سحر یې د خوبه سترګې پرانستې وې نو ډېره خوشحاله وه ــ د اولس خان نزدیکت یې ډېر وخت احساسولی وه ــ! خو اوس اقبال د هغې مخې ته یو بې معنې تصویر وه ـ ګرځنده انځور ــ!! او بیا هغې یوه فېصله وکړه ــ!!!

***

Downloaded from: ketabton.com



زېبو ډېره غلې غلې وه ــ ژوند هغه په یو داسې مقام ودرولې وه ـــ چې یوخوا یې د مشال مینه وه ـــ او بل خوا یې دشمن . . . !! خو دا څنګه دشمن دی چې زما د ژوند او ماضي ډېرې حوالې ورسره تړلې دي . . . او بیا د ټولو نه لویه خبره . . . د هغې خپل ارمان د مشال د واده . . . !! د هغې مخې ته ډېر مشکلات راغلي وو ــ هغه د یو نه هم نه شوه تېرېدلی ـــ ایا زه د خپل زوي د خوشحالو قاتله جوړېدې شم ــ؟ ایا زه د خپل ورور د وینې سره بې ننګي کولې شم ؟ ایا زه د خپل ارمان نه پښېمانه اړولې شم؟؟ اف خدایه!! دا دې په کوم ازمېښت کې واچولم ـــ هغه د ځان سره لکه د اور غرغنډه کېدله ــ او کله به د خپلو احساساتو په بڅرو لکه د ایره خول پرېوته ــ لکه د اوبو به پرې توې شوه ـــ ګړګړې !! ته چرته وې؟ ستا د خور د لاسه زما بې ګناه ورور وینې وینې تلی دی ــ!! زه به هاغه وینه څنګه بخښم ؟؟ هغه به د کرکې نه ډکه شوه ـــ د هغې زړه نه به مینې کډه وکړه ــ!! د غېرت او ننګ جهان به یې راولړزېدو ـــ خو بیا به یې د مشال سترګې سترګو ته راننوتې ــ اف!! هغې به زر خپلې سترګې پټې کړې ـــ!! مشال اوس د مور په احساساتو پوهېدو ـــ هغه ته د خپلې مور

Downloaded from: ketabton.com



قربانۍ یادې وې ـ د هغې د سختو تاریخ یې هېر نه وه ـــ! هغه هم یوه فېصله وکړه د خپل ارمان نه د پښې اړولو فېصله ـــ هغه ډېر خوشحال وه ـــ د ننګ غېرت او ناموس مخې ته د سپوږمۍ مینه هیڅ هم نه وه ـــ هغه د خپلې مور ارمان په دې طریقه پوره کولی شو ـــ د خپلې مور د خوشحالو لپاره یې د خپل ماما د وینې د بدل اخستو اراده وکړه ـــ!! اوس هغه ډېر مطمئن وه ـــ!! مورې !! ته ژاړه مه اوس زه یم ـــ!! او ته ګوره !! چې زه د خپل ماما د وینې بدل څنګه اخلم ؟؟؟

***

Downloaded from: ketabton.com



ننګیال د خپلې لور سپوږمۍ لپاره د مشال په شان زلمی غنیمت ګڼلو۔ هغه ډېرخوشحال وه ــ خو د جینۍ پلار وه نو په داسې موقع به د هلك د کورنۍ د اړخه د پېسو په طمع وه ـــ!! ګورګوره خو د لور ارمان د اوس نه په ګډا کړې وه ــ د کشرې لور ارمان ورته ډېر ګران وه ـــ بیا بیا به یې د خپلې همځولې زېبو ناڅاپي راتګ او د مشال رشته خپله خوش بختي ګڼله ــ!! څنګه راته خدای خپل زاړه مئین راکړل مشال خو یې د قدرت یو لوی انعام ګڼلو۔ د سپوږمۍ خوشحاله او مسکۍ لیدو ورته د نوو خوشحالو یو نوی جهان را ویر کړی وه ـــ!! په سپوږمۍ یې ډېر سبق وییلو خو دا ارمان یې هم ورسره ورسره لرلو چې سم دستي د خپل کور شي ـــ اوس به سپوږمۍ د هغې خپل خورئي ته ځي ـــ خپلې ترور کره به ځي نو دا اطمینان او خوشحالي د ګُرګُرې د سترګو نه لکه د شرابو څڅېدله ــ!! هغې د ننګیال سره ټوله شپه په دې خبرو تېره کړه ـــ!! خپل ارمانونه به ټول په سپوږمۍ ترسره کوم ــ او دا به د زېبو د خاطره وي ولې چې ډېرې سختۍ یې لیدلي دي ـــ!! د ګُرګُرې په دې خبره ننګیال په خوب خوب کې ګُرګُرې ته خبرې کولې ــ!! ښه ـ ـ ښه ـ ـ ـ !! او هغه به په

Downloaded from: ketabton.com



خوب ورغلو ــ د ګُرګُرې درې لونه واده وې ... او څلورمه یې د ټولو نه کشره سپوږمۍ وه چې په مور او پلار هم ډېره نیازبینه وه ــ په مشرانو خوېندو هم او خپلو درېوارو اوښو باندې هم لکه د خور ګرانه وه ــ! څه هم که د ګُرګُرې نارینه اولاد نه وه خو خپلو زومانو هغې ته دا کمی نه وه ورکړی او د مشال لپاره خو یې دا فکر لرلی وه چې دا به زمونږ او د زېبو په شریکه زوی وي ــ!! ګورګوره هم په دې احساساتو کې د خوب غېږې ته ورغلې وه ــ!!!

***

Downloaded from: ketabton.com



په اقبال خو رڼا ورځ لکه توره تیاره شوه ــ د هغه ټولې پېسې او د کور نور قیمتي سامان نصیبې تښتولی وه ــ نصیبه د اقبال د کور نه تښتېدلې وه ــ د اقبال په لاس پښو کې دم نه وه ــ هغه د شرمه چا ته هم دا نه شو وئیلی چې ښځه رانه متېزه تلې ده ــ بس په پټه خله یې د هاغه ځایه پښې راسپکې کړې ــ هغه ته د نصیبې غوښتنې رایادې شوې . . . هغه ته خپلې کمزورۍ مخې ته هم ودرېدې ــ وخت هغه څنګه لوبولی وه ــ داسې لکه هغه چې زېبو لوبولې وه ــ د هغې د مینې سپکاوی یې کړی وه ــ!! هغه ته ډېره ژړا ورتله خو هغه ژړلی هم نه شول ــ زېبو ورته مخې مخې ته کېده ــ مشال یې د سترګو نه نه اوړېدو ــ خو د خپلو کړو د لاسه یې د هاغه کور مخه نه شوه کولې ــ!! اوس هغه هرڅه د لاسه ورکړي وو ــ!! هغه د خپلو خواهشاتو نه وتلی وه ــ!! د خپلې مردانګۍ د ولاړ اس نه سر د لاندې راګوزار شوی وه ــ د خپل حرص او هوس د بامه پرېوتلی وه ــ اوس که د هغه د ژوند په لمن کې څه وو نو پښېمانۍ وې ــ ستومانۍ وې . . . !! هغه روان وه ــ خو دا ورته نه وه معلومه چې زه چرته ځم ــ یو بې لارې بې منزله مسافر چې وخت او خپلو حرصونو، خپلو طمعو . . . او خواهشاتو په یو پرله پسې زغل مجبوره کړی وه ــ هغه خپله سزا موندلې وه ــ د زېبو او د مشال سره د زیاتي سزا د هغې اخلاص پورې د

Downloaded from: ketabton.com



خندا سزا ـــ د خپل عمل او خپلو کړو سزا ـــ هغه یوې اوچتې غونډۍ ته ختلی وه ـ ښکته یې تور توري کندې لیدلې، لکه د تورو بلاګانو ـــ هغه اراده وکړه ـــ د دې ځایه دغه کندو ته ځان ګوزار کړه ـــ!! هغه سترګې پټې کړې . . . په دې کندو کې تورې تورې اژدهاګانې یې وازه خله اوږې لیدې . . . لکه چې ده ته په طمع وي ـــ نا . . ځان په دې تورو بلاګانو نه خورم لاخو ژوند کول دي ـــ یو ځل . . . زیبو ته تلل دي مشال لیدل دي ـــ د هغوي نه بخښنه غوښتل دي ـــ په دې خیال هغه ورستو شو ـــ او بیا په سترو سترو قدمونو د غونډۍ د سر نه راښکته شو ـــ هغه ته دا هم نه وه معلومه چې دا کوم ځای دی؟ لکه هغه چې یو خوب لیدلو ـــ یو ستړی خوب ـــ او بیا د لږ وخت لپاره هغه . . . په یو نوی اخلاص د خپل ژوند او زړه په ورمبي اخلاص هغه د لږې دمې لپاره په زمکه کښیناستو ـــ!! او بیا چې د تګ لپاره د زمکې نه راولاړ شو نو د یو لاروي نه یې د لارې او ځای ځایګي تپوس وکړو ـــ هغه د زیبو او مشال نه ډېر لرې وه خو د هغوي په لور یې خپل قدمونه اوچت کړل ـــ

***

Downloaded from: ketabton.com



زېبو چې ناڅاپي ګورګوره د ننګیال سره په خپل کور کې ولیدله نو یو ځل یې بیا په سترګو کې وینو چپې ووهلې ــ څنګه د غم سېلاب یې په کور راختلی وه چې طاهرشاه یې په سرو وینو کې لت پت راوړلی وه ــ!! که د ګل پانې لاس او صلاح په کې نه وې نو شفیقی یو غریب سړی وه هغه چرې هم دومره لوی ټوپ نه شو وهلی ــ زېبو دې خیالونو بیا ډېره زورله ـ ډېره یې ترخه کړې وه ـــ خو ګورګوره او د هغې د ژوند ملګری ننګیال ډېر ځیرك وو ــ هغوي د ډېرو ورځو نه دا خبره محسوسوله چې د زېبو ردعمل داسې کېدلی شي ــ په داسې صورتحال کې دا یوه قدرتي خبره وي ـ دشمن ته د انسان زړه دومره زر کله سپېندی شي دا خو ډېر وختونه اخلي ـــ!! ګُرګُرې اخر د زېبو نه د هغې د زړه خبره راوویستله ـ!! او زېبو یوه تېره چغه کړه ـــ هو!! هم داسې ده ... ته زما دشمنه یې ... زما د ورور د سر قاتلان یئ ... ما پرېږده ... د خدای لپاره زه به خپلو پرهرونو ته یواځې ژاړم ـــ ته بیا مه راځه ...!! زېبو به نور هم څه وئیل ــ خو ګُرګُرې او مشال دواړو ترینه غېږې چاپېره کړې وې ــ ګُرګُرې خو بیا بیا ښکلوله د زېبو نه ډېر ګُرګُرې ژړل ــ!! ګوره !! زېبو ته ګرَمه نه یې ... خو زما څه ګناه وه ــ زه او ته خو دومره لویې هم نه وو ــ چې هرڅه شوي دي هر چا کړي دي د خپلو کړو سزا یې موندلې ده ـــ مونږ به دا

Downloaded from: ketabton.com



هرڅه هېر کړو ـــ د خپلو بچو د خاطره، د هغوي د خوشحالو د خاطره ـــ!! وختونه اوس ډېر بدل دي زېبو. . . ته د مشال سترګو ته وخت ودرولې يې او زه د سپوږمۍ خوشحالۍ ته ـــ راځه چې دا هرڅه هېر کړو ـــ دا وختونه . . . خپل کړو ـــ د تېرو وختونو د ماتم نه هيڅ هم نه جوړېږي زما خورې !! مونږ به بيا هاغسې ورې ماشومانې شو ـــ منډې به وهو ـــ!! اوس مو دا بچي مشران دي ـــ دا مو مور وپلار دي ـــ دا مو وختونه دي ـــ دا مو سبا دی ـــ او نن هم ـــ تېر وختونه نور نه يادوو ـــ د هاغه وختونو په سر به نن د نوي ژوند د خوشحالو لاسونه يو بل ته ورکړو ـــ ته بيا ګوره چې وختونه څنګه خاندي . . .!! زېبو خپلې سترګې اوچې کړې ـــ يوه شېبه يې د ګرګرې سينې ته خپل سر نزدې کړو ـــ خو بيا ډېر زر مشال هغه د دواړو متو نه ونيوه ـــ د هغې په سترګو کې يې وکتل ـــ او خپل سر يې د مور د مينې سينې ته ورجخت کړو ـــ وختونو لکه چې هم د ډېرو خوشحالو سره يو بل ته غاړه وکړې وي ـــ مشال ډېر خوشحاله وه ـــ ګرګرې بيا بيا ځانله رانزدې کولو ـــ ننګيال د زېبو په سر د هغې لويه لوپټه سمه کړه ـــ په سر يې ورته خپل دروند لاس کېښودو ـــ خو اوس زېبو يو احساس يو غم بيا زورله ـــ هغې بيا ژړل ـــ ما درته ونه وئيل چې نوره مه ژاړه ـــ ګرګرې بيا هغه دلاسه کوله ـــ!! او په دې کې کړپ شو ـــ وختونو لکه چې بيا يو اوږد چورلك وخوړو ـــ اقبال ټيټې سترګې سترې رانغوتې وه ـــ د زېبو سترګې د حېرانتيا نه وازې پاتې شوې ـــ ته ؟؟ او اوس يو ځل بيا د زېبو د سترګو نه د اوښکو رودونه روان شوي وو ـــ زېبو د اقبال د سينې سره خپل سر ايښی وه لکه چې خپل مخ او سترګې د دنيا نه پټوي ـــ وختونو ښه ژړل ـــ خپلوۍ بيا وموسېدې ـــ ژوند بيا په ګډا شو

Downloaded from: ketabton.com



ـــــ د راتلونکو خوشحالو لاره پرانستې شوه زيبو او ګُرګُرې په مينه يو بل ته غاړه ورکړې وه لکه دوه ترېې ارادې يو ځای ـــــ د ډېرې ورکې نه يو بل ته لاس د ډېرو وختونو پس راغلي وي ـــــ !! او چې زيبو د ګُرګُرې نه د سپوږمۍ او د مشال د واده نېټه غوښتله نو اقبال په خندا شو ـــــ زيبو وطن د پښتنو دی د دې لپاره به تول نن د ګُرګُرې خور کره خپله ورځو ـــ او د تولو په هيره خندا نوي وختونه په ګډا کړل ـــ

***

Downloaded from: ketabton.com



# مننه او کورودانې

د افغانستان ملي تحریک د هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (قطب الدین رویدار ) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوالې او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

Downloaded from: ketabton.com

## د ليکوالې چاپ شوي اثار

شپون، شپول، شپېلۍ (شعر)

خو ته خبرې کوه (شعر)

دا هم هاغسې موسم دی (شعر)

افضل افضل شوق (تنقيد)

له مانه مه بيلېږه (شعر)

نېمگړی کتاب (لنډې کيسې)

ملکه (ناول)

خپل اواز له تا نه اورم (شعر)

ته له ما څنگه يې جدا؟ (شعر)

### د چاپ لاندې اثار

وختونه (ناول)

د اوښکو مارغان (لنډې کيسې)

په لاره ځم ټوله ځنگېږم (يونليک)

### ناچاپه اثار

کله کله (شعر)

اوس بيا ځمه (د کابل يونليک



د خپرونو لړ: ۳۸

د افغانستان ملي تحريک

www.melitahrik.com

**Get More e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com - ebooks library**